# کلیوال ژوند

## د پردې تر شاه رازونه

ادبي کیسې



Ketabton.com

لیکوال: محمد نعیم وردک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کـــتـــاب نـــوم : | کلیوال ژوند ( د پردې تر شا رازونه ) |
| مـــضـــمـــون: | ادبي کیسې |
| لـــيـكـــــوال: | محمد نعیم وردګ |
| مخ پاڼه(فسبوک): | نعیم جان بوډا |
| انـــلاین چارې: | انجنیر صفت الله فضلي |
| کـــــــــال: | ۱۴۰۱ هـ.ش |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ـــــــ پیل ـــــــ

## { زنـــــچو }

زن چــو کلمــه مــې لــه ماشــومتوبه، وخــت ناوخــت ډېــره تــر غــوږو تېــره بېــره کېــده، ان دجومـــات پـــه تبـــۍ دســـپینږیرو لـــه خـــولې رانیـــولې، دځوانـــانو ترهجـــرو چـــې یـــو بــل تــه بــه یــې دبېغیرتــۍ دســمبول پــه حیــث کارولــه؛ حتــا دځینــو خبــرو، یــا د ځینو کارونو په کولو سره به مې انا په پلار پسې هم زن چو ناره کوله.

خــو بیــا هــم تــر ډېــره وختــه یــې پــوره پــه معنــا نــه پوهېــدم، صــرف دومــره اخــذ مــې تــرې کــوو، دچــا پــه بــاب بــه چــې زنچــو نــوم واخیســتل شــو، تــر پامــه بــه مــې یــو قســم بــې غیرتــه، یــا دځینــو پــه اصــطلاح دوس راغلــو، نــور بــه مــې چــې هــر وخــت دا ســړی لیــدو، دنمــوړي دمشــرۍ او شخصــیت پــه انــدازه خیــال بــه مــې نــه پــرې راتلــوو. څــه ســر مــو خــوړوم، دلــس یولســو کــالو پــه عمــر وم؛ چــې کشــر کاکــا تــه مــو واده وکــړو؛ کاکــا مــې هــم دخپلــې ښــځې ســره، داصــیلو غیرتــي پښــتانو مېــړو دمعیــار خــلاف یعنــي زنچــویی ژونــد پیــل کــړو، هــېڅ سیاســت یــې نــه ورســره ســاتلو، تــل بــه یــې ټــوکې ورســره کــولې، ســره خنــدل بــه یــې؛ هــر راز او مشــوره بــه یــې ورســره کولــه، د هــر قســم اشــتیباهاتو او وران کــارۍ پــه مقابــل کــې بــه یــې ښښــنه ورتــه کولــه، یــوه ورځ یــې لغــت نکــړه، نــه یــې یــوه څپړاخــه تــرې تېــره کــړه، بــرعکس لا بــه یــې د انــدک نــاروغۍ لــه وجــې ډاکتــر تــه روانــه کــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، څــه وخـــت بــه یــې چـــې زړه شـــو ، دپـــلار کـــره یـــې دتلـــو اجـــازه ورکولـــه او همداســـې دکـــور پـــه زنانـــه یـــې کـــارونو کـــې بـــه ورســـره مـــخ او اســـتر ؤ، لکـــه د اطـــاقونو جـــارو کـــول، لوښـــي مینځـــل، حتـــا یـــوه ورځ مـــې ولیـــدو ښـــځې یـــې خانـــه ټکاني کوله، ډوډۍ ده پخه کړه.

خلاصـــه د کاکـــا دې قســـم بېغیرتـــه سیاســـت غـــوره کولـــو مـــې عمـــه ګـــانو تـــه خونـــد نـــه ورکـــوو؛ اګـــر چـــې کاکـــا مخکـــې لـــه واده او وروســـته لـــه واده دخپـــل بهـــر کـــارونو ســـربېره دکـــور پـــه کـــارونو کـــې د عمـــه ګـــانو ســـره مـــې هـــم پـــوره مرســـته کولـــه؛ هـــر پســـرلی دخانـــه ټکـــانۍ پـــه وخـــت ســـیند کـــې دقـــالینو مینځـــل دکاکـــا پـــه غـــاړه وو؛ د درنـــدو کـــالیو؛ بســـترو؛ المـــاریو ایســـتل، ننســـتل او همداســـې دضرورت په وخت کې به کاکا دایم حاضر وو، څه غاړې بندې کړم.

خـــو دخپلـــې ښـــځې پـــه وړانـــدې یـــې دکاکـــا داســـې رویـــش تـــر مـــا، زمـــا تـــر مـــور، انا؛ خویندو، پورې چاته خوند نه ورکوو؛ خاصتاً عمه ګانو ته.

کاکـــا نـــه یـــوازې دا چـــې د ښـــځې ســـره همکـــاري کولـــه، بلکـــې یورانـــو، نـــدرورانو او یـــا هـــم د کـــور نـــورو فـــرد فـــرد غـــړو تـــه یـــې پـــه خـــاص درنـــاوي هـــم نـــه وه قایلـــه کـــړې، چـــې دا هـــم داصـــیل غیرتـــي مېـــړه مهمـــه ځانګېړنـــه وه؛ خـــو متصـــفانه زمـــا کاکـــا کـــې یـــې کمـــی وو؛ همـــدا کمـــی ســـبب شـــو پـــه کاکـــا د زنچـــو نـــوم ســـور شـــو، آشـــپزخانه کـــې هلتـــه او دلتـــه بـــه دښـــځو لـــه خـــوا ګـــپ پـــرې جـــوړ وو؛ پســـې خنـــدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـه یـې، کـه څـه هـم ظـاهراً ګـپ وو؛ خـو پـه عـین حـال کـې دکاکـا او ښـځه سـره یـې یــو قســم د ډېــر قــوي تضــاد بــوی هــم تــرې راتلــوو؛ امــا کاکــا تــر ډېــره ځــان نــه پوهــو؛ دښــځې ســربېره یــې دکــور دټولــو غــړو ســره دپخــوا پــه څېــر عــادي ژونــد او مینــه کولــه. خــو دا چــې پــه مقابــل لــوري کــې دپخــوا پــه شــان نــه جــذبې ده، کــرار کــرار یــې دکاکــا فکــري مســیر هــم بــدل کــړو؛ لــه دې وروســته دکــورنۍ دښــځو تــر مــنځ لــه زنچــو پرتــه دکاکــا بــل نــوم چــا نــه پېژنــدو؛ د زن چــو ښــځه؛ دزن چــو بــوټ، دزن چــو زوی، دزنچــو لــور؛ زن چــو راغلــو، زن چــو لاړو او همداسې.

لنــډه دا چــې، دې حالــت یــونیم، دوه کالــه نــور هــم دوم وکــړو، بلاخېــره کاکــا ببــل شــو، ځــان تــه ژونــد یــې ېبــل کــړو. لــه دې وروســته نــو دکــور ځــوان زه شــوم، پــه دې وخــت کــې بــه مــې کلــه کلــه د کــورنۍ لخــوا د واده خبــره هــم یــادې ده؛ خــو ددې خبــرې پــه یادېــدو ســره بــه زمــا پــه زړه کــې دخوشــحالۍ تــر څنــګ دا خبــره هــم تــاو شــوه؛ چــې زه بایــد ډېــر بیــدار وم؛ ترڅــو لکــه کاکــا زنچــو مــې نکــړي، هســې نــه پــه مــا بانــدې هــم د زن چــو نــوم ســور شــي، هــر ځــای دکــور دښــځو پــس پســک او خنــداګانې وي، کــور کــې زمــا هــم هــر څــه د زنچــو پــه نــوم یــادېږي، خلاصــه ورځ تــر بلــې دواده خبــره ګرمېــده، ان تــر دې چــې یــوه ورځ راغلــه، دا زېــری هــم رابانــدې وشــو، بــره کــلا کــې دســرمعلم فــاروق کشــره لــور (ښــاپېرۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې راته وکړه؛ ډېر خوشحاله شوم، واقعاً بې جوړې ښکلې، او باادب نجلۍ وه؛ ما لیسه کې لیدلې وه، زه چې له لیسې فارغېدم؛ دا لسم صنف کې وه. خو په هر حال چې خبره بل خوا لاړ نشي، راځم دکیسې دوام ته، نجلۍ یونیم کال نامزادې دپلار په کور کېناسته؛ پس له یونیم کال نه مو د واده مراسم ونیول، میلمانو ته د غرمې تر ډوډۍ ورکولو وروسته شپږ، اوه موټره نارینه او ښځې په ناوې پسې په ورا ورغلو، د ښاپیرۍ کورنۍ او دوستانو مو په خورا اخلاص میلمه پالنه وکړه، که څه هم ډوډۍ مو خوړلې وه، اما دوئ د دوهم ځل لپاره بیا راباندې وخوړه، چای مو وڅښو، ښې خوشحاله شیبې مو تېرې کړې، خو له بده مرغه دې اخیر کې چې د راوتلو په حال کې و، دروازې ته نژدې وم، خو لا راوتلی نه وم، چې تر شاه مې دخویندو او عمه ګانو دناوې دخویندو او کاکا د لورګانو سره جنګ شو، پوه نشوم چې جنګ په څه وو، خو چغ او پوغ یې ډېر جګ شو، شاوخوا خلک یې په بامو راودرول؛ بلاخېره دنرانو په ګواښېدو جنګ خلاص شو، ناوې مو راویستله موټرو کې راسواره شو؛ په لارو به دناوې دسلګیو غږ کله، کله لږ ډېر جګ شو، زموږ ښځو به پټکه پرې وکړه واپس به یې غلې کړه؛ بلاخیره خپل کورته راوسېدو؛ نور نو زما ټول تمرکز په دې وو؛ چې باید ډېر هوښیار اوسم، تر څو داسې کوم عمل سر رانه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهــي، چــې د زنځوګــانو لــور تــه مــې کــې کــارېږي او دا مــې هــم اورېــدلي و، چــې هــر وخــت بــه لــه اولــه قــدم پــوخ ایــږدې، کــه یــو ځــل ورخ ابــو درنــه یــوړو، بیــا یــې نشــې راټنګــولی، همــدا و، چــې دښــاپېرۍ پــه وړانــدې مــې ســر لــه لمــړۍ شــپې د چنګیــز پــه شــان خــورا بــې ترحمــه، تنــد او تــریخ دریــځ غــوره کــړو، کــه څــه هــم پورتــه مــې یادونــه کــړې ښــاپېرۍ پــه ښــکلا، حیــا، انســانیت کــې جــوړه نــه درلــوده؛ امــا دلتــه مــا پــه ټــول تــوان کوشــش کولــو چــې خپــل رښــتیني احساســات پــټ کــړم؛ د دروغجنــو حرکــاتو پــه مــټ ښــاپېرۍ تــه یــې ځــان زمــا لــه دیــدګاه هســې یــو پــه پــزو را بــار وښــیم؛ هــرې خبــرې تــه بــه مــې یــې رد او غــوانښ مــاتونکی جــواب ورکــوو؛ پــه عــین حــال کــې مــې لحظــه پــه لحظــه دا هڅــه هــم کولــه چــې د ښــاپېرۍ پــه وړانــدې لــه ترینګلــی جــدي سیاســته مــې دکــورنۍ نــور غــړي هــم خبــر شــي؛ تــر څــو چــې غیــرت او مېړانــه مــې وســتایي؛ نــو ځکــه مــې دهــر ځــل ښــاپېرۍ تهدیــدونکو، رټونکــو الفــاظو ســره غــبږ جګــه وو. ښــاپېرۍ هــم وخــت ناوخــت لــه هــرې موقــع نــه پــه اســتفاده کوښــښ کــوو؛ چــې وضــیعت مــې بــدل کــړي، پــه شــونډ مــې موســکا راولــي، خــو دا چــې زه لــه ماشــومتوبه د زنځــو نامــه نــه وېرېــدم، او دځــان تــرې ژغورلــو پــه لټــه کــې وم، ددغــې ســاعت او ورځې لپاره مې فلانونه جوړول؛ زړه کې مې وېل:

– فکر نه کړم چې د خوږ په شنه کانې دې اوبه زبېښلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه؛ نجلۍ تر کال يونيم کال پورې په دې هڅه کې وه؛ بلاخېره نامېده شوه، کرار کرار يې له دې هڅې لاس واخيستلو؛ په دې وخت کې نو زما او دې بچي سربېره يې د ټول کور خدمت هم ور په غاړه وو، د يورانو، ندرورانو لېورو او کلا د يوه ډله ماشومانو په نوکرۍ کې سر په تلاق اوښته، د کور د ښځو ورته جوړ کړي قانون له مخې په هرو څلورو مياشتو کې به يوځل د شپږو شپو لپاره د پلار کور ته تلله، خو دا شپږ شپې به يې هم په موږ تر شپږو مياشتو ډېرې وغمبېدې، نه به مو پاکې جامې وې، نه به لوښۍ لرګۍ په ځای وو، نه به ډوډۍ په وخت وه؛ ګيلاسونه به په برنډه رغړېدل، حتا دا شپږ ورځې به مو بستري هم شپه، ورځ هوارې پرتې وې، ماخوستن به پرې ننتلو، سهار به ترې جګېدو؛ شپږ شپې پس به چې ښاپيرۍ راغله، هر څه به سم شول، دکور نظام به دپخوا په څېر شو؛ دې او بچيانو به يې د پلار په کور کې څه نوې جامې هم پيداکړې وې؛ لنډه دا چې ښاپيرۍ شپږ کاله په پورتني چاوکاټ کې تېټه وچلېده، پس له شپږو کالونو يې يوقسم رواني تکليف پيداکړو او سر به يې رېږدېدو کله، کله به يې يو لاس او خوله هم کږېدل، خو بيا هم ښه وه، څه زما، څه د کور د نورو غړيو دفشار او تهديد په زور يې تر خپل مخکني مسوليته رسېدګي کوله، ان تر دې چې يو کال بل هم تېرشو، اګر چې يوځل يې د پلار کره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشــپو پــه وخــت کــې پــلار دوا هــم پــرې کــړې وه، خــو ښــه نشــوه مــرض يــې لا پســې زيــات شــو؛ نــور يــې نــو دکــور تــر ټولــو چــارو پخــوا غونــدې پــه وخــت او منظمــه رســيدګې نشــوای کــولی، کــه څــه هــم دتهديــداتو فشــار د مخکــې پــه پرتلــه څــو چنــده پــرې زيــات شــو؛ هــر چــا بــه دمکرجنــې ګيــدړې نــاره پســې کولــه، خــو ګيــدړې بيــا هغســې منــډه ونــه کــړه، حتــا لــه خپلــو ماشــومانو يــې هــم لاس واخيســتلو، ببــر ســرونه، خيــرن پيــرن بــه ګرځېــدل، کامــلاً يــې پــه وړانــدې تغيــر وکــړو، هغــه خبــرې تــرې ولاړې، څنګــه چــې مخکــې بــه يــې د کــور د نــورو کــارونو ســره ســره دخپلــو ماشــومانو نظافــت، تربيــه، او صــحت تــه پــام کــوو، لــه هــرې موقــع نــه پــه اســتفاده بــه يــې الــف، ب، ت... ورتــه ښــودل، ســپاره بــه يــې ورتــه وېلــه؛ يعنــي کــاملاً يــې رنــګ بــدل کــړو، مــوږ لــه هــرې لارې کوشــش کــوو، چــې ببرتــه يــې مخکنــي حالــت تــه وګرځــوو، يــوه بــه وېــل ډاکتــر تــه بــه يــې بوځــو، بــل بــه وېــل نــه مکــر کــوي ناروغــه نــه ده، چــا يــو څــه وېــل، چــا بــه بــل څــه؛ خــو تــر څــو چــې يــوې ټــول منــوونکې پرېکــړې تــه رســېدو ډېــرې شــپې ورځــې نــورې هــم تېــرې شــوې لا تېرېــدې، تــر دې چــې يــوه ورځ مــوږ ټــول پــه برنــډه ناســت وو، چــای مــو څښــلو، ګپــه مــو جــوړ وه، ښــاپېرۍ تــر برنــډه لانــدې د ونــې بــېخ کــې لوښــي مينځــل، يــو وخــت دلوښــو شــرنګو او پرونــګ جــګ شــو؛ چــې ور ومــو کتــل ښــاپېرۍ دلوښــو مــنځ کــې راړنګــه وه، ســر يــې ونــې تــه ورڅېرمــه؛ دغــوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبــو ډنــډ کــې ایښــی و. ورتــرف مــې کــړل؛ پــه غېــږ کــې مــې راواخیســته، پــه برنــډه مــې واچــوه، ختــې مــې یــې لــه مــخ نــه پــاکې کــړې، مــور مــې غــږ وکــړو: یخــې ابــوه پــرې واچــوئ، ضــعف یــې کــړی، ښــه کېــږي! دمــور د امــر ســره ســم ځــو کــوزې اوبــه مــو پــرې واچــوې، لنــده خوشــته مــو کــړه، خــو راپــه حالــ نشــو، لا یــې پــه خولــه ســپین کــپ ودربــدو، رنــګ یــې تــور او شــین کېــدو؛ بلــه چــاره نــه وه، زمــوږ ګونــډي ډاکتــر ادریــس تــه مــې زنــګ ووهلــو؛ خیــر د یوســي ډاکتــر پــه منډه ځان راورسوو؛ چې ښاپېرۍ یې ولېده وېل یې:

– وضــعیت یــې ښــه نــه دی، عاجــل یــې یــوې مجهــزې شــېفاخانې تــه ورســوئ؛ مبایــل مــې تیــار لاس کــې وو؛ د داود اســتاذ نمبــر مــې اوکــې کــړه؛ موضــع مــې ورســره شــریکه کــړه؛ کــور یــې ودان پنځــه دقیقــې نــه وې وتلــې چــې لــه مــوټر ســره یــې راورســېدو؛ زر، زر یــې چــوکۍ چپــه کــړې، مــا تــر ښــاپېرۍ غېــږ لانــدې کــړه موټر ته مې دننه کړه،

د زنانــه پــایوازې لپــاره مــې دکاکــا ښــځې تــه غــږ وکــړو؛ دکاکــا ښــځه لــه یــوې خــوا دشــېفاخانو پــه قــانون او رواج پوهېــده؛ بــل خــوا یــې کــابلۍ ژبــه فارســي زده وه. اګــر چــې ماســره ببخــي نــه وه جــوړه، مګــر ښــاپېرۍ ډېــره پــه ګرانــه وه؛ ډاډه وم چې راسره ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمـړي سـر کـې يـې چـې کيسـه ذکـر شـوه، دا مــې دهمغـه زنچـو کاکـا ښــځه وه؛ مـا بـه کاکـا نـاوې ورتـه وېـل. خـو پـه هـر حـال راځـم خپلـې خبـرې تـه؛ مـوټر حرکـت وکـړو، کاکـا نـاوې دښـاپرۍ سـر پـه خپـل زنگانـه تکيـه کـړو، زه يـې هـم تـر څنـگ ناسـت وم؛ تـر دښـتې ټـوپ تېـر شـو، دورانـي تـه نارسـيده مـوټر جمـف وکـړو؛ دښـاپېرۍ لـه سـره تـاو ټيکـرى وښـويدو؛ پـه ککـره کـې يـې ديـوې روپـۍ پـه انـدازه يـا څـه زيـات دسـر سـپين پوسـت ښـکاره شـو، ويښـته تـرې ختلـي وو؛ کاکا ناوې ماته وکتل ووېل:

- دا کار ستا دى؟

ومې وېل:

- نـه، خـدايزده چـا پـرې شـکولي؛ دکاکـا ښـځې خپـل پلـو ور پورتـه کـړو؛ اوښکې يې پاکې کړې، نور يې غږ ونکړو.

لنـډه دا چـې سـاعت، نـيم سـاعت وروسـته کابـل تـه ورسـېدو؛ د دارلمـان پـه سـرک پراتـه د اسـتقلال روغتـون عاجـل شـبهې تـه مـو ور دننـه کـړه، ډاکترانـو عاجـل خپلـې څېړنـې پيـل کـړې؛ يـوې ډاکتـرې چـې اوکسـيجن ورتـه بسـته کول، کاکا ناوې ته مې يې مخ ور واړوه کړل يې:

- مور دې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکا ناوې په ډکو سترګو، ورغبرګه کړه:

– نه بېچاره مې دلور په ځای ده، هسې مې مور غوندې ښکاري.

تر اوکسجن او سيروم بسته کېدو وروسته سرطبيب ووېل:

– ترڅـو دمعاينـاتو نتيجـه راځـي مـريض مـو دعاجـل بسـتر پـنځم اطـاق تـه يوسـوئ، د ډاکتـر د امـر مطـابق پـنځم اطـاق تـه ولاړو؛ ښـاپېرۍ مـو لـه تـذکرۍ نـه چپرکـټ تـه پورتـه کـړه، مـا دچفرکـټ لـه يـوې، کاکـا نـاوې لـه بلـې خـوا دښـاپېرۍ تـر څنـګ لـږ لـږ ځانونـه ورتکيـه کـړل، ښـاپېرۍ لا همغسـې بـې حالـه پرتـه وه، پـه تنـدي يـې څـاڅکي څـاڅکي خـولې ولاړې وې، کاکـا نـاوې خپـل دسـکول تـه لاس کـړو، کاغـذي دسـمال يـې راوښـکو، دښـاپېرۍ خـولې يـې پـرې وچـې کـړې، تقريبـاً يـونيم سـاعت ووتـو؛ ماښـام وو؛ غوښـتل مـې بهـر چېرتـه لمـونځ وکـړم؛ چـې راجـګ شـوم پـه وره کـې ډاکتـر پـه مخـه راغلـو دری څلور ورقې کاغذ؛ يو دکېږۍ عکس يې لاس کې وو؛ وېل يې:

– دښاپېرۍ پايواز يې؟

زر مې ووېل:

– هو

راغبرګه يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پــه خواشــنۍ ســره مــریض مــو جګرخــون شــوی عصــبي ســقطه یــې کــړې، دعلاج وړ نه دی، خو ترڅو چې ساه پکې شته همدلته دې وي.

خــدای ج شــته د ډکتــر خبــرو ســخت بــد تــاثیر رابانــدې وکــړو، واپــس راتــاو شــوم، چــې کتــل مــې دکاکــا ښــځې خپــل اننګــی دښــاپیرۍ پــه اننګــي ایښــی وو، ژړا یې ستوني کې بنده کړې وه، غتې غتې سلګۍ یې کولې،

زما په لیدو یې سر راپورته کړو، وویل:

- اوس دې زړه ښه شو؟ په خویندو او عمه ګانو دې هم زیری وکړه!

غــږ مــې ونــه کــړو، پټــه خولــه لــه اطاقــه تــرې راووتلــم؛ کــور تــه مــې زنــګ وکــړ؛ د ډاکتــر خبــره مــې ورتــه وکــړه؛ تــر څــو دجنــازې تیــاري ونیســي، خلاصــه همغــه د ډاکتــر خبــره شــوه؛ دشــپې تــر یولســو بجــو ژونــدۍ وه، پــه یولســو بجــو یــې درې څلــور ســلګۍ وکــړې، ښــاپیرۍ ختمــه شــوه، لنــډه بــه یــې وایــم، ســهار وختــي مــو جنــازه دکــور پــه لــوري بــار کــړه؛ ترڅــو رســېدلو دجنــازې ټــول ترتیبــات نیــول شــوي وو؛ دښــاپیرۍ پلارګنــۍ هــم رارســېدلې وه، بلاخبــره جنــازه وشــوه، دښــاپیرۍ جســد مــو یــې خپلــې پلارګنــۍ تــه تسـلیم کــړو، مــوټر پــه روانېــدو وو؛ پــه جنــازه پســې راغلــې ښــځې زمــوږ لــه دروازې وتلــې ژړل یــې، دښــاپیرۍ مور غږ پرې وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مه ژاړئ شکر چې ددې دوزخ نه مې کلمې راتېولې شوې.

دښځو د ژړا غږ لا جګ شو، په ژړا ژړا موټر ته وختې ولاړې.

زمــوږ مېلمانــه هــم کــرار کــرار ولاړل، تــر یــوې هفتــې مــې دومــره پــام نــه وو. پــس لــه یــوې هفتــې مــې ورځ تــر بلــې زیــات د ښــاپېرۍ کمــی احساســه وو، د زمــان پــه تېرېــدو ســره، هغــه دکــورنۍ نجینــې چــې ښــاپېرۍ مــې تــرې قربــان کــړه، ځینــې یــې واده شــوې خپــل خــواږه ژوندونــه یــې پیــل کــړل؛ څــه یــې چــې پــاتې وې، هغــو پــه مــخ بــل پوســت هــوار کــړو، دښــاپېرۍ د وخــت اخــلاق او نزاکــت یــې پــاتې نــه شــو، حتــا تــر دې چــې د (شــیرین آغــا) پــه ځــای بــه یــې (شــین آغــا) غــږ راپســې کولــو؛ بلاخیــره خبــره ان تــر دې راورســېده چــې د مهمانخــانې تــر څنــګ یــونیم اطــاق تــه یــې د خپلــو وړو یتیمــانو ســره را بیــل کــړم، اتــې مــې بلکــل چــا پــه طــرف هــم نــه راکتــل، هــر څــه یــې راپرېښــودل، دځــان ســربېره، د واړو بچیــانو خدمت مې په خپله غاړه شو، دسرګرولو ته نه وم وزګار.

تاســو بــاور وکــړئ، هغــه بوټــان مــې چــې ښــاپېرۍ بــه پــه هــرو دوه دری ورځــو کــې یــو ځــل رنګــول، نــیم، نــیم مــن خــاورې مــې پکــې کشــکولې؛ دجــامو وطــو خــو مــې لــه ســره نــه پېژنــدو، هغــه بچیــانو مــې چــې ســپېږې وکــړې؛ او همداســې ډېــرې نــورې کیســې چــې دلتــه یــې یــادول مناســب نــه ګــڼم شــرم دی، تیــره بــه پــرې کېــږدو. خــو صــحیح عقــل مــې هغــه ورځ ســر تــه راغلــو چــې حــاویلۍ مــنځ کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناســـت وم، د زوی لـــه مـــرداری ډک پـــارتوګ مـــې مینځلـــو ، هـــاخوا کرکـــۍ تـــه مـــې چې پام شو ، د کلا ښځې له خندا راته شنه تبۍ وې.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { په نشه کې تېښه }

یــوې نجلــۍ تــه مــې ســترګک ووهلــو، البتــه پــه داســې حالــ کــې چــې دځینــو نــورو ورځــو پــه شــان دا ځــل هــم لــه دنــدې وختــي کــور تــه راغلــم، خپــل کــورنی مــوټر کــرولا مــې د ټکســي پــه حســاب، ښــار تــه د چلولــو لپــاره ویســتلو، پــه لمــړي قــدم کــې مــې لــه خپلــې اســتادګاه (کارتــه ســخي) لــه چــاراهي یــو دربــس پورتــه کــړو، د دارلامــان پــه ســمه کــې د کیــور روغتــون پــه مخکــې مــې ښــکته کــړو، ددې تــر ښــکته کولــو وروســته مــې د بــل دربــس منــدلو پــه پــار مــوټر د همــدې روغتــون تــر مــخ د ســرک پــه څنــډه ودرولــو، لــه مــوټر نــه ښــکته شــوم، څــو لحظــې یــې تــر څنــګ ولاړ وم، واپــس د مــوټر پــه ســیټ کــې کیناســتم، شیشــه مــې ټیټــه کــړه، څــه وخــت وروســته مــې هــاخوا د روغتــون د دروازې تــر څنــګ دېوالــ تــه د پنــډو ناســتو ښــځو او نــرو مینــځ کــې یــوې ډېــرې ښــکلې نجلــۍ تــه پــام شــو، چــې ســترګې یــې راکــې خښــې کــړې وې، کــه څــه هــم تــور عربــي حجــاب یــې کــړی و، ســر تــر پایــه ټولــه پکــې پټــه وه، یــوازې دوې ســترګې یــې ښــکارېدې، خــو یــوازې همــدې دوه غټــو غټــو، تــور او ســپینو پــاکو بــاڼورو ســترګو یــې د ټــول بــدن د خــورا ښــکلا نماینــه ګــي کولــه، دبلګــې پــه بڼــه، د ډاکتــر نجیــب الله د واکمــۍ پــه محالــ مــو کــه کومــه مســتنده ویــدیو کــې د میــرمن ښــاپیرۍ نغمــې ســترګې لیــدلې وي؟ یعنــي هغــه وخــت چــې پــه جــوش د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځــوانۍ کــې وه، ممکــن دا یــې څــه ناڅــه پــه ځــای تشــبه وي، خــو پــه هــر حالــ، تــر ډېــره مــې ځــان نــه پــرې پوهولــو، صــرف دســترګو تــر کونجــو مــې څارلــه، نجلــۍ هــېڅ بلخــوا ســترګې نــه اړولــې، د څــه وخــت تــر تېرېــدو وروســته راجګــه شــوه، ماتــه پــه کتــو، کتــو، نــژدې مــې تــر څنــګ تیــره شــوه، وړانــدې لــه یــوې کراچــۍ نــه یــې د لســو کــه پنځــو روپیــو څــه شــی راواخیســتل، واپــس راوګرځېــده، بیــا هــم پــه مــا دنظــر ســاتلو ســره مــې تــر څنــګ تېــره شــوه، پــه همغــه خپــل ځــای یــې کیناســته، خــو لا یــې هــم د یــوې ثانیــه لپــاره ســترګې بلخــوا نــه رانــه اړولــې، کــرار کــرار یــې زمــا وینــه هــم ګرمــه کــړه، بلاخیــره مــخ مــې وروا ړو نیــغ پــه نیــغ مــې ســترګې ورســره وجنګــولې، نجلــۍ زر ښــکته وکتــل، د خلــي پــه وســیله یــې د ځمکــې پــه ټومبلــو ځــان مصــروف کــړو، نــور دې د ســترګو تــر کونجــو څــارلم، تــر څــو چــې مــا ورتــه کتــل، دې ســترګې نــه را اړولــې، کلــه بــه چــې زمــا پــام بــل خــوا شــو، دې بــه بیــا تــر نظــر لانــدې ونیــولم، چــې بیــا بــه مــې وروکتــل، دتیــر ځــل پــه شــان بــه یــې بیــا هــم ځــان هــاخوا دېخــوا غلــط کــړو، چــې ګویــا زمــا خــو تاتــه هــېڅ پــام هــم نــه دی، لــه دې وروســته بیخــي ښــکاري شــوه، مابــه چــې مــزې لــږ ټکــان هــم وخوړلــو، دې بــه زر خپلــې ســترګې بلــې خواتــه واړولــې، تــر څــو زه یــې ونــه وینــم چــې ماتــه یــې کتــل، بــل ځــل مــا هــم لــه چــل نــه کــار ورتــه واخیســتلو، تــر ډېــره مــې خوشــې کــړه، هــېڅ ځــان مــې نــه پــرې پوهولــو، خــو د مخکــې ولاړ بــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــوټر پــه شيشــه کــې مــې تــر تقيــب لانــدې وه، کلــه چــې ښــه راکــې غرقــه شــوه، زر مــې مــخ ورواړو د ســترګې پــه ســترګې ورلګېــدو ســره ســم مــې يــو ښــه کلــک ســترګک ورتــه ووهلــو، خــو دا ځــل ســره د ســترګکه نجلــۍ هــېڅ ســترګې بلخــوا وانــه ړولــې، تــر ډېــره يــې ســترګې زمــا پــه ســترګو کــې پــاتې وې، حيــران يــې راتــه کتــل، ډېــر وروســته يــې خپــل نظــر ورټــول کــړو، هــاخوا د ماشــومانو د لوبــو پــه لــور يــې ســترګې واړولــې، مــا لا هــم تقيبولــه چــې بيــا هــم راګــوري يــا کــوم بــل عکســل عمــل ښــئي، کنــه؟ پــه همــدې جريــان کــې دروغتــون دروازه خلاصــه شــوه، روغتــون ســاتونکي خلکــو تــه د روغتــون داخــل تــه د ننوتلــو اجــازه ورکــړه، ډلــه نــر او ښــځې پــرې ور روان شــول، نمــوړې نجلــۍ لــه ګڼــې ګــونې لــږ راګوښــه شــوه، د يــوې شــيبې لپــاره يــې دېخــوا پښــه نيــولې وه، ټــول خلــک يــې تــر مــخ کــړل، دا لــه اخيــره پســې شــوه، پــه دې ســره ماتــه هــم ښــه موقــع پــه لاس راغلــه، دروازې تــه نارســيده، چــې غالبــاً لــه مانــه د دونــيم، درى متــرو پــه انــدازه لــرې وه، لــه شــانه مــې غــاړه پســې تــازه کــړه، پرلــه پســې مــې بــل ټــوخى پســې وکــړو، نجلــۍ مــخ راواړو زمــا پــه خــوا راروانــه شــوه، ښــه نــژدې راغلــه تقريبــاً د نــيم متــر فاصــلې پــه لرلــو ســره، پــه داســې حــال کــې چــې زه تــر جويچــه دېخــوا د ســرک پــه څنــډه د مــوټر پــه ســيټ کــې ناســت وم، دا هــاخوا پيــاده رو کــې مخــامخ راتــه ودرېــده، ښــه پــه جــرات او حوصــيله يــې کــړل: قربــان دې شــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـا ورور يـې ولاړ شـه خپـل کـار دې وکـړه، فکـر کـړم زمـا لـه درتـه کتلـو دې غلـط برداشـت وکـړو، خـو داسـې نـه ده، تاتـه پـه کتلـو ځکـه سـترګو واکـه رانـه واخيسـتو، تېـر کـال همـدا شـپې ورځـې مـې کـټ مـټ، سـتا پـه قـد، سـتا پـه رنـګ روغـن، سـتا پـه څيـره يـو ورور شـهيد شـو، همـدا يـو ورور مـې لـرو، نـورې يـې سـترګې لـه اوښـکو راډکـې شـوې، ژړا پـرې زور شـوه، خبـرې تـرې ولاړې، د حجـاب پيغلکـه يـې وريپورتـه کـړه، تختـه يـې سـترګو تـه ونيولـه، يـوه شـيبه ځـای پـه ځـای ولاړه وه، غتـې غتـې سـلګۍ يـې وهلـې، کـه څـه هـم ښـنه مـې هـم تـرې وغوښـتله، خـو خـدايزده سـتونی يـې سـلګيو بنـد کـړی و، کـه وايـې نـه وربـدل؟ غـږ يـې ونکـړو، بلاخيـره پـه همـدې سـلګيو سـلګيو کـې يـې مـخ رانـه واړو روانـه شـوه، چـې واقعـت شـي زه يـې هـم ډېـر سـخت بـې خونـده کـړم، هـېڅ ځمکـې ځـای نـه راکولـو، سـربيره ددې چـې لـه نجلـۍ سـره د مصـروفيت پـه جريـان کـې مـې د مـوټر د خرابـۍ پـه بهانـه دوه دری دربسـه هـم ځـواب کـړي و، خـو لـه دې وروسـته هـم نـور کـار خونـد نـه راکولـو، اتـي لـه هـر څـه تېـر شـوم، مـوټر مـې راوګرځولـو، پښـه مـې پـرې ټينګـه کـړه، پـه يـوه ټـاپ کـې د دارالمـان لـه سـاحې راووتلـم، مسـتقيماً کـور تـه راغلـم، څـه مـې پـه نجلـۍ زړه بـد و، څـه مـې د خپلـو هېوادوالـو خوينـدو مينـدو پـه وړانـدې داسـې پسـت او بـی غيرتـه چلنـد اختيـارولو بانـدې خجالـت وم، ځـان مـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــورا چيتهــي انســانانو لــه جملــې محسوســولو ، تــر ډېــره وختــه مــې د خــولې خوند داسې خراب و ، لکه د ټولې دنيا مرداري مې چې....

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { ناروغ دې حمل لري }

پــس لـــه دوه نيمـــو کـــالونو د ســـعودي عربســـتان لـــه ســـتړې او ســـختې مـــزودۍ کـــور تـــه راغلـــم، ولـــې څنګـــه مـــې چـــې طمعـــه لرلـــه، دکـــورنۍ لـــه خـــوا مـــې هســـې هرکلـــی ونـــه شـــو، د هيچـــا پـــه خولـــه موســـکا او څېـــره کـــې مـــې خوشـــحالي ونـــه ليـــده، د مجبـــورۍ لـــه مخـــې صـــرف هغـــه ســـتړي مشـــي او ځينـــو يـــې پـــه لنـــډو کـــې وړپســـې دوهمـــه دوديـــزه د حـــال احوالـــ پوښـــتنه هـــم وکـــړه، نـــور يـــو قســـم خاموشـــه خاموشـــي کـــور کـــې خـــوره وه، څـــه پيســـې او تـــوحفې مـــې چـــې راوړې وې، هـــم خـــاص اســـتقبال يـــې ونشـــو، بلخـــوا مـــې ميـــرمن ( هـــوا ) هـــم ډېـــره ســـخته ناروغـــه وه، کېـــډه يـــې پړســـېدلي و، پښـــو کـــې يـــې هـــم لـــړ، لـــړ پړســـوب ښـــکارېدو، وضـــعيت يـــې پـــوره خـــراب و، امـــا زه پـــه ټـــول کـــې د کـــور عمـــومي اوضـــا تـــه فکـــر وړی وم، کلـــه بـــه مـــې پـــه ځـــان شـــک شـــو، چـــې ګويـــا مـــا خـــو بـــه هـــم داســـې کـــوم عمـــل نـــه وي کـــړی؟ ترڅـــو کـــورنۍ مـــې لـــه مـــا خپـــه وي، يـــا بـــه مـــې زړه کـــې راتېـــره شـــوه، هســـې نـــه نـــژدې دوســـتانو کـــې څـــوک مـــړه وي، لـــه مـــا بـــه خبـــره پټـــه وي، هـــوا مـــې ډېـــره وپوښـــتله هـــېڅ راز يـــې پـــه لاس رانـــه کـــړو، اصـــلاً د نـــاروغۍ لـــه وجـــې يـــې خبـــرې نشـــوی کـــولی، خـــو عـــين حـــال کـــې دومـــره ناروغـــه هـــم نـــه راتـــه ښـــکارېده، داســـې شـــک کېـــدو، لکـــه لـــه مـــا چـــې څـــه پټـــوي، يـــا کلکـــه رانـــه مـــروره وي، لنـــډه دا چـــې تـــر يـــوې شـــپې زيـــات مـــې دا وضـــعيت ونشـــوی زغملـــی، جـــګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــوم د کــورنۍ ددې خاموشــۍ او خفګــان د علــت پوښــتلو او یــو ښــه ډاکتــر تــه د هــوا د بولــو د مشــورې پــه پــار مــې دمــور څنــګ تــه ورغلــم، دې تــه مخــامخ پوشــتۍ تــه کیناســتم، مــور مــې لــه خپلــې مخــې نــه د منهــو قــاب راوښــویو، کــړل یــې: منهــه پوچــه کــړه، یــوه مــې تــرې راپورتــه کــړه! د منهــې خوړلــو پــه محالــل مــې ورته کړل:

- مــورې! ددې کــور اوضــاء بېخــي تغیــر کــړی، د هــر یــوه پــه څېــره او ســترګو کــې خــورا خفګــان او مایوســي ښــکاري، خیــرت خــو دی؟ پــه دې ســره مــې د مــور رنــګ تــور او شــین شــو، څــو لحظــې ســاه نیــولې وه، بلاخیــره زمــا نــه د پــټ کــړي، ډک زړه بــړاس تــه یــې مخــه ورکــړه، پــه چیغــو چیغــو ژړا یــې پیــل وکــړو، لپه لپه اوښکې یې یخن ته راتوېدې، همدې چیغو او ژړا کې یې کړل:

- افــرین پــه مــوږ کــې چــې تــر اوســه ژونــدي یــو، ولــې خریمــې دې څــه درتــه ونــه وېل؟ واپس یې په خپل ځواب کې کړل:

- نــه چیــرې وایــي، هغــو بــه تاتــه هــم لــه شــرمه ځــان پــه مکــر او مریضــۍ وهلــی وي؟ پســې زیاتــه یــې کــړه: د پــلار او نیکــه درنــه دروازه یــې دې پــه غولــو ولړلــه، دوســت او دښــمن تــه یــې ســپک او ســپاند کــړو، بیــا یــې آســمان طــرف تــه د لاســونو پــه لپــه کولــو ســره کــړل: یــا الله ج اســمان راوارتیــږې، نــور ژونــد نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــوارو، پــه کومــو ســترګو بــه پــه دې کلــي کــور کــې ژونــد کــوو، پــه کومــو سترګو به خلکو ته ګورو...

زه هيــران ورتــه ناســت وم، همــدې وخــت کــې مــې کشــر ورور جمــال د مــور چيغــې او فريــاد اورېــدلی و، اتــاق تــه يــې ســر رادننــه کــړو، مــور تــه يــې کــړل: بس کړه مورې ډېره مه ژاړه فشار دې جګېږي، بيا يې ماته مخ راوړو:

- لالکــه! تــه راځــه بېــرون تــه، مــور پرېــږده چــې ببګــاه يــې هــم فشــار ډېــر لــوړ و. پســې ورجــګ شــوم، مخــامخ اتــاق تــه ننوتلــو، مخکــې تــر کيناســتلو مــې ورتــه کړل:

- و وروره! دا څه کيسه ده؟

جمال کړل:

- مــا کــور کــې وېلــي و، چــې دوې درې شــپې لالــک تــه مــه وايئ، ترڅــو لــږ دمــه يــې جــوړه شــي، ولــې دا چــې تاســو يــې ســر راپورتــه کــړی، کــه رښــتيا شــي د پټېــدو هــم نــه ده، لــه تېــرو دوه مياشــتو راپــه دې خــوا دې د ښــځې ( هــوا ) ټيمنــګ بــدل شــوي و، ټولــه ورځ بــه پــه خپــل اتــاق ننــوتلې وه، نــه د کــور پــه کيســه کــې وه، نــه د ژونــد، حتــا ډوډۍ تــه بــه هــم نــه راتللــه، چــې څــوک بــه مــې ورولېــږل، بهانــه بــه يــې ورتــه وکــړه، چــې زه مريضــه يــم، نــه يــې خــورم، نــور بــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــې غــږ ونکــړو، زړه کــې مــې وېــل: ځــه خيــر چــې وږې شــي، هغــه آشــپزخانه ده، وبــه يــې خــوري، شــپې ورځــې وې همدا ســې تېرېــدې، ان تــر دې چــې ســتا لــه راتلــو نــه څــو ورځــې مخکــې مــې يــوه هندوانــه راوړه، پتنــوس کــې مــې ټــوټې کــړه، خديجــه مــې ورولېږلــه مــور تــه يــې هــم غــږ وروکــړو، دې تــه هــم ورغلــه ترڅــو راشــي هندوانــه وخــوري، خديجــه واپــس زر تــرې راغلــه پــه ورخطــايي ســره يــې وېــل: وريــنــداري ژړل وېــل يــې ګېــډه مــې خــوږېږي، پړســوب يــې هــم پيــداکړی، د هنــدوانې يــوه ټوټــه مــې نيمــه لاس کــې وه، نيمــه خولــه کــې، د خــولې مــې تېــره کــړه، د لاس مــې ببرتــه پتناســه کــې وچولــه، ســم د لاســه راجــګ شــوم، مــور تــه مــې کــړل: ځانونــه مــو تيــار کــړئ، ترڅــو ډاکتــر تــه ولاړ شــو، پــه منــډه مــې مــوټر راوســتلو د جــانيخيلو کلنيــک تــه د رســېدو ســره ســم مــې ډاکتــر مرتضــا راپيــداکړو، بــې نمبــره يــې ننيســتلو، معاينــه خانــه کــې درئ، څلــور ډاکتــران و، لمــړی يــې تبــه او فشــار وکتــل، بيــا يــې د وينــې او تلــويزوني معاينــاتو پــارچې راکــړې، د وينــې نتجــه لا نــه وه راوتلــې، يــوازې د تلــويزوني معاينــاتو نتجــه مــې ډاکتــر تــه راوړه، تــر کتلــو وروســته يــې کــړل: نــاروغ مــو حمــل لــري، ډېــرې ښــځې د حمــل پــه څلورمــه، پنځمــه مياشــت دا ډول دردونــه تجروبه کوي، دوا درته ليکم، ددې سره ښه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبـره نـه وه، ماوېـل چـې بـرق ونیـولم، تـر سـترګو مـې اوه رنګـه سـپرغي بـاد شـول، نـور نـه پـه دوا پسـې وګرځېـدو، نـه ډاکتـر پسـې، يـو قسـم دېوالـ پـه دېوالـ لـه کلینـک نـه راووتلـم، ډرېـور تـه مـې غـږ وکـړو، مـوټر يـې راچالانـد کـړو، دا لا هنـوز هـم چونګېـده نازونـه او د سـختو ناروغـانو تمثيـل يـې کولـو، فقـط سـیټ تـه مـې ورټيلـه کـړه، پـه مخـه راغلـو، لـه همغـې ورځـې مـو پـه کـور مـاتم جـوړ دی، نـه د چـا ډوډۍ زړه تـه کېـږي، نـه د چـا پـه شـونډو يـوه خبـره راځـي، نـه مـو لـه کـور وتلـو تـه زړه کېـږي، داسـې انګيـرو لکـه ټـول خلـک چـې زمـوږ دروازې تـه پـه مـوږ پـورې د خنـدلو لپـاره راټـول وي، چکـې وهـي، کـه څـه هـم تـر اوسـه بهـر نـور څـوک نـه دي خبـر، صـرف کلينيـک کـې نـور ډاکټـران خـو خیـر مـوږ نـه پېژنـي، نـه پـوه شـول چـې دا حمـل يـې لـه چانـه اخيسـتی؟ يـوازنی کـس چـې مـوږ او تاسـو ښـه پـه رسـميت پېژنـي او لـه دې پېښـې خبـر شـو، هغـه ډاکتـر مرتضـا دی، کـه نـور هـېڅ نـه وي، خپلـې ښـځې تـه خـو يـې هـرو مـرو وايـي، ښـځه يـې چـې خبـره شـوه، هغـه سـبا لسـو نـورو ښـځو تـه وايـي، مياشـت کـې ټـول ولـس خبرېـږي، چـې بېخـي خبـر هـم نشـي، زه فکـر نکـړم د چـا وجـدان يـې دې ومنـي، ترڅـو دداسـې خريمـه پـه وړانـدې دې چوپـه خولـه پـاتې شـي، پـه بسـته حرامـوني يـې دې سـترګې پټـې کـړي؟ دا چـې سـتا د راتلـو غـږ و او سـتا ښـځه ده، مـوږ هـم سـتا راتلـو تـه منتظـر شـو، نـور تـه پـوهېږې او کـار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې، پــه همــدې حالــ يــې زغمــې؟ طــلاق ورکــوي، دپــلار کــره يــې ورشــړې؟ او کــه ماتــه اختيــار راکــوې چــې دبــرش مرمــۍ يــې ترســينه وباســم؟ ترڅــو د کــورنۍ نــام، ننګ، نبسان مـو هـم پـه خپـل ځـاى پـاتې شـي، مـوږ هـم پـه هـر مجلـس کـې، سـر ټيټـې نـه اوسـو، لکـه ومـو چـې کـړو، پـاتې ژونـد هـم همداسـې د نـر پـه شـان وکړو، حتا آينده نسل ښځې مو هم درس ترې واخلي!

يــو ناڅاپــه د ورور لــه خــولې دداســې عجــايبو اورېــدلو پــه ځــواب کــې حيــران بريـان پـاتې شـوم، پـه ټـول بـدن مـې لکـه مېږيـان چـې ګرځـي، غوږونـو کـې مـې پـه تکـراري بڼـه يـو قسـم کړنـګ، کړنـګ آوازونـه کېـدل، نـور مـې هـم وضـعيت خــورا غيــرې نرمالــ لــوري تــه ولاړو، پــه عينــي وخــت کــې جمالــ د ځــواب رانــه اورېــدو پــه پــار دوې ســترګې خــولې تــه رانيــولې وې، خــو زه ونــه توانيــدم، چــې دده دهيلــې ســره ســم زر ځــواب ورکــړم او يــا هــم ســم د لاســه د يــادو کــړو دريــو نســخو نــه يــې يــوه ورتــه انتخــاب کــړم، تــر ډېــره همداســې خــاموش او فکــر کولــو کــې پــاتې شــوم، دلتــه زمــا د ورخطــايۍ، غوســه او غيــرې نرمالــ وضــعيت نــه، شــيطان تــه هــم موقــع پــه لاس ورغلــه، د پراخــه او ســالم فکــر کولــو پــه ځــاى مــې يــې فکــري مســير د هــوا پــه وړانــدې منفــي خطســير تــه برابــر کــړو، زړه کــې يــې راوچــول: افســوز پــه مــا څــومره ګرانــه وه؟ څــومره بــاور مــې پــرې لرلــو؟ ترڅــو بــه مــې چــې اول دې تــه وانخيســتل ځــان تــه مــې هــېڅ شــى نــه اخيســتل، د عربــو پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــکلو او ځوانـــو ښـــځو، نجینـــو پســـې بـــه مـــې ددې لپـــاره کتـــل، چـــې پـــه تـــن ښایســـته جـــامې، بـــوټ، څپلـــۍ، ســـاعت، د ســـکول.... یـــې صـــحیح کـــړم، ترڅـــو د تللـــو پـــه وخـــت یـــې هـــوا تـــه هـــم واخلـــم، مګـــر دا دومـــره کمصـــله وختلـــه، چـــې نـــه یـــې زمـــا کـــورنۍ او دروازې تـــه وکتـــل، نـــه یـــې خپـــل درانـــه مـــور، پـــلار همدارنګـــه تـــل تـــر تلـــه درنـــې، بـــاعزت کـــورنۍ تـــه وکتـــل او نـــه یـــې هـــم پخپلـــه پـــه مـــا زړه وســـوځېدو، چـــې د عربـــو پـــه ســـختو ســـرو ګرمیـــو کـــې مـــې ددې لپـــاره د ښـــه ژونـــد او ښـــه راتلـــونکې جوړولـــو پـــه پـــار شـــپه، ورځ پـــه ځـــان یـــو کـــړي وه، لـــه ســـهار نـــه تـــر بېګـــا مـــې درنـــې، درنـــې مـــزدورۍ کـــولې، همداســـې پرلـــه پســـې مـــې یـــې پـــه وړانـــدې د نفـــرت او کرکـــې وسوســـې پـــه زړه راوربـــدې، د عصـــبانیت لـــور تـــه تللـــم، همـــدا و، چـــې تـــر یـــوې ښـــې شـــیبې چـــوف پـــاتې کېـــدو وروســـته مـــې د جمال په ځواب کې ورغبرګه کړه:

– افســـوز ښـــته زیاتـــه رابانـــدې ګرانـــه وه، کـــه ټـــول کـــور تـــه یـــې اور وراچـــولی وای، زه بـــه بیـــا هـــم ددې پـــه طـــرف ولاړ وم، ولـــې بیـــا هـــم کـــه ښځـــې تـــر زغـــم اوښـــتې وی، هـــر کلـــه چـــې د خاونـــد او ښـــځې تـــرمنځ تـــر کـــور دننـــه ســـتونزو، فکـــري مخـــالفتونو، تـــاوتریخوالي یـــا نـــورو مشـــکیلاتو لـــه کبلـــه خبـــره یـــو د بـــل تـــر زغملـــو واوړي، پـــه هغـــه صـــورت کـــې یـــې ښـــه حـــل لاره، پـــه اسـلامي شـــرعي طریقـــه د دواړو جـــانبو د ټولـــو حقوقـــو پـــه مرعـــات کولـــو ســـره طـــلاق دی، امـــا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسـې کمصـل انسـان چې لـه بـاور او ښـو نـه دې سـوء اسـتفاده وکـړي، تـا هـم سـپک کـړي دوسـت او دښـمن تـه دې ټيـټ سـترګی کـړي، کـورنۍ دې هـم سـپکه کـړي، ان خپلـې دروازې مـور پـلار او ورونـو تـه هـم ونـه ګـوري، د سـپي پـه مـرګ بايـد مـردار شـي، پـه مرداربـدو سـره يـې، لـه خلکـو اخيسـتی عـزت واپـس ورتـه راوګرځـول شـي، زه درسـره موافـق يـم، دېـرش مرمـۍ يـې ولـې کـه شـپيته، مګـر د کـوم چـا سـره يـې چـې مـردار خـورګي کـړې، څـوک دی؟ څـه رنګـه يـې ددې لـوړې کـلا او دې دومـره کـور نـه پـټ تـر خپلـې بسـترې رارسولی؟ دا حال بايد ترې واخيستل شي.

جمال راغبرګه کړه:

– بـس تـه تـرې خـلاص يـې داسـې بـه يـې ټکـي پـه ټکـي درتـه پـرې ووايـم، خپـل ديـن بـه يـې ليـدلی وي، زمـا بـه يـې نـه وي ليـدلی، تـه صـرف راتـه کينـه غـوږ ورته ونيسه.

لنـډه بـه يـې وايـم، جمالـل بېخـي بېتابـه او احساسـاتي و، زمـا د اجـازه ورکولـو سـره سـم د همـدې ورځـې پـه، ماسښـين مـو يـې کـاظم مامـا تـه زنـګ وکـړو، ورته کړل يې:

– مامـا د مـور مـې دا دوې ورځـې فشـار يـو څـه لـوړ شـوی، دواه هـم خـوري نـه پـرې لګـي، مـا ډېـر ورتـه ووېـل چـې يـوه شـپه ستاسـو کـره درشـي، ترڅـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړځــي، لــړ بــه یــې وینــه جریــان پیــداکړي، څــه بــه یــې فکــر پــه بلــه شــي، انشاءالله ښه کېږي، خو زما نه مني، وښښه ته یو زنګ ورته وکړه!

نمــوړې مامــا مــې پــه مــور ګــران و، د زنــګ ورتــه راکولــو ســره مــې مــور پــه ویښــتو ګمــنځ راوخیســته دتلــو تابعــه یــې ونیولــه، جمالــل خدیجــه او منــوره هــم پســې اشــتهفنیځ کــړې، پــه دې ســره یــې ښــه زمینــه مســاعده کــړه، کــور یــوازې زه، جمالــل او هــوا پــاتې شــو، جمالــل مــازیګر بالاخــانې تــه وختلــو تــر ډېــره یــې ټــک او ټــوک راتلــو، چــې کتــل مــې د څــاه د ربښونــو نــه یــې د وهلــو لپــاره دوې متروکــې جــوړې کــړې وې، راښــکته شــو، ماښــام تــر لمانځــه وروســته یــې ډوډۍ راوخیســتله، زمــا زړه تــه نــه کېــده، خــو بیــا هــم یــو دوې ګــولې مــې وخــوړه، دســترخوان یــې ټــول کــړو، د دېوالــل خواتــه یــې واچولــو قــاب او کاســه یــې لــه پاســه پــرې کېښــودل، ســم لــه واره پورتــه شــو، لاس یــې ورجــګ کــړو، د المــارۍ لــه ســره یــې تفانچــه او یــو غــټ برچــې تــه ورتــه چــاقو هــم راوخیســتل، نــور یــې ماتــه کــړل: لالکــه! راځــه ددې پــه خانــدان کــې......... چــې دا خریمتــوب او مســتې یــې اوس تــر....... پــرې وباســم، ډېــر پــوچ ښــکنځل یــې وکــړل، پســې زیاتــه یــې کــړه: څــو بیــا بلــه رنــډۍ د خپلــو کورنیــو د عــزت ســره داســې لــوبې ونکــړي، نــه چاتــه داســې د بــې غیرتــه فکــر ونکــړي. لــه څــه وېلــو پرتــه زړه نــا زړه پســې ورپورتــه شــوم، ســترګې مــې لــه اوښــکو راډکــې شــوې، چــون یــو خــوا مــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــر دې دمــه چــرګ نــه و وژلــی، نــه مــې یــې جرئــت لرلــو، انســان خــو پرېــږده، ولــې نــن د مجبــورۍ لــه مخــې ســل ســلنه کلــک ورتــه وتــړل شــوم، بلخــوا لــه دې واقعــې هــاخوا هــوا د بــې جــوړې ځــوانۍ لرلــو عــلاوه، ډېــره مینــه ناکــه او بــا وفــا نجلــۍ وه، د ورســره تیــر کــړي ژونــد پــه لــړ کــې راســره کــړې نیکــۍ او راکــړې مینــې یــوه، یــوه صــحنه یــې ذهــن تــه راتللــه، واقعــاً لــه نــورو انســانانو نــه جــلا خــوار ښایســته ځــانګړنې، مثبــت فکــر او پراخــه حوصــیله الله ج ورکــړي و، همدارنګــه پــه لمانځــه، اوداســه کــې ډېــره تکــړه وه، حتــا د ســهار د لمانځــه پــه محالــل بــه یــې لــه ماســره هــم تــل لانجــه وه، خــدای ج شــته زه د ســهار پــه لمانځــه کــې ټمبــل یــم، لــه خوبــه نشــم بیداریــدی، هــوا بــه بــار بــار وېــل جــګ شــه، اوبــه مــې درتــه تیــارې کــړې اودس وکــړه، جــګ شــه ناوختــه شــوه، جــګ شــه قضــاء دې کــړو، دا چــې ډېــره بــه شــله شــوه، اخیــر بــه مــې بــې آبــه کــړه، څــو لحظــې بــه غلــې وه، بیــا بــه راغلــه پــه تنــدي بــه یــې ښــکل کــړم، اننګــی بــه یــې پــه اننګــي راکېښــودو نــور بــه یــې زارۍ شــروع کــړې، خیــره جــګ شــه اودس وکــړه، لمــونځ قضــا کېــږي، بېــدمازي انســان بدبختــه کــوي، د کــور برکــت ورســره ځــي، همدارنګــه لــه بېلابېلــو لارو یــې کــار اخیســتلو، اخیــر بــه یــې جــګ کــړم. لــه دې ســوا د ضــرورت پــه وخــت لــه کورنــه د وتلــو پــه محالــل بــه یــې ډېــر ښــه حجــاب مرعــاتولو، خــو ســربېره ددې چــې پرلــه پســې ښایســته ځــانګړنې یــې پــه ذهــن

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوربېـدې، سـترګې مـې يـې راډکـې کـړې، عـين حـال کـې مـې زړه کـې راتېـده: کـه رښـتيا دومـره ښـه نجلـۍ وی، بيـا يـې دومـره لـوی جـک ولـې وهـل؟ حتمـاً دا هـر څـه يـې زمـا پـه وړانـدې تمثيـل او ددې لپـاره يـې کـول، ترڅـو زمـا پـه سـر خـولۍ کېـږدي، بـاور پـرې وکـړم، نـه يـې کـور کـې قيـد کـړم، نـه يـې وڅـارم، تـر هغـو چـې خپـل عاشـق او ورسـره مـزو، چړچـو تـه اسـانه لاس رسـی ولـري، لکـه لرلی يې چې دی.

خـو پـه هـر حـال جمـال مـې تـر مـخ و، اتـاق تـه ورننوتلـو، زه وره کـې پښـه نيـولی شـوم، اتـاق تـه د جمـال پـه ورننوتلـو هـوا خبـره نشـوه، څنګـه چـې پرتـه وه، همغـه شـان پرتـه وه، زمـوږ پـه ګومـان لا يـې هـم دسـختې نـاروغۍ او بـې حـالۍ تمثيـل کولـو، امـا جمـال د ورنـژدې کېـدو سـره سـم مـلا کـې پـه لغـت ووهلـه، نجلـۍ پـه خفـه غـږ د الله فريـاد پـه کولـو سـره، مـخ راوګرځـو، سـترګې يـې رارنـې کـړې، د جمـال پـه ليـدو يـې، ټيکـري پسـې منګـولې واچـولې، د راجګېـدو هڅـه يـې وکـړه، خـو لکـه ښـه د کـالونو سـخت او بـې سـيکه نـاروغ، پـه ډېـر زور تـر يـوې انـدازې راجګـه شـوه، لا پـوره نـه وه، راناسـته بلـه څپـړ يـې ورکـړه، واپـس ولوېـده، پسـې ورټيـټ شـو، ويښـتو کـې يـې لاس ورواچولـو راجګـه يـې کـړه، پـه شـاته دېوال يـې ورووهلـه همداسـې تختـه يـې ورکېنولـه، نجلـۍ پـه ورخطـايۍ او تکـراري ښـه فقـط يـا الله ج يـا الله وېـل، جمـال تفـانچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه مرمــۍ ورتېــره کــړه، ميــل يــې پــه تنــدي ورکېښــودو، ورتــه کــړل يــې: خولــه دې بنــده کــړه، چنــګ او فنــګ دې پرېــږده، چــې رښــتيا دې الله ج پــه يــاد وی، لــه ځانــه بــه دې خريمــه نــه جوړولــه، حرامــوني بــه دې نکــړل، نــور دې مکــر او نازونــه نــه چلېــږي، دوې خبــرې درتــه کــوم، ښــه يــې واوره! ايــا د ســوټي پــه زور اقــرار دربانــدې وکــړم، کــه خپلــه يــې کــوې؟ دا حرامــونى دې لــه چانــه پــه کېــږه شــوی؟ زمــا او لــه دې دومــره کــور نــه پــټ دې څــه رنګــه رابطــه ورســره نيولــه؟ څرنګــه دې راوســتلو؟ دلتــه دې راوســتلی؟ د پــلار پــه کــور کــې دې ورســره يــو ځــای شــوې يــې؟ تــه وروتلــې يــې؟ څــه کيســه وه؟ هــوا پــه بــې انــرژۍ لړزانــده غــږ ژړا کــې وېــل: پــه خــدای، پــه قــران کــه مــې هېڅــوک ليــدلي وي، يــا د چــا لاس رابانــدې لګېــدلي وي، جمــال پــه کاذبــه موســکا او تمســخر ورتــه کــړل: ښــا بيــا نــو حتمــاً شــپاله (غوجــل) تــه ننــوتلې يــې پــه خــره دې ځــان ډډ کــړی، لــه همــدې ســره يــې ربنــې متروکــه ورتــه بنــده کــړه، پــه ټــول زور ســره يــې پنځــه، شــپږ متروکــې پــه ســر، ســر ووهلــه، چــې وار بــه يــې پــرې وکــړو، تــر ټــول ســر، مــخ، غــاړه بــه يــې تــاو شــوه، لــه پــوزې يــې د وينــو تــر شــو، د يــوه غــوږ نــه يــې هــم وينــې راروانــې شــوې، چــون د متروکــې دلمــړي وار ســره يــې لښــتۍ هــاخوا والوتلــه، فکــر کــړم د همــدې لښــتۍ د نلکــې ســره يــې غــوږ راوشــکېدو، خــو پــه هــر حالــ مــخ، غــاړه، ســر کــالي مــالي يــې ټــول پــه وينــو ســره پــره شــول، د نجلــۍ چيغــې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریــاد جـګ شــو ، خــو دومــره هــم نــه چــې تــر اتــاق ووځــي، یــا یــې ګاونــډیان واوري، لــه پنځــو شــپږ متروکــو وهلــو وروســته، جمــال د تیارســی پــه حالــت کــې دمــه ونیولــه، یــو ځــل بیــا یــې غــږ پــرې وکــړو: حــال وایــې کنــه؟ نجلــۍ فقــط وای الله، وای الله چیغــې وهلــې، بیــا یــې دوهلــو شــروع پــرې وکــړه، زه لــه ماشــومتوبه د وینــو ســره، حساســیت لــرم، پــه لیــدو مــې یــې ړزه ښــه نشــي، ضــعف رابانــدې راځــي، تــرې راشــاته شــوم، نــور مــې نــه لیــده، صــرف، ددې چیغــې او د متروکــې ســړپار مــې آورېــدو ، کلــه بــه جمــال هــم غــږ پــرې وکــړو: وایــې کنــه؟ بلاخبــره نجلــۍ لــه چیغــو ولوېــده، لکــه ځــاروی چــې د حلالولــو پــه وخــت نــیم دمــی شــي، لــه مــرۍ نــه یــې یــو قســم وهــم نــاک خرهــار راوځــي، پــس، پــس یــې همداســې یــو نــیم خخخــخ، خخخــخ غــږ راوتلــو ، ان تــر دې چــې دا غــږ یــې هــم ورک شــو ، یــوازې د متروکــې ســړپار او دجمــال ســتمار مــې اورېــدو ، وضــعیت مــې ښــه نــه و ، پــه زړه مــې ګرمــې ګرمــې راتللــه، لــه دهلېــز نــه هــم، بیخــې حــویلۍ تــه راووتلــم، ترڅــو هــیڅ غــږ هــم وانــه ورم، تقریبــاً لــس، پــنځلس دقیقــې وروســته، جمــال لــه کړکــۍ نــه غــږ راوکــړو ، چــې ورغلــم هــوا ختمــه وه، پــه وینــو لانــده ویښــته یــې پــه مــخ راخــواره و ، کمــیس یــې لــه ښــکته نــه، ســینې تــه ورټــول شــوی و ، ګېــډه او مــلا یــې لــوخ و ، د هــرې متروکــې پــه ځــای کــې ســرې وینــې راخوټېــدلې وې، یــوه پایڅــه یــې هــم شــکېدلې وه، تــر ورانــه پــورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــې پښــه ښــکارېده، دا هــم لــه ډېــرو وهلــو نــه تکــه تــوره او شــنه وه، څــاڅکي څــاڅکي وینــې پــرې ولاړې او روانــې وې، پکــې پــاتې جــامې یــې هــم پــه وینــو لنــدې خوشــتې، پــه بــدن ورچســـپېدلې وې، تــر څنــګ دېوالــل تــه یــې هــم زیــاتې وینــې بــاد شــوې وې، تــر نیمــایي ســور پــور و، څنګــه مــې چــې ســترګې پــرې ولګېــدې، زر واپــس راووتلــم، د زیــات لیــدو تــاب مــې یــې نــه لرلــو، جمالــل یــې هم وسایل راټول کړل راپسې راووتلو، حویلۍ کې یې راته کړل:

- کــورنۍ تــه یــې زنــګ وکــړه، چــې پــه همــدې شــپه کــې یــې یوســي، خــو دا چــې مــور، پــلار، ورونــه یــې ډېــر درانــه او ښــه خلــک و، شخصــاً لــه ماســره یــې ډېــرې نیکــۍ کــړې وې، یــو خــوا خــو یــې پــه لمــړي ســر کــې د هــوا ولــور بېخــي رانــه وانــه خیســـتلو، حتــا د واده مصــارف یــې هــم لــه ځانــه وکــړل، بلخــوا پــس لــه واد بــه چــې کلــه ورغلــم زښــته ډېــر قــدر بــه مــې یــې کــول، هــېڅ مــې نشــوی کــولی چــې دلــور د وژلــو خبــر یــې پــرې وکــړم، اخیــر مــې ځــان تــه خپلــه ډاډ ورکــړو، زړه کــې مــې وېــل: څــه نــو کــه انســانان وي، غیــرت لــري؟ تنهــا زمــا او زمــوږ د کــورنۍ ســپکه خــو نــه ده، ددوئ هــم اولاد دی، د دوئ کـــورنۍ، خپــل مــور، پــلار ورونــه یــې هــم ســپک کــړل، بایــد پــه مــرګ یــې خوشــحاله شــي، همــدا و، چــې اتــاق تــه ننــوتلم مبایــل مــې لــه چــارچ نــه راخــلاص کــړو، پــلار تــه مــې یــې زنــګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووهلـو، سـېمکارت مـې نـوی و، لـه مسـافرۍ نـه پـه راتلـو مـې هـم نـه و خبـر، شماره يې ونه پېژندله د اوکې سره سم يې کړل: بلې سلام عليکوم!

- وعليکوم سلام کاکا ښه يې پخير يې!؟

- الحمدالله ښه يم، تاسو ښه يئ، وبښه ومې نه پېژندې څوک يې؟

په لنډو کې مې ورغبرګه کړه:

- کمال يم، هوا مړه ده، پسې راشئ!

په جګ غږ يې کړل:

- هوا!!

په همدې سره مې تماس ورقطعه کړو، نور مې ورسره اوږده نکړه.

خلاصـه کـه څـه هـم ځـای لـرې و، خـو مـوټر يـې خپـل و، بلخـوا تيـز راغلـي و، يـو سـاعت وروسـته يـې مـور، پـلار او يـو ورور راورسـېدل د لـور وضـعيت يـې چـې وليـدلو، ټولـو چيغـې کـړې، مـور يـې د همـدې لمـړۍ چيغـې سـره پـرې ورولوېـده ضـعف يـې وکـړو، پـلار يـې تـر غـاړه لاس ورلانـدې کـړل، دڅـو شـيبو لپـاره يـې پـه همـدې مړينـې راکښولـه، سـر يـې پـه خپلـه سـينه پـورې جوخـت ونيولـو، دده سـپينې جـامې هـم پـه وينـو سـرې، پـرې شـوې، تنـدی يـې د هـوا پـه ککـره تکيـه کـړو، غټـې غټـې سـلګۍ يـې وهلـې، سـيل، سـيل اوښـکې يـې پـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتویــولې، ورور یـــې لمــړی زر، زر د کمـــیس لمنـــه پـــرې راکـــش کـــړه، ګېـــډه او مـــلا یـــې ورپـــټ کـــړل، شـــکېدلې پایڅـــه یـــې پـــه پښـــه ور آواره کـــړه، عینـــې حالـــ کې یې د ژړا سره ګډ کړل:

- قربـــان قربـــان زمـــا مظلـــومې خـــورې مـــورې وبښـــه، څـــه خبـــر و؟ چـــې دا بـــه داســـې ځنــاور وي، تـــا بـــه داســـې تیکـــه تیکـــه کـــوي، بیـــا یـــې تـــر څنـــګ ګېناســـتلو، پـــه وینـــو ســـره څپـــړ یـــې د څـــو لحظـــو لپـــاره پخپلـــو دواړو لاســـو کـــې ټینګـــه ونیولـــه، واپـــس راجـــګ شـــو، زه چـــې لـــه بهـــر خوانـــه پـــه کړکـــۍ ورولاړ وم، مـــخ یـــې راوړولـــو کـــړل یـــې: ولـــې کفـــر یـــئ کـــه اســـلام؟ دومـــره ظلـــم څـــوک کـــوي؟ لـــه همـــدې ســـره راروان شـــو، تـــر وره راووتلـــو، زه آمـــده شـــوم، پـــوه نـــه وم، چـــې جنـــګ کـــوي، کـــه زړه کـــې یـــې څـــه دي؟ خـــو نمـــوړي زمـــا طـــرف تـــه بیخـــي راونـــه کتـــل، ســـلګۍ یـــې وهلـــې، حـــویلۍ کـــې د دروازې پـــه لـــوري تېـــز روان و، غـــږ مـــې پســـې وکـــړو، زمـــا هڅـــه دا وه، ترڅـــو پـــه آرامـــه یـــې پـــوه کـــړم، چـــې هســـې مـــو نـــه ده، وژلـــې، لـــه کـــوم بـــل چـــا نـــه یـــې حمـــل احیســـتی و، ســـبا یـــې حرامـــونی درتـــه زېږولـــو، شـــکر وباســـه چـــې تـــرې خـــلاص مـــو کـــړې، کنـــه هغـــه نـــوم بـــه دې بیـــا چېرتـــه وړلـــو، ولـــې هـــېڅ ځـــان یـــې پـــوه نکـــړو، همغـــه شـــان ګړنـــدی روان و، عـــین حالـــ کـــې یـــې، ښـــکنځل هـــم کـــول، د خـــدای ج پـــه عـــذب اختـــه شـــئ، لعنـــت دې وي درباندې .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمـال يــې خبــرې ونشــوی زغملــی، وړانــدې د مــور د اتــاق لــه کړکــۍ يــې ســر راويستلو، پسې نارې يې کړې:

- خوله دې سمه ښوروه، که درووتلم!

نــور يــې څــه ونــه ويــل، خبــره يــې همدلتــه بنــده کــړه، خــو هلــک بيــا هــم هېــڅ ځــان پــرې پــوه نکــړو، لــه دروازې ووتلــو، د مــوټر د ســلف غــږ يــې راغلــو، لــس پــنځلس دقيقــي نــه وې وتلــې، چــې د رينجــرو کــوغ او پــوغ شــو، د امنيتــي ملــي مربــوط عســکر راورســېدل، جمــال چلاکــي وکــړه، د کــلا لــه شــانه د تــوت پــه راتېــرو شــاخونو باغچــه تــه واوښــت، ځــان يــې ويســتلو، زه يــې ونيــولم لاس يــې تــر شــاه راولچــک کــړل، برقــي ډنــډې ورســره وې ډېــر ســخت يــې ووهــم، دلتــه هــم مــا غوښــتل چــې د هــوا د وژلــو لامــل او ګنــا ورتــه ووايــم، ولــې د يــوې خبــرې اجــازه يــې هــم رانکــړه، جمــال پســې يــې هــم کــور پــه بــل مــخ راوړو ان د ګاونــډيانو کورونــه يــې پســې وکتــل، پيــدا يــې نــه کــړو، زه يــې راويســتلم، د رينجــرې بــاډۍ کــې لــه چوکيــو لانــدې پــه غــولي يــې کېنــولم، تــر رينجــر يــو شــمېر مســلح عســکر تــا و، امنيــت يــې نيــولی و، نــور تــر ډېــره زمــوږ پــه کــور کــې و، تحقيقــات او څېړنــې يــې کــولې، چــې کتــل مــې د طــب عــدلي اړونــد يــو ســپين امبــولانس هــم راغلــو، پــه ډېــر لــوړ آواز وهــم نــاک اورنګونــه يــې کــول، پــه ســر يــې ســرې او شــنې اشــارې ډېــم او فــول کېــدې، عســکرو د هــوا جســد ورتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راویســـتلو، دوی هــم راتــول شــول رېنجــرو تــه وختـــل، زمــا پـــه ســر یـــې تـــوره خــولۍ راکــش کـــړه، حرکـت یـــې وکـــړو، لمـــړی یـــې د امنیتـــي ملـــي تحقیــق خـــانې تـــه یـــوړم، دلتـــه ډېـرې ســختې شــکنجې او وهـــل هـــم و، پـــس لـــه پنځلســـو ورځـــو د طبـــې عـــدلي روغتـــون نـــه د هـــوا د معاینـــاتو او څېړنـــو نتیجـــه راغلـــه، لیکلـــي و: د افغانســـتان اســـلامي جمهوریـــت د عـــدلي طـــب د دقیقـــو څېړنـــو او معلومـــاتو لـــه مخـــې د مرحـــومې هـــوا نـــومې مېرمنـــې پـــه رحـــم کـــې ماشـــوم نـــه، بلکـــې تېمـــور دانـــه وه، پـــه عـــوض ددې چـــې عـــاجلي یـــې جراحـــي او اساســـي درملنـــه شـــوې وی، بـــرعکس ډېـــر ســـخت ظلـــم ورســـره شـــوی، تـــر خـــورا وحشـــت نـــاکو شـــکنجو لانـــدې وژل شـــوې. د عـــدلي روغتـــون ددې راپـــور پـــه رارســـېدو ســـره، عـــلاوه ددې چـــې پـــه خپـــل ظلـــم او د هـــوا پـــه مظلومیـــت مـــې زښـــته ډېـــر وژل، عســـکرو هـــم بـــلا ســـخت ووهـــم، نـــور یـــې دوسیه داتـــه جـــوړه کـــړه، محکمـــې تـــه یـــې معرفـــي کـــړم، لنـــډه دا چـــې محکمـــې اوه لکـــه افغـــانۍ نغـــدي جرمـــه رانـــه واخیســـتله، یوویشـــت کالـــه یـــې قیـــد راتـــه ولیکلـــو، د څرخـــي پلـــه زنـــدان تـــه یـــې ولېـــږلم، دوې میاشـــتې وروســـته زنـــدان کـــې خبـــر شـــوم، جمالـــل هـــم د ترکـــی پـــه مـــرز کـــې پولســـو نیـــولی و، ډېـــر ســـخت یـــې وهلـــی و، لاس او پښـــې یـــې ورمـــات کـــړي و، لـــه همغـــو وهلـــو نـــه مـــړ شـــوی و، کـــوم دلارې ملګـــري یـــې چـــې زمـــوږ کـــورنۍ تـــه حوالـــل ورکـــړی و، پـــه خبـــره یـــې جســـد یـــې هـــم لـــه دوئ نـــه همغـــه غـــره کـــې پـــاتې شـــوی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



والله علــم چــې بيــا بــه چــا خــاورې پــرې اړولــې وي، کــه بــه حيوانــاتو يــا مرغــانو خــوړلی وي، خلاصــه ورور، هــوا، اوه لکــه افغــانۍ، د ســعودي وېــزه هرڅــه مــې لــه لاســه ورکــړل، خپلــه هــم تقريبــاً عمــري قيــد رابانــدې وختلــو، د خــدای ج پــه بــدبختيو بدبختــه شــوم، د څــه وخــت پــه تېرېــدو ســره، مــې د مــور او خوينــدو ســره ماماګــانو خپلــه وســه کولــه او د ګاونــډيانو، کلــي کــور پــه عشــر او زکــات پايېــدل، ان تــر دې چــې دوه کالــه پــس بيــا هــم همــدې زنــدان کــې خبــر شــوم، يــوه خــور مــې خديجــه يــې لــه غربــت او لــوږې پــه کلــي کــې يــوه ســپينږيري تــه ورکــړې وه، پــه داســې حــال کــې چــې د نمــوړي ســپينږيري د واده شــويو لورانــو لــه اړخــه لمســيانې زمــا دخــور همزولــې وې، بلاخېــره تــر اوه کالــه زنــدان تېرولــو وروســته، د اشــرف غنــي احمــدزي پــه مشــرۍ د وخــت جمهــوري نظــام د طالبــانو لخــوا ســقوط شــو، د نــورو ولايتونــو پــه شــمول، د کابــل د زنــدانونو دروازې يــې هــم د ټولــو بنــديانو پــه مــخ خلاصــې کــړې، زه هــم پکــې ازاد شــوم، همغــه ورځ پــس لــه ماښــامه غلــی کــور تــه ولاړم، د مــور او کشــرۍ خــور منــوره ســره مــې وليــدل، خديجــه تــه د ورتلــو وخــت مــې پيــدا نــه کــړو، شــپه مــې وکــړه، ورېــدم چــې دا ځــل مــې طالبــان ونــه نيســي، زنــدان تــه مــې خطــا نــه کــړي، يــوه دســپينو زرو ګــوتمۍ مــې لرلــه، غمــي يــې څــه ارزښــت لرلــو، دا مــې راوخيســتله ســهار وختــي لــه کــوره راووتلــم، ګــوتمۍ مــې پــه لارو وپلورلــه، جيــب خــرخ مــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــرې برابــره کــړو ، لمــړی نیمــروز او لــه نیمــروز نــه ایــران تــه ولاړم، هلتــه مــې هــم چــې راســته اچولــه، چپــه لوېــده، یــوه ورځ بــه پــه کــار، پنځــه ورځــې بــه بــې کــاره وم، لــه بــې خرڅــۍ او زړه تنګــۍ مــې نــور ســاه پــه ختلــو وه، ځنګــه چــې پــه کــار شــوم، بــدبختي ځــه کــوې، لــس ورځــې کــار مــې وکــړو ، پــه یولســمه ورځ مــازیکر و ، پــه داســې حــال کــې چــې پــه ســېمټو ککــړ پکــړ لبــاس کــار مــې پــه تــن و ، ســخت ســتړی هــم وم، پــولس رانــه تــاو شــول وبــې نیــولم، ځــو لغتــې او ځپــړې یــې ووهلــم، ولچــک یــې راواچــول، مــوټر تــه یــې پورتــه کــړم، پیســې میســې پــاتې شــوې، پنځــه ورځــې کمــپ کــې وم، دوه نــیم زره تــومن مــې جیــب کــې و ، هغــه یــې هــم رانــه واخیســتل، شــپږمه یــې واپــس نیمــروز تــه راواړولــم، نیمــروز کــې یــوه روپــۍ هــم نــه وه راســره، چــې تــر کابلــه او بیــا تــر خپــل کلــي پــرې راغلــی وی، حتــا هوټــل کــې د شــپې کولــو ، ډوډۍ خوړلــو پیســې نــه وې راســره، لــه دې کبلــه ډېــرې شــپې پــه نیمــروز کــې پــاتې شــوم، مــزدورۍ پســې کرځېــدم، خــو کــار نــه پیداکېــدو ، ډوډۍ بــه مــې پــه ټولــه ســپین ســترګۍ دې دوکانــدارانو ســره خوړلــه، یــا بــه چــې ډرېــوران پــرې غونــډ و ، وربــه غلــم ډوډۍ بــه مــې ورســره وخوړلــه، کلــه بــه یــې یــو لــس روپــۍ راکــړې، یــوه نیمــه ورځ بــه شــل، دېــرش روپــۍ مــزدوري پیداشــوه ډوډۍ بــه مــې پــرې وخوړلــه، دشــپې لــه خــوا بــه د بــازار تــر شــاه پــارک تــه تللــم، ســلګونه متعــادان پکــې پراتــه و ، اولــه شــپه مــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېــر ســخت یــخ وشــو، نــژدې یــې وژلــی وم، ســهار تــر نهــه، لســو بجــو بېخــي جګېدلی نشوم، یو معتاد مې خواته راغلو، کړل یې:

- خمار یې ځان دې درد کوي؟

ورغبرګه مې کړه:

- نــه عمــل نلــرم، د شــپې مــې ډېــر بــد یــخ وشــو، اوس مــې هــم د ټــول وجــود بندونه کرغېچ دي، نه خلاصېږي، متعاد موسک شو کړل یې:

- څنګــه یــې وژلــی نــه یــې، پــه دې یــخ کــې بــې مــوادو شــپه کېــږي؟ لــږ لــږ ســر درنــه وه، یعنــي نشــه کــوه، چــې وینــه دې ټینګــه شــي، وجــود دې د یــخ مقامــت پیــدا کړي، کنــه وژنــي دې، یــا یــو ســپی پیــدا کــړه، د شــپې یــې پــه څــادر کــې درســره پټــوه، ســپی هــم ګــرم دی، یــخ دې نــه تــرې وهــي، بیــا یــې کــړل: خــو ســپی هــم چــې نشــه نشــي، نــه درســره څملــي، زړه کــې مــې وېــل: یــا خدایــه دا څــه اورم؟ څه حالت ته دې راوستلم؟ خو په هر حال معتاد ته مې کړل:

- د موادو روپۍ نه لرم!

وېل یې:

- خیــر دلتــه تــر نیمــایي زیــات کســان نــه مــواد لــري، نــه یــې پیســې، هــر چــا چــې شکــول پــه ډولــۍ کــې ورپــټ شــه، ډولــۍ کــې حصــار دود دې دومــره نشــه کــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـې شـپه دې پـرې تېـره شـي، د لاس پـه اشـاره سـره يـې زياتـه کـړه، کـه نـه وي، هغـه زمـا ملګـري دي، بيـا هلتـه راځـه، پـه همـدې خبـره رانـه راروان شـو، مـا ځـان وخوځولـو، پښـې او لاسـونه مـې وښـورول، دجګېـدو هڅـه مـې وکـړه، ډېـر پـه سـختۍ جـګ شـوم، لـږ لـږ چـې وګرځېـدم، بندونـه مـې خـلاص شـول، وږی وم، د ډوډۍ پـه غـم خوړلـو پسـې بـازار تـه راووتلـم، چـې کيسـه اوږده نشـي، دا ورځ هـم تېـره شـوه، ماښـام بيـا پـارک تـه راغلـم، تـر ډېـره مـې مقامـت وکـړو، خـو څـومره چـې شـپه پخېـده يـخ زياتېـدو، بلاخېـره ورخطـا يـې کـړم، لحظـه پـه لحظـه مـې وضـعيت خرابېـدو، ان تـر دې چـې لاس او پښـې مـې بـې حسـه شـول، دا شـپه تـر پرونـۍ شـپې ډېـره يخـه وه، زړه کـې مـې راتېـره شـوه: قسـم ده کـه ببخـي ژونـدی تـرې ووځـې، بلـه لار نـه وه، د معتـاد د خبـرې پـه تقيـب، شـاوخوا مـې وکتـل، معتـادان خـو ډېـر سـره ډولـۍ ډولـۍ و، زه د نـژدې کثافـت دانـۍ تـر څنـګ دريـو معتـادانو تـه ورغلـم، د زړو پلاسـتکي ګونيـو ډولـۍ يـې جـوړه کـړې وه، لـه ډېـرو خيريـو او دودونـو نـه تکـه تـوره شـوې وه، کـرار، کـرار مـې ددې دوو تـر قـات سـر ور دننـه کـړو، دوی چـې وليـدم، د معتـادانو مـې دا يـو کـار خوښـېږي، خپلـو کـې ډېـره ښـه ملګـري سـره پـالي او ډېـر ښـه نيـت لـري، هـرې ډولـۍ تـه چـې ورشـې څـوک دې نـه منـع کـوي، نـه پوښـتنه کـوي چـې څـوک يـې؟ دوی هـم چـې زه وليـدم، سـره وښـورېدل، ځـای يـې راکـړو، نشـه يـې کـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، اور يې ساف شوی و، خو لا هم له پاسه يې د سګريټ په دړې مـوادو نرۍ، نرۍ لوګی کولو، زه يې لمړی ډېر وتېوخولم، څو لحظې وروسته مې د ستوني او سږو عضلات (غوښې) شل شول، دټوخي قابليت يې له لاسه ورکړو، کرار، کرار مې د زړه ضربان هم زيات شو، بلاخره داسې ګرم شوم، چې په همدې شنه يخ کې مې وجود خوله پرېښوده، له ډېرې ګرمۍ مې ساه بندېده، غوښتل مې له ډولۍ راووځم، نيشه وم، جګېدی نشوم شاته راولوېدم، لکه چې په پښه مې اور وشيندلو، معتادان په پوزو کې وغونډل، پښې مې يې دېخوا راټېله کړې، څه مې خپله ځان راوښويو له دوی نه يو متر رادې خوا شوم، څو شيبې پروت وم، نشه مې شيبه په شېبه زياتېده، نور په ځان نه يم پو، خدايزده بې هوشه شوی وم

که ويده شوی وم، نه په شپه خبر شوی يم، نه په يخ، ان د ورځې لس بجې وې، چې سترګې مې راوغړولې، لا هم ښه نشه وم، طبعيت مې داسې برابر و، لکه د ټول جهان پاچا چې يم، زړه کې مې وېل دا نشې خو سم شی دي، معتادنو هسې له ځانونو ملنګان نه دي پسې جوړکړي، لنډه دا چې مازيګر مې نيشه والوتله، سم د لاسه يوه بله ډولۍ کې ورپټ شوم، بيا مې ځان نيشه کړو، حتا تر دې چې څلور پنځه ورځې وروسته يې هسې تاثير نه رابانـدې کولو، مجبور وم، چې هره شپه دوه، درې ځله ځان نشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــړم، خلاصـــه لـــس ورځـــې وروســـته بـــه ټولـــه شـــپه پـــه ډولـــۍ کـــې ناســـت وم، چـــې راوبـــه وتلـــم پنځـــه دقيقـــې وروســـته بـــه يـــخ ونيـــولم، واپـــس بـــه ډولـــۍ تـــه ورننـــوتلم او کـــه خـــوب بـــه راتللـــو ډولـــۍ کـــې بـــه هـــم نـــور نشـــوی کېناســـتی، بيـــا مـــې د ســـيمټو د ګونيـــو يـــو تـــرفڼ پيـــداکړی و، د يـــو بغلانـــي ملګـــري مـــې ســـپی و، همغـــه بـــه مـــې راســـره تـــرې لانـــدې څملولـــو، رښـــتيا هـــم ســـپيان ډېـــر ګـــرم مزاجـــه دي، چـــې راســـره پـــټ بـــه مـــو کړلـــو، بيـــا بـــه مـــو يـــخ نـــه کېـــدو، لـــه تاســـو دې پټـــه نـــه وي، د ســـپي ســـره د څملاســـتلو يـــو جالبـــه خـــاطره بـــه هـــم درســـره شـــريکه کـــړم، البتـــه حيـــا دې وي، د نـــورو شـــپو پـــه شـــان، يـــوه شـــپه بيـــا هـــم د بغلانـــي ملګـــري، مـــومن د ســـپي ســـره تـــر تـــرفڼ لانـــدې وېـــده وم، خـــر غـــټ کوټـــه ســـپی و، د شـــپې مـــې خـــوب ليـــدو، چـــې د هـــوا ســـره پـــه تخـــت پـــروت يـــم، دخـــوب نـــازک ښـــکلی لبـــاس يـــې پـــه تـــن و، ســـپين ســـپين اندامونـــه يـــې تـــرې ښـــکارېدل، پـــه څنـــګ راواوښـــته، پـــه اننګـــي يـــې مچـــو کـــړم، ګورګـــوټۍ، ګورګـــوټۍ څنـــې يـــې پـــه مـــخ راولوېـــدې، بيـــا مـــې يـــې پـــه ســـينه لاس راتـــه کېښـــودو، ښـــکته د نامـــه تـــر غـــوټۍ يـــې، څپـــړ کـــش راکـــش کـــړه، پـــه دې ســـره يـــې زمـــا احساســـات هـــم راوپـــارول، ورو ورپـــه اړخ شـــوم، لاس مـــې پـــرې ورواچولـــو، ښـــکته پورتـــه مـــې يـــې پـــه انـــدامو کشـــولو، نرمـــه نرمـــه مـــې چـــاپې کولـــه، نوبـــت ســـينې تـــه راورســـېدو، تـــی مـــې يـــې پـــه منګـــول کـــې ونيولـــو، چـــې پچـــک مـــې کـــړو، ســـپي راغـــپ وهـــل، خولـــه يـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواچولــه، ســترګې مــې رانښــه کــړې، چــې ګــورم تــر مــايعو مــې نيــولى و، زر مــې لاس راکــش کــړو، ســپي ټــوف کــړل، همــدې ســره لــه تــرفڼ نــه ووتلــو، زه څــو دقيقــې نــور هــم پــروت وم، پخــوانى ژونــد، مــور، خوينــدې، ورور، هــوا او راســره مينــه يــې يــاد تــه راغلــه، کــوم چــې نيمــه شــپه خــوب کــې بــه پــه اړخ راواوښــتله پــه مــخ، غــاړه بــه يــې کلــک، کلــک مچــو کــړم، واپــس بــه يــې ســر پــه بانښــت ورخطــا کــړو، پــه بــل اړخ بــه ويــده شــوه تــور څنګــې بــه يــې پــه مــخ او غــاړه ورخــورې شــوې، اوســني حالــل تــه مــې پــه کتــو، دې يــادونو ښــه ډېــر وژړولــم، خــو پــه هــر حالــل، نيشــه مــې الــوتلې وه، بــدن مــې مــړ، مــړ درد کولــو، پســې راجــګ شــوم، مــومن او ملګــرو يــې ډولــۍ جــوړه کــړې وه، زه هــم پکــې ورپــټ شــوم، لنــډه يــې دا چــې نيمــروز کــې پــه همــدې شــان څــه بانــدې يــوه نيمــه مياشــت وخــت راباندې تېــر شــو، پــه همــدې مــوده کــې مــې زښــته ډېــر وزن هــم لــه لاســه ورکــړى و، وچ اســکليټ رانــه جــوړ شــو، خــو ښــه و، بلــه ورځ لــه ايــران نــه يــو لــوى ټيلــر مــوټر راغلــو کاشــيان او مزايــق پکــې بــار و، دلتــه يــې لــه هغــو مــوټر نــه راښــکته کــول، يــو بــل مــوټر کــې يــې بــارول، دا مــوټر کابــل تــه راتللــو، ډرېــور يــې راتــه وېل: راشه موټر راسره بار کړه، روپۍ به درکړم!

ما ورته کړل:

- روپۍ مه راکوه کابل ته مې درسره بوځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکی شو، راغبرګه يې کړه:

– سيټ کې سپړې درنه بادېږي، کني بولې مې!

بيا مې ورته کړل:

– باډی کې د کاشيان تر څنګ کېنم!

وېل يې:

– بيا نو سمه ده، راشه!

شـروع مـې ورسـره وکـړه، شـپږ نفـره نـور هـم و، ان تـر نيمـې شـې پـرې اختـه و، چې بار شو، د ډرېور سترګو ته مې سترګې نيولې وې، راته کړل يې:

– اوس ناوختـه ده، سـهار وختـي چـې لمـونځ دې وکـړو راځـه حرکـت کـوو، زړه کـې مـې وېـل چـې لمـونځ لـه کومـه شـو، غـرق شـې دا يـوه نيمـه مياشـت کېـږي چـې جنـوب کـړځم، مـوږ ډوډی نشـو پيـداکولی د حمـام پيسـې بـه لـه څـه نشـي؟ خـو ده تـه مـې د بلـې پـه پـار سـر وخوځولـو، ډرېـور او کلينـر يـې هوټـل تـه ننوتـل، زه پـارک تـه راغلـم، پـه دوه دريـو ډوليـو کـې ورپـټ شـوم، امـا دې وخـت کـې مـې معتـادي بېخـي زياتـه شـوې وه، صـرف پـه ډولېـو کـې پټېـدو مـې خمـار نشـوی مـاتولی، د بـدن درد مـې شـيبه پـه شـيبه زياتېـدو، مجبـور شـوم، د بابه مير خواته ورغلم، نمورې مخدره مواد خرڅول، ورته ومې وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مـوټر مـې بـار کـړی، پیسـې يـې سـهار راکـوي، يـو ګـرام پـوډر اوس راکـړه، لـه درده مـړ شـوم، څنګـه مـې چـې پيسـې واخيسـتې درتـه راوړم يـې، بابـه ميـر مـازيګر د مـوتر بـارولو پـه وخـت وليـدم، بـې چـون او چـرا يـې جيـب تـه لاس کـړو، کاغـذ کـې پېچلـې يوګرامـه د پـوډرو پلتـه يـې راکـړه، تـرې راروان شـوم، مـومن يـې د سـپيي سـره تـر ځـل لانـدې ويـده و، راويښ مـې کـړو، هـاخوا معـارف ناسـت و، ځـان يـې ګرولـو، خمـار پسـې اخيسـی و، بـدن يـې درد کولـو، هغـو تـه مـې هـم غـږ وکـړو، لـه يـادولو دې پـاتې نـه وي، معـارف ننګرهـاری و، اصـلاً دلتـه نـوي سـلنه پودريـان د نـورو ولايتونـو و، ټـول زمـا پـه شـان لـه ايـران نـه رامـرز شـوي و، د کرايـه او هوټـل کـې د شـپې پيسـې بـه يـې نـه لرلـې، بلخـوا نيمـروز کـې دوکانـدارانو، ډرېـورو او عـامو خلکـو هـم لـه ايرانـه پـه رامـرز شـويو مسـافرو هـېڅ تـرحم او انسـانيت يـې نـه ورسـره کولـو، نـه يـې د يـوې روپـۍ مرسـته ورسـره کولـه، ملامـت هـم نـه و، مسـافر زښـته ډېـر و، رسـيدګي يـې نشـوی پسـې کـولی، چـې يـوه تـه بـه يـې يـوه ډوډۍ وخيسـتله، سـلګونه نـور بـه تـرې تـاو شـول، سـړي بـه دوه سـاعته ځـان نشـوی تـرې ايسـتلی، بنـاءً هغـه مسـافر چـې لـه ايـران او يـا کورنـه د پيسـو ورلېږلـو څـوک يـې نـه لـرل، مجبـور و، پـه پـارک کـې شـپه وکـړي، درحـالې کـې چـې پـه پـارک کـې لـه نشـې کولـو پرتـه شـپه نـه تېريـده، يـخ وژل، چـې نشـه بـه يـې وکـړه، دوې ورځـې پـس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــه داسـې معتــادان و، چــې پــه څلــورو بــه جګېــدل، د تــل لپــاره بــه د همــدې ځــای شــول، خــو پــه هــر صــورت، معــارف او مــومن مــې راډولــۍ کــړل، پــوډر مــو وڅکولــو ښــه مــو ځانونــه نشــه کــړل، دوی همغلتــه واړول، کــه څــه هــم ســاعت نــه و، پوهېــدم نــه چــې څــه وخــت دی؟ خــو زه مــوټر تــه راغلــم، بــاډۍ تــه وروخــتلم وړانــدې کــونج کــې د کاشــیانو پــه ســر کېناســتم، یوخــوا ډېــر ســخت نشــه وم، بلخــوا بــې خوبــه وم، ســم دلاســه وېــده شــوی وم، یــو وخــت چــې راویښ شــوم، نیمــه ورځ وه، مــوټر روان و، ډېــر راغلــي و، د ډرېــور نېمــروز کــې نــه و راتــه پــام شــوی، پــه لارو یــې چېرتــه لیــدلی وم، خــو غــږ یــې نــه و رابانــدې کــړی، ویــده یــې پرېښــی وم، زابــل کــې یــې مــوټر ودرولــو، راوکتــل چــې ناســت یــې ولیــدم غــږ یې وکړو: څه حال دې دی پیره! ژوندی یې؟

– هو، ښه یم!

– وږی نه یې!؟

وږی وم، خــو ده تــه مــې غــږ ونکــړو؛ پــوه شــو چــې وږی دی، نــور رانــه لاړو د کلینــر ســره یــې هوټــل تــه ننوتلــو، څــو لحظــې وروســته د مــوټر لــه څنــګ نــه د هوټــل شــاګرد یــوه ډوډۍ، یــو دېیپســي بوتــل او پــه پلاســتکي یــک بــار مصــرف کاســو کــې یــو خــوراک ښــه غــوړ پلــو راتــه ونیولــو، د پســه غوښــه یــې پــه ســر ایښــې وه، دا چــې یــو خــوا وږی وم، بلخــوا مــې لــه ډېــره وختــه غــوړ او پاخــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــوي خــوارېږه، (کتــغ) پــه ســترګو نــه و لیــدلی، ډېــر ښــه خونــد یــې وکــړو، ډېرېــور تــه مــې زښــته ډېــرې دعاګــانې وکــړې، خــو لــه بدمرغــه ماتــه الله ج داســې پــه قهــر و، چــې چاتــه بــه مــې دعــا وکــړه، پــه ښــېرو بــه واوښــته، غزنــي کــې یــې یــو ســراچه مــوټر ووهلــو، اتــه لــس زره ( ۱۸ ) افغــانۍ تــاوان یــې تــرې واخیســتلو؛ خــو پــه هــر صــورت د شــپې نــه بجــې وې، کابــل تــه راورســېدو، دوی د ســېلو پــه طــرف تلــل، زه د کوټســنګي چکپاینــټ کــې تــرې ښــکته شــوم، ان مــازیګر مــې نیشــه الــوتلې وه، پــه بــدن مــې درد و، دلتــه نــو ښــه ســم ټــوک، ټــوک وم، لــه هــر څــه ســره کېــږي، لــه درد ســره نــه کېــږي، همــدا و، چــې پرتــه لــه هــاخوا، دېخــوا کتلــو مــې مســتقیماً پــه پــولې ســوخته ورمنــډه کــړل، کــوم چــې د کابــل ښــار دمعتــادانو تــر ټولــو لــوی مرکــز و، تــر پلــه لانــدې ورښــکته شــوم، د ښــځو او ماشــومانو پــه شــمول ســلګونه متعــادان تــرې لانــدې اوســېدل، چــا نشــې کــولې، څــوک کثافــاتو، مــردارو اوبــو کــې پراتــه و، چــا اســتفراق کــول، څــو کســان مــې مــړه پکــې ولیــدل، د چــا اوس ځانکــدن و، بېخــي یــو عجیــب او غریــب وضــعیت یــې و او دلتــه داســې هــم نــه و، چــې د هــر چــا پــه ډولــۍ کــې ورپــټ شــې څــه دې درتــه ونــه وایــي، بلکــې دلتــه د هــر چــا ګــروه معالومــه وه، لــه دې کبلــه مــا هــم د یــوې اتــه کســیزه ډلــې ســره تابعیــت وکــړو، ډلمشــر خپــل شــرطونه راتــه وړانــدې کــړل، اساســي شــرط یــې دا و: چــې لــه هــره طریقــه وي، د ورځــې بــه ســل روپــۍ ماتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روړې، غـــلا کـــوې، ســـوال کـــوې، پلاســـتیکونه ټولـــوې، ټکســـي والـــو تـــه ســـواري پیـــدا کـــوې، حیـــا دې وي پســـې زیاتـــه یـــې کـــړه: کونـــه ورکـــوې، کـــه مردګـــاوي کـــوې مقصـــد هـــر ماښـــام زه ســـل ســـل روپـــۍ درنـــه غـــواړم؛ دا چـــې زه ســـخت خمـــار وم، وجـــود مـــې داســـې درد کولـــو، لکـــه ټـــول هـــډوکي مـــې چـــې مـــات وي، زر زر مـــې د موفقیـــت پـــه پـــار ســـر ورتـــه ښـــورولو، همـــدا و چـــې پـــه ډولـــۍ کـــې د ورننوتلـــو اجـــازه یـــې راکـــړه، د یـــوګرام څلورمـــه برخـــه پـــوډر یـــې هـــم راکـــړو، دا مـــې د دړې لـــه پاســـه پـــه اور کېښـــودو، ښـــه پـــه خونـــد مـــې وڅکولـــو، ســـهار مـــو بیـــا اور بـــل کـــړو، ډولـــۍ مـــو پـــرې جـــوړه کـــړه، تـــر نشـــې وروســـته، د ســـلو روپیـــو پـــه پیـــداکولو پســـې لـــه پلنـــه راوختلـــو، د ګـــروپ نـــور ملګـــري مـــې یوخـــوا او بلـــه خـــوا ولاړل، زه حیـــران وم، چـــې چېرتـــه لاړ شـــم، څـــه وکـــړم؟ کـــه څـــه هـــم خپـــل کلـــی کـــور، مـــور او خوینـــدې مـــې هـــم ډېـــر یادېـــدل، خـــو هلتـــه هـــم نشـــوی تللـــی، چـــون یـــو خـــوا مـــې کرایـــه نـــه لرلـــه، لـــه کمپنـــۍ نـــه زمـــوږ تـــر کلـــي دوه ســـوه افغـــانۍ کرایـــه وه، بـــل دا چـــې مـــا بایـــد بېګـــاه تـــه هـــرو مـــرو دلتـــه ځـــان رارســـولی وی، نیشـــه مـــې کـــړې وی، کلـــي کـــې بـــه مـــې نشـــې مـــواد لـــه کومـــه کـــړي و؟ د درده بـــه پـــه یـــوه چیغـــه وم، هـــر چیرتـــه چـــې لوېـــدلی وی، همغلتـــه بـــه پـــروت وم، همـــدې فکـــرو کـــې غـــرق وم، چـــې یـــو ســـپین ږیـــری پـــه مـــلا قـــات پـــوډري راغلـــو د پښـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـره مـــې کاغـــذ او پلاســـتیکونه و، زر زر یـــې راټـــول کـــړل، پـــه خیـــرن پلاستیکي بوج کې یې تخته کړل، پوښتنه مې ترې وکړه:

- پـه دې کـار کـې څـه شـی جـوړېږي، کنـه؟ زه نـوی راغلـی یـم، مشـر مـو د ورځې سل روپۍ راباندې ایښې، نه پوهېږم چې څه کار وکړم!

سړي وخندل کړل یې:

- مـوږ هـم سـل، سـل روپـۍ اچـوو، زه لـه ډېـره وخـت همـدا کـار کـوم، تـر ماسښـینه یـې چـې ټـول کـړم، سـل، یوسـلو لـس، یوسـلو شـل روپـۍ کېـږي، پـه لس، شل روپۍ ډوډۍ واخلم، سل روپۍ مشر ته ورکوم!

ورته کړل مې:

بیا خو ښه دی، یوه خالي ګونۍ به ماته پیدانکړې؟ زه یې هم ټولوم!

بیـا یـې لـه موسـکا سـره زېـړې داړې پـه تـور وچ مـخ کـې راښـکاره شـوې، وېـل یې:

- ډېرې دي راځه!

پســې شــوم ان د دهبوریــو کوڅــو تــه یــې راوســتلم، پــه اشــغالدانیو کــې یــې راتــه کتلــه، پــه یــو دو کــې یــې پیــدانکړه، دریمــې تــه یــې چــې ســر وروځــړو، پیــدا یــې کړلــه، لــه پاســه چــا پخــې وریځــې پــرې وراچــولې وې، لــه ګــونۍ نــه وریځــو تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـــر خوشـــحاله شـــو، د کثافـــت دانـــۍ مـــنځ تـــه ورښـــکته شـــو، وریځـــې یـــې پـــه ګـــونۍ کـــې راونغـــاړلې، ماتـــه یـــې راکـــړې، دی لـــه اخیـــره پســـې راوختلـــو، هـــاخوا ورتـــه کیناســـتو وریځـــې، مـــو وخـــوړلې، د ګـــونۍ خولـــه ترلـــې وه، د یـــوې کیلـــو پـــه انـــدازه څـــه شـــی پکـــې و، چـــې راخلاصـــه مـــو کـــړه، مـــړ پشـــنګوری چـــا کثافـــت دانـــۍ تـــه پکـــې راوړی و، پشـــنګوری مـــو واپـــس کثافـــاتو کـــې وروارتیږلـــو، ګـــونۍ مـــا راســـره واخیســـتله، پـــه پلاســـتیک ټولولـــو مـــې شـــروع وکـــړه، دی بـــه پـــه یـــوه کوڅـــه تللـــو، زه پـــه بلـــه، اخیـــر کـــې بـــه ســـره یـــو ځـــای کېـــدلو، تنهـــا پلاســـتیکونه مـــو هـــم نـــه ټولـــو، کاغذونـــه، دپیپســـي بوتـــل، پلاســـتیکي بـــوټ، وچـــه ډوډۍ هـــر څـــه بـــه مـــو ګـــونۍ کـــې تختـــه کـــول، لنـــډه دا چـــې مـــازیګر مـــو کوهنـــه فروشـــیو تـــه وروړل، دده یوســـلو لـــس روپـــۍ شـــوې، زمـــا لـــږ کـــم و، نـــوي ۹۰ روپـــۍ یـــې راکـــړې، لـــس روپـــۍ بیـــا ده قـــرض راکـــړې، خلاصـــه یـــوه میاشـــت مـــې دا کـــار وکـــړو، نـــور تـــرې تنـــګ شـــوم، کوڅـــو کـــې بـــه ماشـــومانو پـــه تیـــږو ویشـــتلو، ســـپیانو بـــه نـــه پرېښـــودلو، غـــپ او غـــوپ بـــه یـــې ایښـــی و، منـــډې بـــه یـــې راپســـې وهلـــې، دوکانـــدارانو بـــه هـــم ښـــکنځل راتـــه کـــول، شـــړلو یـــې، وبرېـــدل، ترڅـــو څـــه شـــی تـــرې پـــټ نکـــړو، لـــه دې کـــار وروســـته مـــې څـــه وخـــت د کوټســـنګي تـــر پلـــه لانـــدې د کمپنـــۍ او نقـــاش مـــوټرو تـــه چیغـــې وهلـــې ســـوارۍ مـــې ورتـــه پیـــداکولې، مقابـــل کـــې بـــه یـــې ډریـــورو پنځـــه، پنځـــه روپـــۍ راکـــولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څـه وخـت تـر تېرېـدو پـس مـې دا کـار هـم پرېښـودو، یـو خـوا ډېـر سـتړی و، بلخـوا ډیـری متعـادانو دا کـار کولـو، تـر مـوټرو نـه مـوږ زیـات و، سـل روپـۍ د زړه پـه وینـو پکـې پیداکېـدې، تـر نیمـې شـپې بـه پـرې اختـه و، ددې کـار تـر پرېښـودو، وروسـته مـې وچـو غلـو تـه مخـه کـړه، هرڅـه بـه چـې برابـر شـول پورتـه کـول مـې، نـه د کراچـۍ والـه مالونـه رانـه پـه امـن کـې و، نـه د دوکانـدارانو، د کومـو کورونـه دروازې بـه چـې خلاصـې وې، کـه څـوک بـه نـه و، حـاوېلۍ کـې بـه مـې یـې چـې پـه هـر څـه سـترګې ولګېـدې تـرې رایسـتل مـې، د موقـع پـه برابرېـدو سـره مـې، پـه کیڅـه بـورۍ هـم هیلـه نـه کولـه، حتـا کومـه ورځ بـه چـې نـور کـار ونشـو، مـازیګر، ماښـام د لمانځـه پـه محـال بـه مسـجدونو تـه تللـم تـر خپلـه وسـه، یـو یـا دوه جـوړه نـوي بـوټ بـه مـې رابغـل تـه کـړل، د مشـر سـل روپـۍ بـه مـې پـرې جـوړولې، ان تـر دې چـې نـن سـتا سـره بندي یم، باقي والله علم.

درنـو لوسـتونکو! دکیسـې محتـوا همـدومره وه، څـه مـو چـې ولوسـتل، د نمـوړې کیسـې راوي، کمـال نـامی معتـاد مـې څـه وخـت لـه مخـه، دوکـان کـې پـه غـلا ګیـر کـړو، د جـزا پـه پـار مـې دیـو سـاعت لپـاره ګـدام کـې بنـدي کـړی و، همـدې لـړ کـې مـې یـې مخـدره مـوادو تـه د مخـه کولـو، لامـل او سـبب تـرې وپوښـتلو، کـه څـه هـم ډېـر کلـک متعـاد و، ظـاهري څېـره یـې پـوره تخریـب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــوې وه، وچ کلــک دوه هــډوکي پــاتې و ، خــو روانــي حالــل او درونــي ځيرکتيــا يــې لا هــم پــه خپــل ځــاى و ، مخــدره مــوادو تــه د مخــه کولــو ، پــه ځــواب کــې مــې يــې پــه خــورا روانــه او فصــيحه ژبــه پــورتنۍ کيســه راتــه وکــړه، لــه دې وروســته بــه مــې هــم ببــر ســر، تــور مــخ، لاس او پښــې، د عمرونــو خيرنــې جــامې پــه تــن، کلــه ناکلــه کوټســنګي کــې ليــدلو ، ماتــه بــه يــې هغــه کيســه رايــاد شــوه، حتــا تــر دې چــې نــن ســهار لــه کــوره دوکــان تــه رارروان وم، د پنځمــې حــوزې تــر مــخ پــه يــوه ډېــره چټلــه او لــه مــرادارو ابــو ډکــه جويچــه ( لښــتي ) کــې مــړ و ، خــدايي چــې شــي زړه مــې پــرې بدشــو ، بيــا يــې هــم راتــه کــړې، کيســه يــاد تــه راغلــه، دوکــان تــه د رارســېدلو ســره ســم مــې قلــم او کتابچــه پــرې راواخيســتل، د نــو ځوانــانو د عبــرت پــه پــار مــې ټکــي پــه ټکــي وليکلــه، هيلــه ده پــه لوســتلو مــو ارزښدلې وي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { څنګه دې وجدان مني؟ }

يــو ناڅاپــه د کلــي لــه پاســه د څــو نوعــه امريکــايي الوتکــو خطرنــاک غوړمبهــار فضــاء اشــغال کــړه، کــه څــه هــم شــپه وه، خــو ډېــر وخــت لا نــه و، وتلــی شــاوخوا لــس بجــې وې، د څــو شــيبو پــه تېــردو ســره دوې لــوې دوه څرخــه الــوتکې، کــوم چــې هــرې يــوې بــه يــې لســګونه پوځيــان لېــږدول، د کلــي کــوز او بــر کېنا ســتې جنګيــالي يــې ښــکته کــړل، جيــټ (B-52) چــې ډېــر ســخت بمبــار بــه يــې کولــو او يــو څرخــه کوچنيــو ښــان ويشــتونکو الوتکــو لــه پاســه نظــارت تــرې کولــو، خلاصــه د پوځيــانو د ښــکته کولــو ســره ســم، د وســلو ټــک او ټــوک شــروع شــو، بلاخيــره ډېــر شــديد جنــګ ونښــلېدو، د ســپکو او درنــو وســلو ډزو کلــی د زلزلــې پــه شــان لړزولــو، عــين حــال کــې د ښــځو او ماشــومانو چيغــې هــم ورســره ګــډې وې، اصــلاً چاپــه پــه مســجد وه، چــون ماښــام د لمانځــه پــه محالــل څــو تنــه طالبــان راغلــل، لا هــم مســجد کــې و، امريکــايي ځواکونــو راپــور تــر لاســه کــړی و، همغــه و چــې چاپــه يــې پــرې ووهلــه، ټــولې لارې يــې پــرې بنــدې کــړې، محاصــره يــې کــړل، خــو دوی هــم پــه ارامــه تســليم نشــول، ســنګر يــې ورســره ونيولــو، ډېــر کلــک ورســره وچســپېدل، لنــډه دا چــې د نــيم ســاعت پــه تېرېــدو ســره، د څلــورو طالبــانو پــه شــهادت او يــو امريکــايي پــوځي پــه مردارېــدو او دوه نــورو پــه زخميکېــدو ســره جګــړه پــای تــه ورســېده، امريکــايي پوځيــان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصــفیه پــه پــار مســـجد تــه ننوتلـــل، بدبختانــه دمســـجد پــه وړانــدې کــونج د ملاامـــام پــه کــوچني اتـــاق کـــې یـــې مالـــک بیچـــاره ژونـــدی ونیولـــو، نمـــوړی د مســـجد د خـــادم ســـبحان کاکـــا زوی و، دا چـــې پـــلار یـــې یـــو خـــوا ضـــعیفه او بلخـــوا نـــاروغ و، د خپـــل پـــلار ســـره د مرســـتې پـــه پـــار ډېـــری کارونـــه لکـــه مســـجد جـــرو کـــول، د ابـــو آبدانونـــه ډکـــول، هـــر مـــازیګر د کلـــي لـــه کورونـــو نـــه د مســـافرو لپـــاره ډوډۍ راټولـــول بـــه مالـــک ورتـــه کـــول، همدارنګـــه نمـــوړی بـــه مکلـــف و، چـــې د لماخوســـتنه هـــم تـــر ډېـــره پـــه مســـجد کـــې پـــاتې شـــي، څـــو ټـــول خلـــک ووځـــي، لـــه اخیـــره ور پســـې راقلـــف کـــړي، طالبـــان بـــه هـــم پـــه یـــوه ځـــای نـــه پـــاتې کېـــدل، چـــې ډوډۍ بـــه یـــې یـــو ځـــای وخوړلـــه د شـــپې لپـــاره بـــه بـــل ځـــای تلـــل، امـــا لـــه بـــده مرغـــه ترڅـــو دوی ځـــای بـــدلولو، چاپـــه پـــرې ولوېـــده، همـــدا و چـــې مالـــک هـــم ګیـــر پکـــې راغلـــو، تـــوره خـــولۍ یـــې پـــه سـر ورکـــش کـــړه، طیـــارې تـــه یـــې پورتـــه کـــړو، لـــه ځـــان ســـره یـــې یـــوړو، هغـــه هـــم پـــه داســـې حـــال کـــې چـــې، دری ورځـــې وروســـته د راتلـــونکې جمعـــې پـــه ورځ یـــې واده و، واده هـــم داســـې د آرمـــانونو ډک واده، چـــې کالونـــه کالونـــه یـــې د خپلـــې معشـــوقې ( ډېـــوې ) کـــورنۍ تـــه د ســـوال لمـــن غـــوړولې وه، ان تـــر دې چـــې کلـــه بـــه یـــې د مســـجد ملاامـــام تـــه اوزر زارۍ کـــولې، کلـــه بـــه یـــې د کلـــي د مخـــورو او لحـــاظمنو ســـپینږیرو لاســـونه ښـــکلول، ورواســـطه کـــول بـــه یـــې، ولـــې دا چـــې د ډېـــوې پـــلار یـــو پېژنـــدل شـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضــي او پیســه داره شــخص و، لویــه کــورنۍ یــې لرلــه، بــرعکس مالــک د یــو غریــب ســړي یــا د مســجد د خــادم زوی و، چــې ده خپلــه هــم د نــورو کــارونو او مزدوریــو ســربېره تــر ډېــره د پــلار ســره د خــادمۍ پــه چــارو کــې همکــاري کولــه، پــه ډېــوه بانــدې عاشــقۍ یــې هــم د مســافرو لپــاره هــر مــازیګر د کلــي لــه کورونــو د ډوډۍ راټولــو نــه منشــاء اخیســتې وه، لــه دې کبلــه د ډېــوې کــورنۍ پــه هــېڅ صــورت مالــک خپــل ســیال نــه ګڼلــو، کنــه کــه څــه هــم لــه غربــت هــاخوا نــور ملــک کــې هــېڅ کمــی نــه و، ډېــر یــو شــرف او ســنګین هلــک و، ښــکلې ځــواني یــې لرلــه، تــر دولســم صــنف پــورې یــې زدکــړې هــم کــړې وې، خــو ســره ددې چــې پــه ډېــوه پــورې یــې ډېــر ســخت زړه ګنــډلی و، پــه هــېڅ نوعــه نــه تــرې صــبرېدو، بــل مقابــل د ډېــوې کــورنۍ یــې هــم پــه وړانــدې ډېــره جــدي وه، نــه یــې د ملاامــام مــخ منلــو، نــه د مشــرانو او نــه هــم د ســپینږیرو ټــول یــې لــه یــوې مخــې راځوابــول، څــه ســر مــو خــوږوم، لنــډه دا چــې، بلاخیــره پســې لــه وختونــو، وخــت راغلــو، هــره دعــا یــا صــدقه یــې چــې قبولــه شــوه، عــلاوه ددې چــې عاشــقي یــې یــو طرفــه وه، یــوازې مالــک زړه پــرې بــایلی و، پــه ډېــوه کــې تــر اخیــره چــا داســې څــه علایــم او حرکــات ونــه لیــدل چــې ګویــا دا دې هــم پــه مالــک مئینــه وي، امــا دا چــې مالــک زښــته ډېــر وخــت او زښــته ډېــر عــذر او زارۍ وکــړې، خــدایزده زړه یــې پــرې وســو؟ لــه کبــر نــه وویرېــده؟ کــه بــه بلــه کومــه خبــره وه، خــو هــر څــه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، د ټــولې کــورنۍ خــلاف یــې د مالــک وړانــدیز تــه لبیــک ووېلــو، د خپلــې کــوزدې ګــل یــې ورتــه واســتولو، لــه یــادولو دې پــاتې نــه وي، د خــوب د لیــدو پــه شــان، کلــه چــې د ډېــوې لــه خــوا د خپلــې نــامزادۍ پــه ورتــه رااســتول شــوي ګــــل د مالــــک ســــترګې ولګېــــدې، د معــــامول خــــلاف غجیــــب او غریــــب احساســـات یـــې لـــه ځانـــه وښـــودل، پـــه ځـــای ددې چـــې وخانـــدې خوشـــحالې وکـــړي، ډکـــه کوڅـــه کـــې یـــې پـــه چیغـــو چیغـــو وژل ان تـــر دې چـــې بـــې حالـــه شـــو، ضـعف یـې وکـړو، رنـګ یـې لکـه د مـړي تـک زېـړ شـوه، خـو پـه هـر راز، خلاصـه لا هــم ســره ددې چــې مالــک تــه د کــوزدې د ګــل پــه اســتولو، ډېــوې د خپلــې کــورنۍ د فــرد، فــرد مخالفــت پــه ســر اخیســتی و، فاصــیله یــې تــرې نیــولې وه، د هــر یــوه پېغــور، پېکــې، پــېټ او ښــکاره خبــرې یــې پــه ځــان تېرولــې، خــو بیــا هــم ددې ټولــو ســتونزو ســره ســره، د مالــک د بــې وســۍ لــه وجــه دری کالــه د پــلار پــه کــور نــامزاد کېناســته، پــس لــه دریــو کــالونو مالــک او کــورنۍ یــې ایلــه د واده کولــو تیــاری ونیولــو، کــه څــه هــم وېــل کېــدل چــې دا هــم ډېــوې خپلــې ګــاڼې ورکــړې وې، همغــه یــې پلــورلې وې، واده تــه یــې تیــاری پــرې ونیولــو، خــو هــر څــه چــې و. امــا بدبختانــه دا ارمــان یــې یــو ځــل بیــا پــه زړه داغ پــاتې شــو، مالــک امریکــایي ځواکونــو لــه ځانــه ســره بوتلــو، د واده لپــاره ټولــه تیــاري او ترتیبــات یــې پــه ځــای پــاتې شــول، پــه دې ســره د کــورنۍ ســربیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــې، مالـــک د خپـــل شـــرافت او انســـانيت لـــه مخـــې د واړه کليوالـــو پـــه زړونـــو کـــې خـــاص ځـــای درلـــود، همـــدا و چـــې درد يـــې پـــه ټـــول کلـــي د مـــاتم سـيورى خـور کـړو، زمـا خـو نـو بيـا بېخـي د بـدو ورځـو، راز او نيـاز يـوازنى ملګـرى و، لـه حـده زيـات پـرې خفـه شـوم، يعنـي کـه ووايـم، چـې د عمـر پـه اوږدو کـې مـې تـر ټولـو لويـه غميـزه وه، ممکـن دروغ مـې نـه وي ويلـي، خـو افسـوز نـور مـې هـېڅ مرسـته وس کـې نـه و ورسـره، يـوازې هغـه کارونـه چـې مالـک بـه يـې د پـلار سـره د مرسـتې او همکـارۍ پـه پـار مـخ تـه وړل، هغـه کـه د خـادمۍ و، يـا تـر کـور بهـر نـور کارونـه و، لـه ده ورورسـته، ان لـه همـدې اولـې ورځـې نـه مـې پـه ټـول اخـلاص وړه ورکـړه. لنـډه دا چـې د مالـک د کـورنۍ، دوسـتانو او کليوالـو د ټولـو هڅـو سـره سـره بيـا هـم نهـه (۹) مياشـتې يـې نـه د مـړي حـال معلـوم شـو، نـه د ژونـدي، چـا بـه ويـل لـه طيـارې يـې راغورځـولى، ذره، ذره شـوى مـړ دي، چـا بـه ويـل ګوانتنـامو تـه يـې وړى، کـوم چـې پـه کوبـا هېـواد کـې د نـاټو ځواکونـو تـر ټولـو لـوى او وحشـتناک زنـدان و، چـا بـه بګـرام او لـوګر يـادول، چـون لـوګر کـې د امريکايـانو ډېـره لويـه قرارګـاه و، زمـوږ د ولايـت پـه شـمول يـو شـمېر نـورو نـژدې ولايـاتونو کـې شـپنۍ چـاپې اکثريـت لـه لـوګر نـه وهـل کېـدې، کـوم کسـان بـه يـې چـې ژونـدي ونيـول، هغـه يـې هـم لمـړى لـوګر تـه وړل، وروسـته بـه يـې يـا وژل او يـا بـه يـې هـم نـورو زنـدانونو تـه اسـتول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلاخيــره پــس لــه نهــه مياشــتو مــازيگر و، بــاغ کــې مــې ريشــکه ريبلــه، مبايــل تــه مــې لــه يــوې ناشــناخته شــمارې نــه زنــګ راغلــو، د اوکــې ســره ســم مــې غــږ پــرې وکړو:

- بلې سلام عليکوم!

- وعليکوم سلام لونګ جانه! جوړ يې، پخير يې...؟

سـر لــه لمــړۍ کليمــې مــې يــې غــږ وپېژنــدو، لــه خوشــحالۍ مــې تــر ټــول وجــود فــوراً يــو قســم ســور تــاو پورتــه شــو، ان لاس او پښــو مــې لــړزه پيــدا کړه، پــه خوښۍ سره مې ورغبرګه کړه:

- مالک جانه! ته يې، که خوب وينم؟

دی هم موسکی شو کړل يې:

- هــو لونــګ جانــه! مالــک يــم خنګــه يــې؟ ښــه يــې؟ کــور مــو خيــرت دی؟ زمــا د لالک دوی نه احوال لرې ښه دي؟

- شــکر الحمــدالله چــې غــږ مــې دې واورېــدو، هــو! فضــل د الله ج دی، مــوږ هــم ښــه يــو، ســتا لالــک، مورجانــه او خــورکۍ دې هــم جــوړ او روغ دي، دا وايــه چې ته څنګه يې؟ له کوم ځای نه دې زنګ وهلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- الحمـدالله چـې ښـه یاسـت، زه هـم د الله ج کـرم دی ښـه یـم، لـه کابـل نـه مـې زنـګ کـړی، د بـاګرام زنـدان کـې وم، دری ورځـې لـه مخـه مـازیګر محالـل، د څـو نـورو زنـداني ملګـرو سـره آزاد شـوم، همغـه ماښـام کابـل تـه راغلـو، خپـل مبایـل نـه لـرم، اوس مـې هـم لـه فیسـو نـه زنـګ کـړی او لمړنـی کـس تـه یـې چـې تمـاس مـې درسـره ونیولـو، خـو فعـلاً دې هـم خبـره صـرف ستاسـره وي، چـون مـا د نیمـروز د مـوټرو ټیکـټ کـړی، بېګـا تـه پخیـر حرکـت کـوم، کـه الله ج راسـره وکړل، غواړم همداسې اورپا ته ولاړ شم....

دهلـک خبـرو دوم لرلـو، ولـې دا وروسـتۍ جملـه مـې یـې ونشـوی زغملـی، ځای په ځای مې قید کړو ورغبرګه مې کړه:

- پـه تـا څـه شـوي؟ و ظالمـه! مـور او پـلار دې درپسـې ړانـده شـول، دا نهـه میاشـتې دې نـه د مـړي درک پـه لاس ورتلـو نـه د ژونـدي، اورپـا خـو تښـتي نـه، بلخـوا هغـه کوژدنـه ډېـوه دې چـې کالونـه کالونـه یـې دې کـورنۍ تـه اوز او زارۍ وکـړې، د لـوی او کوچـوني زنـه یـې دې ونیولـه، لاسـونه دې ورتـه مچـو کـړل، ولـې بیـا هـم نـه یـوازې دا چـې سـیال یـې ونـه ګڼلـې، بلکـې سـتا سـره د خپلـې لـور کـوژده کـول یـې د ځـان سـپکاوی ګڼلـو، مګـر دې خپلـه زړه دربانـدې وسـو، سـتا لپـاره یـې د ټـول کـور مخالفـت پـه غـاړه واخیسـتو، د خپلـې نـامزادۍ ګـل یـې درتـه واسـتولو، ایـا نـن سـتا څنګـه وجـدان منـي، چـې دومـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــې غیرتــي ورســره وکــړې؟ د کــالونو لپــار یــې یــو ځــل بیــا د خپلــې هغــه کــورنۍ خبــرو او تهدیدونــه تــه پــه خولــه ورکــړې، کــوم چــې د فــرد ، فــرد غــړي لــه خــوا یــې ســتا پــه خــاطر رتــل شــوې، تــر خپلــه وســه، وســه قصــد ورســره کــوي؟ پــام هــېڅ کلــه دومــره لویــه بــې عقلــي ونکــړې، هــرو مــرو دې یــو ځــل کــور تــه راشــه، مــور او پــلار دې غېــږ کــې ونیســه، پــه تاپســې د فرهــار زړه پټــې یــې شــه، همدارنګــه د واده لپــاره دې چــې کومــه تیــاري نیــولې وه، هــر څــه پــه خپــل ځــای دي، حتــا یــو د ګــوګردو قــوطی هــم نــه دی ضــایعه شــوی، واده دې وکــړه یــوه میاشــت تېــره کــړه، بیــا دې تــولې لارې پــه مــخ خلاصــې دي، خــدای ج دې وکــړي چــې آســمان ته وخېژې.

پــه دې ســره د هلــک غــږ خــورا مایوســانه، حتــا ژړا تــه نــژدې رنــګ خپــل کــړو، راغبرګه یې کړه:

- تــه رښــتیا وایــې لونــګ جانــه! مــنم دا یــوه ډېــره ظالمانــه پرېکــړه ده، خــو پــه عــین حــال کــې زمــا لــه خــورا ســخت مظلومیــت او مجبوریــت نــه هــم ډکــه ده، چــون زنــدان کــې لــه ماســره ډېــر لــوی ظلــم شــوی، بــې لــه شــکه کــه پــه دې حــال کــور تــه درغلــم پــه ځــای ددې چــې مــور، پــلار او دوســتانوته مــې خوشــحالي ورکــړم، بــرخلاف لا بــه یــې درد زیــات کــړم، همدارنګــه ډېــوې تــه هــم عــلاوه ددې چــې نــوره بــه یــې هــم د خپلــې کــورنۍ ســخو او پېغورنــو تــه پــه خولــه ورکــړم، ښــکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چــې مســتقماً بــه هــم ډېــر لــوی عصــبي شــوک پــرې وارد کــړم، څنکــه چــې کــه څــه هــم کفــار پــه ظــاهره د انســانیت او بشردوســتۍ نــارې وهــي، خــو واقعــت کــې دوی د انســانیت، بشــریت تــر ټولــو ســتر دښــمنان و، فــرض کــړه، کــه یــو ځنګــل کــې تــر ټولــو خطرنــاک او وحشــتناکو ځنــاورو تــه پــه ګیــر ورشــې ټــول ظلــم زیــاتی بــه یــې همــدومره وي، چــې وبــه دې وژنــي، غوښــې بــه دې وخــوري، مګــر دې کفــارو کاشــکې یــوازې یــو انســان وژلــی او غوښــې یــې خــوړلی پــه همــدې یــې بســنه کــولی، امــا دوی چــې کلــه یــو انســان د زنــدان د تــورو تنبــو شــاته لــه نــورو انســانانو راجــلا کــړي، د خــورا ســختو وهلــو، شــکنجو، برقونــو ورکولــو ســرببېره، هــېڅ نوعــه انســاني کرامــاتو تــه یــې درنــاوی نــه لــري، پــه ســپیانو یــې داړي، جســي تېــري پــرې کــوي، پــه خولــه کــې یــې بــولې ورتــه کــولې، اســتغفرالله پــه قرانکــریم یــې لــه پاســه خېــژول، محمــد ص او الله ج تــه یــې ښــکنځل او ســپکې ســپورې پــرې کــولې، حتــا د نســل وژنــې پــه پــار هغــه نوځوانــان چــې ســن بــه یــې لــه پنځلســو کــالو لــوړ لــه دېرشــو کــم و، خســایان کــول یــې، یعنــي د تــل لپــاره یــې مــردي لــه منځــه پــرې وړلــه، هســې یــې هــم وضــعیت ښــه نــه و، خــو دلتــه ســم پــه ژړا شــو، پســې زیاتــه یــې کــړه: بدبختانــه دا ظلــم یــې له ما سره هم کړی!

په دې سره یې نابېره، په جګ غږ خبرو کې ورولوېدم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افففففففــف دا څــه د ځنــاور اولاد دی، تــا خــو هــېڅ ګناه نــه لرلــه، اخیــر ولې؟

اصـــــلاً دا د دوی ظـــاهري شـــعارونه او زمـــورږ د ســـاده، خوشـــباوره ولـــس او خلکــو پــه ســترګو کــې خــاورې اچــول دي، کنــه تــر کومــه ځایــه چــې مــا ولیــدل، د پــردې تــر شــاه، طالــب، عســکر، ملکــي، ګنهګــار، بــې ګنــاه هــېڅ تــوپیر نــه ورتــه لرلــو، نــه هــم دا پوښــتنه وه، دوی خــاص او خــاص پــه نــام د افغــان او مســلمان دوښــمن و، څــو یــې چــې وس کېــدلو د هــېڅ نوعــه ظلــم زیــاتي هیلــه یــې نــه پــرې کولــه، پــه ټــول کــې هغــه د کفــر او اســلام تــرمنځ د تــاریخي دښــمنۍ عقــده یــې پرې سړوله.

خــو پــه هــر راز، تمــاس مــو ټنــګ ټنــګ کــوي، چــې قطعــه نشــي، مقصــد لــه ماســره یــې چــې کــوم وحشــت کــړی، پوښــتنه مــې وکــړه، ډاکتــران وایــي: ددې ســتونزې عــلاج یــوازې پــه اورپــایي ځینــو هېوادونــو کــې ممکــن دی، لــه دې کبلــه پــرون د یــوه قاچــاقبر ســره هــم وغبــږدم، دســت خــط مــې ورتــه وکــړو، کــه څــه هــم نســبت نــورو قاچــاقبرو تــه پیســې زیــاتې اخلــي، خــو دا پــه دې ښــه دی، چــې دلتــه یــا پــه لارو پیســې نــه اخلــي، هلتــه هــم خپلــه شــرکت لــري، کلــه چــې مســافر ورســوي، همغــه خپــل شــرکت کــې یــې ورســره پــه کــار کــوي، میاشــتانه یــې لــه معــاش نــه د فیصــدۍ لــه مخــې خپــل قاچــاق ګرځــوي، نــو کــه خــدای ج ســالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســولم، انشــاءالله ډېــر زر بــه هــر څــه ســم شــي، هغــه کــه صــحي مشــکيل مــې دي، کــه اقصــادي، لــه هــره اړخــه بــه مــې خپلــې کــورنۍ او دوســتانو تــه خوشــحالي ورکــړم، اګــر چــې تاتــه مــې هــم دا ســر دردي نــه درکولــه، نــه مــې خبرولــې، خــو پــه ښښــنې ســره، نــه وېــل کېــږي انســان دی، ډېــر اوږد او ســخت ســفر دی، کــه ونــه رســېدم، پــه لارو څــه راوشــول، ژونــد مــې لــه لاس ورکــړو، چــې بيــا مــې لالــک او مورجانــه خبــر کــړې، ترڅــو زړونــه يــې صــبر شــي، ټــول عمــر مې د راتلو په انتظار تېر نکړي او..

د همــدې او پــه نقطــه کــې يــې خبــرې بنــدې بنــدې شــوې، نــه پــوهېږم نــور بــه يــې څــه ويــل؟ متاسـفانه پــه اورېــدو يــې ونــه توانيــدم، بلاخيــره تمــاس مــو قطــع شــو، پــه کومــه شــماره يــې چــې زنــګ کــړی و، بــار بــار مــې دايــره کــړه، لــه بــده مرغــه زنــګ يــې نــه تېرولــو، تــر ډېــره مــې ســترګې وې، لــه هغــو خوانــه هــم بيــا زنــګ رانغلــو. نيمــه پنــډه ريشــکه مــې ربــدلې وه، نيمــه لا پــاتې وه، د مالــک د خبــرو پــه اورېــدو ســره، عــلاوه ددې چــې ژونــدی و، غــږ مــې يــې واورېــدو خوشــحاله شــوم، امــا د ورســره شــوي ظلــم لــه کبلــه يــې ډېــر ســخت جګرخــون کــړم، لــه لاس او پښــو مــې ســاه وختلــه، ان متېــو کــې مــې ددې توانــايي راپــاتې نشــوه، ترڅــو دا پــاتې نــوره نيمــه پنــډه ريشــکه مــې هــم ربــدلې وی، خــو پــه هــر صــورت، لنــډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـه یـې وایـم، شـپه تېـره شـوه سـبا مـازیګر یـې بیـا پـه یـوه ناشـناخته شـماره زنـګ وکړو، له سلام کلام وروسته یې کړل:

- نیمــروز کــې یــم، دشــپې پــه ( ۱۱ ) بچــو د ایــران پــه پولــه وراوړو، مقصــد دعا کوه!

- ولــې نــه، الله ج دې پــه خپــل امــن امــان کــې لــره، افســوز پــرون دې تمــاس قطعــه شــو، لــه دې خــوا مــې هــم ډېــر زنګونــه ووهــل، بدبختانــه رخ نشــو، کنــه: اکــلاً دا خپــل جیــب خــرڅ خــو بــه مــې درکــړی و، پــه لارو کــه وږی شــوی وای، یــو نیم بیسکوټ، یو بوتل اوبه موبه خو به دې پرې اخیستې وې!

- تــه دې ژونــدی یــې لونــګ جانــه! مننــه پیســې راســره شــته، د لارې د ضــرورتونو لپــاره شــل، شــل ډالــر جیــب خرچــه کابــل کــې قاچــاقبر ټولــو همســفر ملګــرو تــه مــې راووېشــله، تــه یــوازې دعــا کــوه، صــرف احوالــل مــې درکولــو، ماوېــل چــې خبــر وې، نــور دې پــه الله ج ســپارم، مبایــل مــې د یــو ملګــري دی چې مصرف یې زیات نه شي.

پــه همــدې ســره مــو خــدای ج پامــاني وکــړه، تــر ځنــګ مــې یــې کلــک ټینګــار هــم پــرې وکــړو، ګویــا چــې هــر ځــای دې لاس رســېدو ماتــه زنــګ کــوه، نــور مــو تمــاس ســره قطعــه کــړو، بلاخیــره ســره ددې چــې دری ورځــې وروســته مــې ســاعت پــه ســاعت تلوســه پســې زیاتېــده خــو لا هــم ( ۷ ) ورځــې یــې هــېڅ زنــګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منـګ رامعلـوم نشـو، پـه آتمـه ورځ يـې زنـګ وکـړو، زمـا د بلـې! پـه ځـواب کـې يې کړل!

- لونګ جانه! سلام عليکوم جوړ يې؟ پخير يې....

- وعليکوم سلام! شکر دی الحمدالله، ته ښه يې، ملګري دې ښه دي؟

- هـو د الله ج فضـل دی، مـوږ هـم ښـه يـو، وبښـه وروره! سـتا بـه سـودا وه، پـه لارو مـې هـېڅ موقـع پيـدانکړه چـې تمـاس مـې درسـره نيـولی وی، نـن سـهار پـه اوه بجـو شـيراز تـه راورسـېدو، ايلـه مـې اوس وکـولی شـوی چـې زنـګ درتـه وکړم.

- خـدای ج دې وبښـه کـه څـه هـم سـودا خـو مـې ربښـيا هـم زياتـه وه، خـو څـه شـکر چـې پخيـر تـر شـيرازه ورسـېدئ بـاقي مـو هـم د کاينـاتو لـه سـتر مالـک نـه پـه امن امان کې غواړم! مجلس مو څو دقيقې اوږد شو، اخير کې يې کړل:

- يـوه هفتـه دلتـه شـته يـو، د راتلـونکې پـنج شـنبې پـه شـپه پخيـر حرکـت کـوه، انشـاءالله بيـا زنـګ درتـه کـوم، همداسـې و، د پـنج شـنبې پـه ورځ يـې زنـګ وکړو، په سلام پسې پيوست يې کړل:

- لونـګ ګلـه! مـوږ بيکونـه بسـته کـړل، ببګـاه تـه پخيـر حرکـت کـو، مقصـد بيـا دې هم له دعاګانو هېر نشم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنــډه دا چــې،  دا ځــل يــې پــوره پنځــه دېــرش ورځــې هــېڅ احوالــل رامعلــوم نشــو، خوشــبختانه پــس لــه پنځــه دېرشــو ورځــو يــې پــه يــوه ډېــره نااشــنا شــماره چــې ټــول ټالــل شــپږ عــدده وه، زنــګ ووهلــو، تــر ســلام او جــوړ، پخيــر وروســته يــې کړل:

- لــه ترکيــه نــه مــې زنــګ کــړی، ســتا د دعاګــانو برکــت و وروره! ايلــه نــن ســهار پخيــر راورســېدو، کــه څــه هــم ډېــر ســخت تکليفونــه راباندې تيــر شــول، يــو ځــل تقريبــاً ان د ترکيــه پلازمينــه انقــره تــه راورســېدو، د ښــار پــه دروازه کــې يــې ونيولــو، تــر درې ورځــې زنــدان خــورا ســختو شــکنجو وروســته يــې واپــس ايــران تــه ردې مــرز کــړو، دوې ورځــې وروســته بيــا پــرې راروان شــو، دا ځــل بيــا ښــه راغلــو، اګــر چــې يــو ځــای کــې يــې پيرونــه راباندې وکــړل، دا يــو لاس مــې لــږ زخمــي هــم شــو، ولــې بيــا هــم ښــه و، الحمــدالله راورســېدو، اوس بهــر تــه نــژدې يــو ښــار کــې يــو، معلومــه نــه ده، چــې لــه دې ځــای نــه بــه څــه وخــت حرکــت وکــړو، کېــدی شــي يــو څــو ورځــې دلتــه هــم پــاتې شــو، خــو کلــه چــې تللــو بيــا انشــاءالله احوال درکوم!

- ښــا ســمده، الحمــدالله چــې پخيــر ترکيــه تــه هــم ورســېدلی، لاس خــو بــه دې ډېر نه وي، خوږ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



– نــه ډېــر نــه دی خــوږ، پاســمان مــې پــرې شــروع کــړی، انشـــاءالله ښــه کېـــږي، پــه همــدې ســره، نــه پــوهېږم څــه ټکــه پــرې ولوېــده، کړنـــګ، کړنـــګ بيـــا مـــو تمـــاس قطعــه شــو، خــو ښــه و، هغــه مهــم مطلــب چــې ترکيــه تــه رســېدلی او هلتــه ځــای پــه ځــای شــوی، تــرې ترلاســه کــړو، څــه ناڅــه مــې زړه ډاډه شــو، پــه ترکيــه کــې يــې تقريبـــاً دوې هفتـــې تېـــرې کـــړی، بلـــه ورځ پـــه داســـې حالـــل کـــې چـــې د مـــازيکر او ماښـــام مـــنځ و، زنـــګ يـــې وکـــړو، پـــه ورخطـــايۍ ســـره يـــې د حالـــل احوالـــل پوښـــتنه وکړه، پسې کړل يې:

– د بهــر پــه غــاړه يــم، نــور حرکــت کــو وروره! کويکــه (کښــتۍ) راتــه راغلــه، کــه څــه هــم ډېــره ګــوچنۍ تقريبـــاً لـــس نفـــري کويکـــه ده او مـــوږ دېـــرش کســـان يـــو، خـــدايزده دا د ظـــالم زوی مـــو څـــه رنګـــه پکـــې ځـــايوي؟ خـــو لـــوی لـــوی د ټيکټهـــر (ترکتـــول) ټوپونـــه يـــې پســـې تړلـــي، ګومـــان کـــړم، ځينـــې نفـــر بـــه پـــه هغـــو کېنـــوي، امـــا خـــدای ج دې وکـــړي، چـــې مـــا ټوپونـــو تـــه نـــه کـــړي، لاس مـــې خـــوږېږي، منـــه کـــه بيخـــي ځـــان پـــرې تکيـــه کـــړی شـــم، خـــو پـــه هـــر حالـــل، مقصـــد نـــن دې بېخـــي ډېـــرې ډېـــرې دعاګـــانې غـــواړم، وېـــل کېـــږي، چـــې دا کـــويکې ډېـــرې تېـــزې، دي، کـــه الله ج خيـــر پـــيښ کـــړي، پـــه نهـــه ســـاعتونو کـــې، يعنـــي ســـهار مخـــه، آمـــان تـــه رســـېږو، انشـــاءالله کوشـــش کـــوم، څـــومره چـــې زر ممکـــن و، بيـــا تمـــاس درســـره نيســـم، احوالـــل درکـــوم! پـــه همـــدې ســـره يـــې ماتـــه د نوبـــت راکولـــو پـــه پـــار ســـاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيولـه، د شـونډو د پرانيسـلو سـره مـې زر بيـا پـه خبـره کـې راولوېـدو کـړل يې:

– وبښه وروره! قاچاقبر مو نارې وهي، د خدای ج پامان ولاړم درنه!

نـور مـا هـم ورسـره اوږده نکـړه، د مخـې ښـې پـه کولـو سـره مـې تمـاس ورقطعـه کـړو، لـه همغـې ورځـې تـر ننـه، چـې اوه ( ۷ ) مياشـتې يـې ووتلـې، بيـا يـې زنګ نه دی کړی، والله علم، څه شو؟

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { افسوز چې ښځه نه وی }

ډېـری وخـت د عاشـقانو او معاشـوقو تـر مـنځ یـو د بـل نـه درک کـول او دهغـو د احساسـاتو خیالـ یـې نـه سـاتل، پـه لویـو سـر دردیـو واوړي، روسـتم او زرمینـه هـم یـو د همـدې ډول عاشـقانو لـه جملـې دي، دوی تـر ډېـره خـورا خـوږه مینـان و، یـو د بـل دیـدن پسـې اوبـه اوبـه و، همدارنګـه د یـو بـل د لارو ځـارلو او نـورو عاشـقانه حرکتونـو د افـراط لـه کبلـه یـې، ان د سـیمې ماشـومانو بـه هـم ورځ کـې یـوه ګـړې ددوئ پـه عاشـقۍ ګـپ کولـو، لنـډه بـه یـې وایـم وخـت راغلـو د دواړو تـر مـنځ څـه مخالفـت راپیـدا شـو، داسـې وېـل کېـدل چـې روسـتم تـه یـې وېلـي و: لـه پـلار سـره مـې د شـنې یـولې پټـی واړوه، اتـې داسـې وګڼـه چـې همغـه شـیبه دې د یـوې ښـې خـوړېنې مچـو قیمـت پـرې کـړی، مقصـد پـه روسـتم خـوارکې یـې خلـور پنځـه ورځـې پټـی واړولـو، لاسـونه یـې پـرې سـرې تنـاکې کـړل، اتـې یـې بـېلا بېلـې بهـانې ورتـه کـولې، مچـو یـې نـه ورکولـه، کـه څـه هـم روسـتم زمـا لـه ماشـومتوبه ملګـری او همصـنفی و، نـور ډېـر ښـه هلـک و، خـو لـه همغـو ماشـومتوب نـه یـې، ضـد او عصـبانیت لرلـو، د معـاملې خبـرې پـه وړانـدې بـه ډېـره تیـزه منـډه او لـه حـده زیاتـه لـوچکې تـرې وشـوه، خـو وروسـته بـه یـې بیـا پـه زړه هـبڅ هـم نـه و، مګـر کـار بـه یـې خـراب کـړی و، اتـې بـه یـې پښـېمانۍ چنـدان ځـای نـه نیولـو، همـدا و، چـې زرمینـې تـه یـې هـم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپــل زور ښــودلو او غــچ اخیســتلو پــه پــار مــور او پــلار ورولېــږل د یــوې بلــې نجلــۍ سـره یــې ځــان نـامزاد کــړو، زرمینــه یــې د کــور کلــي ټوکــو ټکــالو او خبــرو تــه پــه خولــه ورکــړه، د هــر مجلــس ګــپ یــې پــرې جــوړ کــړو، څــه ســر مــو خــوږوم، روســتم یــې ښــځه رانــاوې کــړه، درې څلــور کالونــه ووتــل یــو زوی او لــور یــې هــم وشــول، خــو دې وختونــو کــې یــو ځــل بیــا کلــي کــې د روســتم او زرمینــې د اړیکــو او عاشــقۍ پــاللو ګنګوســې راژونــدۍ شــوې، مګــر ان تــر دې چــې بلــه ورځ خبــر شــوم، روســتم یــې ښــځه طلاقــه کــړه، حتــا طلاقنامــه کــې یــې دشــاهدانو پــه حضــور بچیــان هــم د ښــځې پــه نــوم کــړي، اتــې یــې د اولادونــو ســره، د پــلار کــره ورلېږلــې، دا خبــره بېخــي عجیبــه راتــه ښــکاره شــوه، مخکــې مــې یادونــه کــړې روســتم مــې یــو خــوا همزولــی او د ماشــومتوب ملګــری و، بلخــوا لــه اوم نــه تــر دولســمه همصــنفیان و، زړه مــې و، چیرتــه یــې پــه کومــه ګوښــه کــې غلــی راګیــر کــړم، پوښــتنه تــرې وکــړم چــې ولــې لېــونی شــوی یــې وســړیه!؟ پــه دې کــې لــس، پځلــس ورځــې ووتلــې لا هــم پــه ګیــر رانغلــو، بلــه ورځ د ســهار د چــایو پــه محــال مــو دروازه وټکېدلــه، چــې کتــل مــې روســتم و، د ســترې مشــې ســره ســم مــې ورتــه کــړل: هلکــه! مــا پــه اســمان غوښــتې خــدای ج پــه ځمکــه راکــړې، بــاور وکــړه دا څــو ورځــې درپســې ګــرځم، راځــه، راځــه! تــر مخ یې شوم مهمانخانې ته مې ننیستلو، چای مې ورته واچولو کړل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– کـورنۍ او خپـل، خپلـوان ټـول راسـره مـرور دي، د دنیـا پـه سـر مـې خـدای ج ته هیله وشوه، تاته وشوه اتي راروان شوم.

– ولې، ولې خیرت خو دی؟

جیـب تـه یـې لاس کـړو، یـوه لویـه ورقـه لیکلـی کاغـذ یـې راویسـتلو اخیـره برخه کې دوې درې امضاء ګانې، یو مُهر پرې لګېدلی و، کړل یې:

– خبـر شـوی بـه وې، ښـځه مـې طلاقـه کـړه، سـره د بچیـانو مـې یـې پـلار تـه ورولېږله، غوښتل یې نور هم څه ووایي، خبره کې یې ور ولوېدم:

– هـو خبـر شـوم ظالمـه! پـه همـدې خـاطر درپسـې ګرځېـدم، لمـړی خـو دې لـه سـره ښـه کـار نـه دی کـړی، بیـا کـه بـدې هـم وه، پـه ښـځه کـې بـه دې وه، د ماشومانو یې څه ګناه؟

افسوزانه ساه یې وخیستله کړل یې:

– رښـتیا وایـې خـو اصـلاً طـلاق کـول یـې نـه، بلکـې لـه سـره ددې واده کـول مـې لویـه سـهوه کـړې، پـه داسـې حالـ کـې چـې زمـا پـه رګ رګ کـې د زرینـې مینـه جـاري وه، امـا بدبختانـه د یـو ډېـر معـاملې خپګـان چـې تقریبـاً د یـوې ټـوکې او نـاز رنـګ یـې لرلـو، ولـې مـا یـې د سـزا ورکولـو پـه پـار ددې نجلـۍ سـره د ځـان نـامزاد کولـو پـه سـخته څپـړه سـزا ورکـړه، کـه څـه هـم لـه دې وروسـته مـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکــر کولــو، څنګــه چــې زرینــې زمــا پــه نــوم دبــدنامۍ درونــد پیټــی پــه ســر ګرځولــو، د چــم واړو او زاړو زمــا دمینــې پــه صــفت پېژنــده، خــو مــا وخیســتله د دوســت او دښــمن خولــو تــه مــې ورکــړه، د هــر چــا خنــدا او رشــخند تــه مــې جــوړه کــړه، نــو طبعــاً تــر هــر چــا ډېــر نفــرت چــې تــرې لــري، هغــه کــس بــه زه وم، ولــې داســې نــه وه، پــس لــه یــو کــال نــه، زمــا د توقــع خــلاف پــه یــوه ناشــناخته شــماره زنــګ راغلــو، چــې اوکــې مــې کــړو غــږ مــې یــې وپیژنــدلو، ټــول وجــود مې یو قسم جام شو حیران بریان ودرېدم خبرې مې له خولې وتښتې!

زرینې وخندل کړل یې:

– ولــې هــوش درنــه لاړو؟ وغږېــږه، غــږ مــې دې یادېــدلو نــور مــې صــبر ونشــو، زنــګ مــې درتــه وکــړو، زه خــو ســتا غونــدې نــه یــم چــې لغــت دې کــړم، اتــې دې هېــر کــړم، همــدې ســره یــې آواز ژړاغــونی شــو، بلاخیــره د خبــرو تــوان یــې لــه لاســه ورکــړو صــرف د ســلګیو غــږ یــې راتلــو، دا چــې یــو خــوا مــې یــې پــه خپلــه ورســره کــړې نــاځوانۍ ډېــر خجالــت کــړم، بلخــوا ســره د دومــره لــوې نــاځوانۍ چــې ورســره کــړې مــې وه، خــو لا هــم ددې مینــه راســره لــرل او غــږ رابانــدې کــول، یعنــې پــه ټــول کــې لــه پــاک زړه او وفــادارۍ نــه یــې ډېــر زیــات متثــره شــوم، یــوازې خپلــې خــولې مــې وچــولې، د وېلــو لپــاره مــې څــه نــه لــرل، نــه مــې دڅــه وېلو توان لرلو، صرف د بهانې په پار مې دومره ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بـل ځـای يـم، زه بيـا زنـګ درتـه کـوم، نـور مـې تمـاس ورقطـع کـړو، خـو پـه هـر حـال، دا چــې پــس لــه ډېــره وختــه او ډېــرو کيســو لمړنــی تمــاس و، طبعــاً دواړه يــې ډېـر سـخت تـر اثـر لانـدې راغلـو، لـه دې وروسـته مـو کـرار، کـرار تماسـونه زيــات او وضــعيت مــو هــم عــادي شــو، نجلــۍ لــه پخــوا ډېــره کلکــه او خــوږه مينــه راســره کولــه، چــې کيســه اوږده نشــي بلاخيــره خبــره تــر دې راورســېده، دمينــې د پــاللو تــر خنــګ تقريبــاً دوه کالــه مــو پــه دې چــونې ســره ووهلــې، چــې مــا تــرې غوښــتل ترڅــو ددې ښــځې او بچيــانو پــه شــتون کــې واده راســره وکــړي، مکــړه دې ډېــر کلــک انکــار کولــو، ان تــر دې چــې وېــل يــې ســتا پــه نــوم د پــلار پــه کــور ســر ســپينه ومــه، ولــې تــر څــو دې دا ښــځه او بچيــان ســتا پــه کــور کــې وي کــوزده او واده نــه درســره کــوم، کــه رښــتيا مينــه راســره لــرې او لــه زړه غــواړې، مــا دخپــل ژونــد ملګــرې کــړې، ځنګــه چــې زه ســتا لپــاره هــرې قربــانۍ تــه تيــاره يــم، تــه هــم بايــد زمــا دا يــو شــرط ومنــې، ښــځې تــه دې طــلاق ورکــره اولادونــه يــې هــم دې تــه ورکــړه، يــوازې او يــوازې همغــه وخــت زه پــه تــا د بيــا ځلــې لپــاره بــاور کــولی شــم، چــې رښــتيا هــم تــه ماســره مينــه لــرې، لکــه څنګــه چــې وايــې د واده کــول دې واقعــاً يــوه خطــاء يــا اشــتبا وه، بيــا صــرف يــو ماشــوم، حتــا د مســجد خــادم هــم راولېــږه، زه يــې پــه لاس د خپلــې کــوزدې ګــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلېږم، څـه مصـارف چـې پـرې راځـي تـر واده پـورې هـم ټـول مـې پـه خپـل پـلار کوم.

کـه څـه هـم ددې ښـځې نـه د جـلا کـور مـې ورتـه ووېـل، ویـې نـه منلـه، بیـا مـې یـوازې د ښـځې د طـلاق هـم ورسـره قبولـه کـړه، ولـې پـه ماشـومانو مـې زړه نـه کېـدو، پـه دې کـې یـو کـال بـل هـم تېـر شـو، لا یـې هـم پـه همغـه یـوه خبـره ټینګـه وه، بلاخیـره څنګـه چـې خبـر یـې، د خپلـې خطـا د جبـراب دا سـتره قربـاني مـې ورکـړه، ښـځه او بچیـان مـې د تـل لپـاره رخصـت کـړل، سـره ددې چـې ماشـومان خـو هسـې هـم د خـدای ج خـوږ نعمـت دی، ولـې ښـځه مـې هـم خـورا شـریفه نجلـۍ وه، د خپـل انسـانیت او شـرافت لمخـې یـې پـه کـورنۍ او دوسـتانو مـو ډېـره ګرانـه وه، پـه طلاقولـو سـره یـې د کـورنۍ پـه شـمول مـې ټـول دوسـتان او خپلـوان ډېـر کلـک راسـره خفـه دي، لـه دې کبلـه خـدای ج تـه مـې هیلـه وشـوه، تاتـه وشـوه، یـو خـوا مـې د ماشـومتوب ملګـری یـې بلخـوا مـې همصـنفی یـې دا یـوه څـواني بـه هـرو مـرو راسـره کـوې، د زرینـې سـره مـې نـور ټولـه خبـره خلاصـه کـړې، پـه هـر څـه خبـره ده، خـو بیـا هـم د لا ډډمنتیـا پـه پـار یـې طـلاق نامـه غوښـتې دا هـم درسـره واخلـه، صـرف ورشـه د کـوزدې ګـل یـې تیـار کـور کـې ایښـی فقـط درسـره راوایـې خلـه او تـر دې ځایـه یـې راورسـوه اتـي دې چـې شـیرني کـې هـر څـه غوښـتل، پـه دواړو سـترګو، صـرف امـر وکـړه، کـه څـه هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـرې بهـانې مـې ورتـه وکـړې، خـو سـړی شـله وه، بلاخېـر د غرمـې لـه ډوډۍ وروسـته ماسپښـن يـې ورشـارت کـړم، البتـه د زرينـې دوی کـور تـه بـه زه لـه دې مخکـې هـم کلـه ناکلـه پـه مـړې او ژونـدي کـې ورتلـم، د مـور سـره مـې يـې پېژنـدل، زمـا د انـا څـه کېدلـه يعنـې يـو نـازک د دوسـتۍ تـار مـو ورسـره لرلـو، خـو پـه هـر حـال چـې ور ورسـېدم، دروازه مـې ټـک کـړه، د زرينـې مـور دروازه خلاصـه کـړه، تـر سـترې مشـې وروسـته تـاوخوانې تـه ننوتلـو، شـاوخوا مـې وکتـل ګـل نـه ښـکارېدو، خلاصـه د چـای څښـلو پـه محـال مـې کـرار کـرار وريـاده کـړه چـې ګويـا ريبـار يـم، د زرينـې د کـوزدې پـه ګـل پسـې راغلـی يـم، ددې خبـرې پـه اورېـدو سـره د زرينـې کشـره خـور اوچـت جګـه شـوه، لـه اطـاق نـه ووتلـه، د يـوې لحظـې تـر تېرېـدو پـس د زرينـې سـره دواړې جـوړه اطـاق تـه راننـوتلې سـلام يـې واچولـو، کشـره خـور يـې هـاخوا د مـور تـر څنـک، زرينـه دې خـوا کيناسـته، زه لا اختـه وم، مـور تـه مـې يـې لـه هـاخوا، دې خـوا پـه اشـارو او کنـايو خپـل مطلـب بشـپړولو، چـې زرينـې مـې پـه جـدي انـداز خبـره کې راودنګل، کړل يې:

- ښا روستم رالېږلی يې ريبار يې!؟

فکر مې وکړو چې له خوشحالۍ احساساتي شوه، په موسکا سره مې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– زه خــو دا کارونــه نــه کــوم، مګــر دا چــې روســتم مــې ملګــری دی، نــه مــې نشــوی ورتــه وېلــی، بلخــوا ماوېــل د عمــه پوښــتنه بــه هــم وکــړم، دا ډېــر وخــت مــې نــه وه لیــدلې (د زرینــې مــور تــه بــه مــې عمــه وېــل) پــه هــر حالــ د خپلــو خبــرو پــه جریــان کــې مــې جیــب تــه لــس کــړو، د روســتم او هغــه بلــې ښــځې طلاقنامــه مــې یــې روایســتله، پســې زیاتــه مــې کــړه: تاســو بــه خبــر یاســت هغــه بلــه ښــځه یــې طلاقــه کــړه، دا یــې طلاقنامــه ده، بچیــان یــې هــم همغــه ښــځې تــه ورکــړي، طلاقنامــه کــې ددې هــم ذکــر شــوی، چــې روســتم نــور د کــاروان او هنګامــه پــه نوم خپل زوی او لور سره د ابد لابد لپاره هېڅ تالوق نه لري!

کړل یې:

– ته یې له سره ولوله!

طلاق نامه مې ښه په غور ورته ولوستله!

اخیر کې یې کړل:

– ښــا، ښــا ډېــر ښــه شــوي د همــدې شــیبې لپــاره انتظــار وم، دا چــې د عمــه پوښــتنه دې پســې وتړلــه تاتــه بــه نــور څــه نــه وایــم، خــو پــه پــرده کــې جګېــږي پــه کومــه چــې راغلــی یــې پــه همغــو لار ببرتــه ورشــه، ډېــره ډېــره حیــا دې وي کــه څــه هــم پــه خولــه مــې نــه راځــي، خــو همغــه د زرینــې پــه الفــاظو بــه یــې درتــه ووایــم، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېــدې کــوز طــرف تــه پــه اشــاره کولــو ســره يــې کــړل: ورتــه ووايــه نــور دې پــه خولــه کــې دغــه وهــم، واده کــول لا څــه خــدای ج کــه دې د دروازې ســپی کــړم، خپــل وار دې ليــدلی و، زمــا دې نــه و ليــدلی، هغــه ورځ چــې لمړلــی زنــګ مــې درتــه ووهلــو، زه نــامزاد شــوم، فقــط تــر همــدې ورځــې مــې خبــره پټــه کــړې وه، ګرځــه نــور لکــه خوســن ســپی پــه ډېرانــو ځــوس وهــه، خبــرو يــې دوام لرلــو پــه تونده پکې ورګډ شوم کړل مې:

– خولــه دې ســمه ښــوروه، بــې حيــا، افســوز چــې تــه خــو ښــځه نــه وای، اتــي مــې تــر څنــګ چــادر کــې منګــول خښــه کــړه راســره راجــګ مــې کــړو، غــټ غــټ قدمونــه مــې راواخيســتل همداســې تــرې راووتــل، لکــه بنــګ مــې چــې وهلــي وي، هــيڅ پــه لار راتلــو نــه پوهېــدم، قــدم مــې پــه ځــای نــه لګېــدو، ړنــګ او بنــګ راروان وم، دغــه دې خولــه کــې وهــم د زرينــې دې جملــې مــې ذهــن کــې انګېــزې کولــو، کلــه بــه خنــدا راغلــه، کلــه بــه ځــان تــه غوســه شــوم، زړه کــې بــه مې وېل: همداسې ښه يې، ستا نه ريباری څه غواړې کور ګډيه؟!

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## {ښځينه ډاکتره شته؟}

لــه خــوارږه خــوب نــه پــرې راويښ شــوم، تقريبــاً د شــپې دوې بجــې وې، د مــوټر لــه غــورار ســره ګــډ، پــه نارينــه ډبــل، جــګ او ورخطــا غــږ د روغتــون پــه انګــړ کــې، ډاکتــر، ډاکتــر نــارې شــوې، خــو لا هــم پــه نــيم خــوبي حالــت کــې وم، هــېڅ مــې ســترګې نــه خلاصــېدې، چــون پــه دې شــپه يــوازې زمــا نوکريــوالي وه، تــر دولــس نيمــو، يــوې بجــې بســتر کــې د ناروغــانو پــه فشــار، تبــه کتلــو او د دوا پــه توصــيه کولــو لګيــا وم، همــدې ســاعت کــې پرېــوتلم، خــو پــه هــر حالــل څــو مــې ســم ځــان رابيــدارو لــه کړکــۍ مــې ورکتــل، پــه ډېــر شــتاب د اتــاق ور راوټکېــدو، ټــک ټــک پســې پيوســته يــې پــه اجلــه ســره کــړل: ډاکتــر صــاحب، ډاکتر صاحب...

زر مــې کمــيس غــاړې تــه کړلــو، ور مــې ورخــلاص کــړو، مشــعل نــامی د روغتون نرس ولاړ و، کړل يې:

- وبښــه ډاکتــر صــاحب! لــه خوبــه مــې راويښ کــړې، يــو ځــل عاجــل تــه راشــه، شــيخ صــيب يــوه ښــځينه ناروغــه راوړې ډېــره تکليــف ده، البتــه لــه يــادولو دې پــاتې نــه وي، دا وخــت هغــه لــه نــن نــه شــاوخوا پنځــه ويشــت کالونــه وړانــدې پــه ۱۳۷۲ لمريــز صــحنه کــې د طالبــانو د لــومړۍ واکمنــۍ دوره وه او نمــوړی شــيخ صــيب عــلاوه ددې چــې د ولســوالۍ پــه ســطحه د جامعــه جومــات ملاامــام

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قــومي مخــورو مشــر و، د طالبــانو د اســلامي تحريــک پــه نــوم د وخــت د حکومــت ډېــر لــوی نظــامي او قــدرتمن شــخص هــم و، زيــات شــمېر مصــلح کســان يــې لــرل، لــه قــده ټيــټ چــاغ او پــوخ عمــر يــې لرلــو، دوې شــملې بــه يــې پرېښــودلې، عــين حــال کــې ډېــر تونــد هــم و، ډېــری وخــت بــه يــې د دوهمــې خبــرې ســره وار کولــو، خلاصــه معشــل مــې تــر مــخ شــو، بېړنــي قدمونــه مــې پســې ورواخيســتل، شــيخ صــيب د عاجــل بخــش پــه وره کــې ولاړ و، پــه مــا د ســترګو لګېــدو ســره يــې کــړل: ډاکتــر بــه نيــغ پــه خپلــه چــوکۍ ناســت و، تاســو د انځيــر ګلان نيم ساعت راپيدا کېږي نه!

د ښېښــني پــه غوښــتو ســره مــې رفتــار کــې لاس پــه نامــه ســلام عليــک او درنــای ورتــه وکــړو، نــور تېــز تــرې تېــر شــوم مســقيماً عاجــل شــبه تــه ننــوتلم، نــاروغ تــه مــې ځــان ورســولو، شــيخ صــاحب هــم جوخــت راپســې راننوتلــو، چــې کتــل مــې پيغلــه لــور يــې خــورا ســخته تکليــف وه، ژړا او زګيــروي يــې ســره ګــډ و، پــه يــوه ذربــه يــې غټــه. غټــه ســاه اخيســتله، خپلــو خولــو کــې لنــدې، خوشــتې جــامې د چيرکــټ لــه پاســه پرتــه وه، عــين حــال کــې د ســتر ســاتلو پــه پــار، کــه څــه هــم چــادري يــې تــرې لــرې کــړې وه، خــو لا هــم تــور پړونــی يــې لــه ســر او مــخ نــه تــاو و، يــوازې دوې ســترګې يــې ښــکارېدې، مشــره ميــرمن يــې، يعنــي ددې نجلــۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــور يــې هــم ورســره راوســتلې وه، د لــور تــر څنــګ يــې پــه چــوکۍ ناســته وه، لــه دروازې نه د داخلېدو سره سم مې، هغو ته هم کړل:

- مورې سلام عليکوم ستړې مشې!

په ټيټ او جړ غږ يې د سلام جواب راکړو.

بيا مې ورته کړل:

- په دې خورکۍ څه شوي؟

مــور يــې چــوپ پــاتې شــوه، شــيخ صــيب لاس ورتيــر کــړو، د نجلــۍ پــه کېــډه خور پړونی يې لږ هاخوا کړو، کړل يې:

- لــه پــرون ســهار راهســې يــې خــالي ادرار بنــد دي، کــورنۍ دواوې مــو ډېــرې ورکـــړې، خـــو هـــېڅ فايـــده يـــې ونکـــړه، مـــازيګر راهســـې يـــې دا ســـپوخت هـــم وپړسېدو،

د کمــيس لــه پاســه ښــکارېده دنجلــۍ مثانــه ښېخــي پــه چــاود وه، دســتکش مــې پــه لاس کــړل، پــه دې دوو ګوتــو مــې لــږ لــږ تختــه کــړه، د نامــه تــر غــوټۍ ښــکته ساحه يې لکه کاڼې داسې کلکه وه، شيخ صيب ته مې سترګې ورواړولې:

- پــه خــورکۍ وخــت ډېــر وتلــی، زياتــه تکليــف ده، کــه ستاســو اجــازه وي، زر تــر زره بايــد د تناســولي آلــې لــه لارې پيــپ ورتــه تيــر شــي، خلتــه ورتــه واچــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــي، ترڅــو یــو ځـل یــې مثانــه راخــالي شــي، لــه خطــره ووځــي، بیــا بــه یــې معاینـــات وکـــړو، څـــو معلـــوم شـــي، چـــې پروســـتات یـــې ســـتونزه پیـــداکړې؟ مثـانې یـې چـرک کـړی؟ کـه بـل څـه مشـکیل دي؟ کلـه یـې چـې تشـخیص وشـو، دواه درته لیکم، انشاءالله دومره جدي خبره نه ده، ښه کېږي.

شیخ صیب رانیغ شو کړل یې:

- زنانه ډاکتره شته؟

- نه شیخ صاحب! بدبختانه زنانه ډاکتره نه لرو!

- څــه خــدای ج وهلــی یــې، کــه ډاکتــران یــئ، ملایکــې خــو نــه یــئ، د یــوې نــامحرمې ښــځې بربنــډول، د بــدن هغــه برخــو تــه یــې کتــل او لاس وروړل، چــې مــور او پـلار تـه یـې نـه دي روا، تاسـو پـه کـوم شـرعي حکـم، پـه کـوم مـذهب ځان ته حق ورکوئ او روا یې ګڼئ؟

زړه کـې مـې وېـل: دنجینـو مکتبونـه خپلـه تـا بنـد کـړي، چـې نجینـې مکتـب ونـه وایي، ښځینه ډاکترانې خو له اسمانه نه رالوېږي!

کــه څــه هــم پــه ټــول کــې دا د وخــت د طالبــانو د اســلامي تحریــک واکمــن حکومـــت پالســـي وه، چـــې د نجینـــو پـــه مـــخ د مکتبونـــو دروازې پـــه مطلـــق ډول پکـــې تـــړل شـــوې وې، خـــو زمـــوږ پـــه منطقـــه یـــا د ولســـوالۍ پـــه ســـطحه نمـــوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــيخ صــاحب د نجينــو د ښــونځيو د بندېــدو ســربېره نــور ټــول حکــومتي احکــام کــه د خلکــو بــه خوښــه وه، کنــه. پــرې پلــي کــول يــئ، حتــا تــر اشــد ضــرورت، هغــه هــم لــه چــادرۍ او يــو نارينــه محــرم پرتــه هــېڅ ښــځې تــه لــه کــوره د راوتلــو اجــازه هــم نــه وه، لــه دې کبلــه کــه څــه هــم ممکــن د ســردار داود او ډاکتــر نجيــب د دورې يــوه نيمــه ډاکتــره بــه پيداشــوې وه، ولــې پــه دومــره ســختو شــرايطو او قيــداتو کــې يــې نشــوی کــولی، چــې روغتــون تــه راغلــې وی، دنــده يــې اجــرا کړې وی.

خــو پــه هــر حــال، شــيخ صــاحب تــه مــې چېرتــه دا خبــره کــولی شــوی، مخکــې مــې يادونــه وکــړه، ډېــر کلــه شــخه انســان و، چــې معمــولي بــه يــې خبــره لــه دمــاغ نــه هســې او داســې وه، خــورا ســخت يــې ســړی بــې آبــه کولــو، ان وار يــې کولــو، دده په ځواب کې مې په آجزانه انداز کړل:

- رښــتيا هــم شــيخ صــيب! اصــلاً مــوږ هــم دمجبــورۍ لــه مخــې ورتــه تــړل شــوي يــو، کنــه واقعــاً پــه يــو روغتــون کــې د ښــځينه ناروغــانو لپــاره پــه هــر بخــش کــې د ښــځينه ډاکترنــو شــتون خــورا اړيــن دی، خصوصــاً د داســې او دې تــه ورتــه ځينــې نــورو ښــځينه نــاروغيو د درملنــې لپــاره، خــو ببخــي اشــد ضــرورت دی، ولــې دا چــې مســوليت حکومــت او د صــحت عــامې وزارت تــه ورګرځــي، مــوږ څــه نشــو کــولی، خــو څنګــه چــې دا ســتا د لــورکۍ، يــا د ادرار بندېــدو نــاروغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نارینــــه او ښـــځینو یــــوه مشـــــترکه او عامـــــه نــــاروغي ده، هـــره میاشـــــت د نـــــارینو پـــه شـــمول یـــو شـــمېر نـــورې ښـــځینه هـــم د نمـــوړې نــاروغۍ لــه کبلــه راوړل کېـــږي، پـــس کـــه زر تـــر زره یـــې تـــداوي ونشـــي انســـان لــــه منځــــه وړي، نـــو ســـره د نـــاروا والـــي یـــې، یـــو ډاکتـــر نشـــي کـــولی چـــې نـــاروغ یـــې تـــر ســـترګو لانـــدې لـــه درده او فشـــار نـــه چیغـــه وهـــي مـــري، دی لاس تـــر زنـــې ورتـــه ودرېـــږي، د انســـاني تـــرحم لـــه مخې اړ کېږي چې ژوند یې وژغوري، درملنه یې وکړي.

- د کابل په روغتونونو کې ښځینه ډاکتراني نشته؟

- نـــه، شـــیخ صـــاحب! تـــر کومـــه چـــې زه معالومـــات لـــرم نشـــته، خـــو بیـــا هـــم پوښـــتنه وکـــړه، ممکـــن کـــوم روغتـــون کـــې وي، ولـــې اکثریـــت هغـــه کـــورنۍ چـــې غـــواړي هـــرو مـــرو بایـــد خپلـــې ښـــځینه ناروغـــانې، د ښـــځینه ډاکترانـــو پـــه وســـیله تـــداوي کـــړي، پاکســـتان تـــه یـــې بیـــایی، امـــا لـــه بـــده مرغـــه ستاســـو پـــه لـــورکۍ وخـــت ډېـــر وتلـــی، تکلیـــف یـــې اوج تـــه رســـېدلی، کنـــه همغـــه پـــرون چـــې پـــرې پـــوه شـــوي یاســـت، روانـــه کـــړې مـــو وی، رســـولی مـــو شـــوی، فعـــلاً هـــېڅ ځـــای تـــه د وړلـــو نـــه ده، بېړنۍ تداوۍ ته اړتیا لري.

- د پیچکارۍ د ستنې په وسیله نه راخالي کېږي؟

- نـــه شـــیخ صـــیب محتـــرم! بایـــد اساســـي درملنـــه یـــې وشـــي، د ســـتنې پـــه وســـیله کـــه یـــوه انـــدازه راخـــالي هـــم شـــي، نـــیم ســـاعت وروســـته واپـــس ډکېـــږي، بیـــا هـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیــپ تېرولــو تــه اړتیــا ده او د بیــا ، بیــا ځــل لپــاره خــو د ســتنې پــه واســیله نــه کېــږي، چــون د مثــانې عضــلات ډېــر اســاس دي، دومــره زخــم پــذیر نــه دي، داخل کې خون رزي کوي، چې هغه بیا لا لوی مشکیل رامنځ ته کوي.

- لاحولــه ولا قــوت.... څــومره دلیــل دې زده دی، تــه پیــپ راواخلــه زه یــې خپلــه ورته تېروم!

ددې خبــرې پــه کولــو ســره یــې حیــران بریــان پــاتې شــوم، چــې دې تــه اوس څــه وایــې؟ پــه تنــدي کــې ترخــو ګونځــو او غوســه تــه پــه کتــو یــې. څــه ورتــه وبــل کېــدل هــم نــه، فکــر مــې وکــړو ممکــن چېرتــه یــې کــار کــړی وي، پــرې پــوهېږي بــه، ورتېــر شــوم المــارۍ مــې راخلاصــه کــړه، یــو پیــپ چــې دوه زره ســي ســي خلتــه پســې وصــل و، دوه جــوړه طبــي دســتکش، یــو قــوطی د الســلابن پــه نــوم ښــویه او چســپناکه مــایع مــې راواخیســتله، شــیخ صــاحب تــه مــې ونیــول، کــړل یې:

- لږ طریقه یې راته وښایه دا څنګه بسته کېږي، ډېر خو به مشکیل نه وي؟

پــه دې خبــره ســره مــې یــې بیــا د ســر وینبــته جــګ شــول، چــې ګویــا دې ســړي خــو ښځــي لیــدلی نــه دی، نــه پــرې پــوهېږي، څــه پــه بــلا ورواوښــتم، منــه نجلــۍ وژنــي، بیــا بــه یــې غــم او مســولیت هــم ســتا پــه غــاړه دراچــوي، خــو دا مــې هــم نشــوی ورتــه وېلــی: چــې وســړیه! کــه دې کــار کــړی نــه وي، تجروبــه نــه پکــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـرې، بیـا یـې نشـې کـولی، د هـر چـا کـار نـه دی، ماتـه اجـازه راکـړه، چـې زر یـې ورتــه بســته کــړم، نجلــۍ تکلیــف ده، اباــل لــرې، دا چــې نــن دې قــدرت پــه لاس کــې دی، خــدای ج درکــړی، کنــه نــور نــه تــر دې دومــره افغانــانو غیرتــې یــې، نــه ننګیــالی یــې، چــې د نــورو خلکــو خوینــدو، لونــو، ښــځو تــه یــې بســته کــو، تــه څه له اسمانه راښکته یې؟

چــون شــیخ صــاحب، پــه بــې آبــه کولــو، وهلــو ټکولــو کــې مشــهور و، وېرېــدم هســې نــه فکــر وکــړي، چــې زمــا د لــور بربنــډولو تــه یــې تلوســه ده، نــو ځــان تــه بــه سم کار وګورم.

له دې کبله دده په ځواب کې مې په نرمۍ او احتیات سره کړل:

– نـه شـیخ صـیب! سـخت نـه دی، خـو بیـا هـم څـه احتیـات غـواړي، چـا چـې نـه وي کار کړی، لږ ورته ستونزمن دی.

سړی په خپله خبر ودرېدو، کړل یې:

– ته یې طریقه راته وښایه!

مجبــور شــوم لمــړی مــې د ښــویه او چســپناکې مــایع پــه بوتــل ګوتــه ورتــه کېښوده کړل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اول به دا ښویه مایع ټول بوتل، یوه اندازه وړاندې په شرمګاه کې ورته واچوې، بیا مې د پیپ او خلتې پلاستیک وشکولو، ورته کړل مې: دوهم قدم کې به دا پیپ په دغه شان، دوو ګوتو کې کلک ونیسه، هوا درنه تېره نکړي، ترڅو د پیپ سر کې زخه راټوله وي، په آسانۍ سره مثانې ته ځان ورسوي، کله چې مثانې ته ورسېدو، اوبه پکې راځي، د اوبو له راتلو سره دې ګوتې ترې لرې کړه، څو د پیپ سر کې زخه ځان پرانیزي، واپس له مثانې راونه وځي، نور صحیح دی، اوبه خپله خلتې ته راځي، مثانه راخالي کېږي، البته پیپ ډېر لاس کې مه لوغوه ترڅو مکروبي نشي.

سړي د موفقیت په پار سر وخوځولو، نور یې غږ ونکړو، دنجلۍ ځنګ ته ورغلو، تر چپرکټ چاپېره پرده یې کش کړه، زه هم ترې راشاته شوم دوې، درې پردې دېخوا د بل چپرکټ په څنډه ورته منتظر شوم، شیخ صاحب یې د ښځې په مرسته، دپیپ په داخلولو پیل وکړو، څو شیبې وروسته یې د نجلۍ چیغې او فریاد پرې لوړ کړو، که څه هم داسې نور ناروغان به یې چې کله روغتون ته راوړل، په ټول روغتون کې به یې د چیغو انګازه لګېده، خو نمورې نجلۍ ډېره غیرتي وه، په ټول توان سره یې کوشش کولو چې خپل غږ خاموش کړي، دلته یې چې غږ راجګ شو، فکر مې وکړو، مثانې ته دپیپ تېرول خو په ناروغ دومره فشار نه راوړي، ممکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــه ښــویه مــایع تــرې هېــره وي، وچ پیــپ بــه داخلــوي؟ همــدا و، چــې پــه نجلــۍ مې زړه وسو، ومې نشوی زغلی، غږ مې پرې وکړو:

- شیخ صاحب! هغه مایع دې استعمال کړه؟

ځواب یې رانکړو، بیا مې ورناري کړې، په دوهم ځل یې کړل:

- هو، هو اول مې همغه ټول بوتل کې خالي کړو!

نــور خــاموش پــاتې شــوم، نجلــۍ لا هــم ســخت فریــاد کولــو، عــین حــال کــې بــه شــیخ صــاحب هــم یــوه نیمــه پټکــه پــرې وکــړه، چــې ګویــا ډېــره مــه چغېــږه، مــور بېچــاره یــې بیــا ســم ورســره ژړل، هــم یــې دا دلاســا کولــه، ډاډ یــې ورکولــو، چــې ګــوا کې لــږ صــبر وکــړه، نــور بســته شــو، اوس بــه جــوړه روغــه شــې .... خــو پــه هــر حــال، همــدې، همــدې کــې لــس، پــنځلس دقیقــې تېــرې شــوې، لا هــم پــرې اختــه و، پیــپ نــه و بســته شــوی، درحــال کــې چــې ټــول ټــال یــوه دقیقــه وخــت نــه نســي، بلاخیــره تــر څــو لحظــې نــور وخــت تېرېــدو وروســته، د نجلــۍ غــږ ټــپ او ټــوپ خــاموش شــو، د مــور ژړا او چیغــې یــې جګــې شــوې، زړه کــې راتېــره شــوه: لکــه چــې ختمــه یــې کــړه، څــو مــې ورنــارې کــولې چــې څــه وشــول؟ د شــیخ صــاحب ورخطــا آوازونــه مــې تــر غــوږو تېــر شــول، ډاکتــره! ډاکتــره! ورمنــډه مــې کــړل، چــې کتــل مــې د نجلــۍ پــه مــخ او غــاړه لیکــه، لیکــه رنــې خــولې بهېــدلې، ضــعف یــې کــړی و، بلخــوا زنګانونــه یــې، پیــپ، د شــیخ صــاحب لاســونه ټــول پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینـو سـره پـره و، لمـړی مـې زر بـالون راکـش کـړو، اوکسـجن مـې ورتـه بسـته کـړل، بیـا مـې یـو دوې لتـې پـه یخـو اوبـو رالنـدې کـړې، مـور تـه مـې یـې ورکـړې، ترخـو پـه لاس او پښـو یـې ورتـه کېـږدي، دوی تـه مـې ډاډ ورکـړو، چـې خیـر ضـعف یـې کـړی، ښـه کېـږي، زه راتـاو شـوم، پیـپ تـه، شـیخ صـاحب ته مې کړل:

- دا وینـې څـه کـوي؟ غـږ یـې ونکـړو، لـه څـه وېلـو پرتـه نـرم هـاخوا شـو، هرڅـه یـې راپرېښـودل، چـې ومـې کتلـو پیـپ یـې داخـل کـړی و، خـو وینـه زیاتـه و، ښـکارېد نـه چـې صـحیح یـې داخـل کـړی کنـه؟ یـوازې لـه تکـو تـورو وینـو ډک و، اوبـه نـه پکـې راتللـې، لاس مـې ور اوږد کـړو، د یـو وار مصـرف کاغـذي لـولې نـه مـې ښـه ډېـر کاغـذ رابیـل کـړو، بهـر او تـر کومـه ځایـه چـې امکـان و، د تناسـولي آلـې داخـل کـې وینـې مینـې مـې پـرې راوچـې کـړې، بیـا جـګ شـوم، لـه المـارۍ نـه مـې د وینـې د بهېـدو ضـد سـپرې راواخیسـتله، دا مـې هـم پـرې اسـتعمال کـړه، چـې کتـل مـې ظـالم د مثـانې پـه ځـای، پیـپ رحـم تـه تېـر کـړی و، پـه دې سـره یـې د بکـارت پـرده هـم شـکولې وه، وینـه د همـدې پـردې د پـرې کېـدو لـه وجـې رابهېـدلې وه، کـه څـه هـم ډېـرې زیاتـه وه، داسـې ګومـان کېـدو چـې څـه انـدازه بـه لـه رحـم نـه هـم رابهېـدلې وي، چـون پیـپ کـې چـې اوبـه نـه راتللـې، ده فکـر کـړی چـې ممکـن ځـای تـه بـه نـه وي رسـېدلی، لـه دې کبلـه یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتېـــر کـــړی و، ورتېـــر کـــړی و، خلتــــه پســـې شـــاوخوا دوه متـــره پیـــپ پـــروت وي، صـــرف نـــیم متـــر پـــاتې و، نـــور یـــې ټـــول ورداخـــل کـــړی و، نـــو طبعـــاً رحـــم بـــه یـــې هـــم پرې زخمي کړی وي، وینه به ترې رابهېدلې وي.

خـــو پـــه هـــر صـــورت، زر زر مـــې پیـــپ واپـــس راویســـتلو، د خلتـــې ســـره مـــې کثافـــت دانـــۍ تـــه واچولـــو، لـــه المـــارۍ نـــه مـــې بـــل پیـــپ او خلتـــه، ســـره د مخصوصـــې مـــایع راوخیســـتل، پـــه بېـــړه مـــې ورتـــه تېـــر کـــړو، د پیـــپ د تېرولـــو ســـره ســـم، پـــه مثانـــه کـــې بنـــدې اوبـــه پـــه ډېـــر شـــتاب د خلتـــې پـــه لـــور راروانـــې شـــوې، څـــو لحظـــې وروســـته د نجلـــۍ ســـاه وچلېـــده، کـــرار کـــرار یـــې رنـــګ راســـپین شـــو، څلـــور، پنځـــه دقیقـــې لا نـــه وې وتلـــې چـــې پـــه هـــوش هـــم راغلـــه، غټـــې غټـــې خـــام رنګـــې شـــنې ســـترګې یـــې رارنـــې کـــړې، فکـــر کـــړم وشـــرمېده زمـــا پـــه لیـــدو یـــې واپـــس پټـــې کـــړې، چـــې واقعـــات شـــي، پـــه ټـــول کـــې یـــې ډېـــره ښـــه څـــواني لرلـــه، زړه کـــې مـــې وېـــل: کاشـــکي ددې ســـر تنبـــه ســـړي لـــور خـــو نـــه وی، د یـــوې عـــادي نـــاروغۍ لـــه کبلـــه یـــې ســـل مرګونـــه دربانـــدې تېـــر کـــړل، خـــو پـــه هـــر حـــال، خپلـــه شـــیخ صـــاحب هـــم پـــه خولـــه څـــه نـــه وېـــل، ولـــې لـــه تنـــدي یـــې ښـــکارېده، چـــې د لـــور پـــه واپـــس ژونـــد تـــه راګرځولـــو یـــې رانـــه خوشـــحاله و، لنـــډ بـــه یـــې وایـــم، نـــور زه تـــرې راووتلـــم، دوی مـــې بســـتر تـــه ولېـــږل، ســـهار مـــو معاینـــات ورتـــه تکمیـــل کـــړل، څنګـــه مـــې چـــې شـــک کولـــو همغـــه شـــان و، مثانـــه یـــې چـــرک

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــوې وه، تــر دوې ورځــې بســتر وروســته مــې دواه ورتــه ولیکلــه، مــور تــه مــې یې سترګې وروا ړولې کړل مې:

- مــورې! خــورکۍ خــو نــور انشــاءالله ښــه ده، هــېڅ مشــکېل نــه لــري، تاســو کــولی شــئ، چــې کــور تــه لاړشــئ، د څــه وخــت لپــاره، غوښــه، لوبیــا ، مســتې، وغیــره تونــد او تــروش خــواړه مــه ورکــوئ، او دوا یــې پــه خپــل وخــت منظمــه ورکــړئ، مثــانې یــې چــرک پیــداکړی و، ترڅــو ښېخــي لــه منځــه ولاړ شــي، اینــده کې بیا دا تکلیف ورته پیدا نشي.

مــور یــې دعاګــانې شــروع کــړې، زه تــرې رااروان شــوم، د تللــو وخــت کــې شــیخ صاحب معاینه خانې ته راپسې راغلو، کړل یې:

- زه د عصــابو نــه خوشــک یــم، حوصــیله نــه لــرم، ښښــنه غــواړم پــه هغــه شــپه مــې لږ توندې درته وکړې.

- خــدای ج دې وښښــه، شــیخ صــاحب! نــه هــېڅ خبــره نــه ده، مشــران چــې هــر څــه ووایي پروانکړي.

بیا یې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



– دې روغتـــون تـــه یـــوه، دوې ډاکترانـــې هـــم ډېـــرې ضـــرور دي، کـــه چیرتـــه درمعلـــومې وي، تـــه یـــې راپیـــداکړه، نـــور یـــې د مقررولـــو، معـــاش، تلـــو او راتلو، کارونه زه ورته جوړوم.

– ســـمه ده شـــیخ صـــاحب! زه بـــه هڅـــه وکـــړم، یـــوه راتـــه معلومـــه ده، خـــو هغـــو د ظـــاهر شـــاه بابـــا پـــه وخـــت کـــې تحصـــیل کـــړی، اوس ډېـــره زړه ده، ممکـــن کـــار ونشـــي کـــړی او ځـــوانې ډاکترانـــې فکـــر نکـــړم پیداشـــي، خـــو اصـــلاً ددې ســـتونزې دحـــل لپـــاره اساســـي کـــار تـــه اړتیـــا ده، زه فکـــر کـــړم چـــې هغـــه یـــوازې او یـــوازې د نجینـــو پـــه مـــخ د مکتبونـــو او پوهنتونـــو د دروازو پرانســـتل دي، ترڅـــو د وخـــت پـــه عصـــري او پرمختللـــي طبابـــت برلاســـې ډاکترانـــې مـــو جامعـــه کـــې وروزل شـــي، صـــرف همغـــه وخـــت مـــوږ او تاســـو دې ســـتونزې تـــه ځـــواب ویلی شو.

– بـــاور وکـــړه ډاکتـــره! کـــه دوې شـــپې لـــه مخـــه دې دا خبـــره کـــړې وی، نـــو داســـې وګڼـــه چـــې پـــه ډېـــره ســـنګینه ســـزا بـــه مـــې رســـولی وې او چـــا چـــې دا خبـــره کـــړې رســـولي مـــې دي، ولـــې بخـــت دې دلتـــه بیـــدار دی، چـــې پرتـــه ســـتا لـــه یـــادولو، پـــه دې اړه، دا دوې شـــپې زمـــا فکـــر خپلـــه د ځمکـــې او اســـمان پـــه انـــدازه فـــرق کـــړی، څنګـــه چـــې تاتـــه معلومـــه ده، تـــر پرونـــه زه خپلـــه ښـــونځیو تـــه دنجینـــو د تلـــو کلـــک مخـــالف وم، حتـــا د حکومـــت لخـــوا دا مســـولیت ماتـــه ســـپارل شـــوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــه دنجینــو مکتبونــه زمــا پــه حکــم بنــد دي، خــو هــدف مــو دا و، ترڅــو پــه ټولنــه کــې د فحشــا، بــداخلاقۍ او فســاد مخــه نیــول شــوې وي، ولــې نــن مــې چــې د نجینــو د ښــونځیو دبنــدیو د نقصــان او ښــځینه ډاکترانــو د نشــتون لــه کبلــه دلتــه څــه ولیــدل، زه پــه دې یقینــي شــوم، چــې نجینــې کــه ټــول عمــر ســرتورې ښــونځیو او پوهنتونونــو تــه لاړې او راشــي بیــا بــه هــم دومــره د فحشــاء او فســاد لامــل نشــي، لکــه څــومره فحشــاء، بــداخلاقي، بــې شــرمي، بــې غیرتــي، بــې دینــي چــې یــوازې پــه یــوه روغتــون کــې د ښــځینه ډاکترانــو د نشــتون لــه وجــه صــورت نســي، نــو انشــاءالله تــر نــن وروســته بــه زمــا مبــارزه بــرعکس وي، پــه خپــل ټــول تــوان بــه هڅــه کــوم، ترڅــو زر تــر زره د نجینــو پــه مــخ د ښونځیو دروازې پرانستل شي.

زمــا د خبــرې ســره د موافقیــت پــه پــار مــې څــو مننــه تــرې کولــه، مبایــل تــه یــې زنــګ راغلــو، کــړل یــې پــه دروازه کــې څــوک راتــه منتظــر دي. پــه همــدې ســره مــو د مخــه ښــې لاســونه ســره ورکــړل، روخصــت مــې کــړو، کــه څــه هــم پــه لــور مــې یــې زړه بــد و، ډېــره باحیــا، شــریفه نجلــۍ وه، څنګــه مــې چــې مخکــې وویــل، ښــه ځــواني هــم خــدای ج ورکــړې وه، زښــته زیــات تکلیــف پــرې تېــر شــو، بلخــوا د بکــارت د پــردې پــه لــه منځــه تلــو ســره یــې، پیغلتــوب هــم زیــان مــن شــو، زړه کــې رالوېــده، چــې ګویــا پــه دې ســره بــه یــې راتلــونکې کــې خاونــد هــم د ټــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمــر لپــاره پــرې بــد ګومانــه وي، ددې شــرافت او ښايســت تــه پــه کتــو ، څنګــه چې ښايي هسې مينه به ورسره ونه لري.

امــا شــيخ صــاحب تــه ددې پيښــې پــه کېــدو خوشــاله وم، زړه کــې مــې وېــل: ځــه ښــه وې چــې خپلــه پــرې واوښــتې، د ولــس مشــکيلات دې درک کــړل، د نــورو مســلمانانو لــه درده خبــر شــوې، دلتــه لــه کــالونو راپــه دېخــوا ، هــره هفتــه دوې، درې خــاص همــدا ســتا د لــور پــه شــان نــاروغې ميرمنــې راوړل کېــږي، ددوی، خاونــدان، ورونــه، زامــن، هــر يــو يــې تــر تــا ډېــر غيرتــي دی، ولــې د مجبــورۍ لــه وجــې نارينــه ډاکترانــو تــه اجــازه ورکــوي، چــې درملنــه يــې وکــړي او هــره مســلمانه، افغانــه، خصوصــاً پښــتنه ميــرمن چــې د يــو نارينــه ډاکتــر لــه خــوا بربنــډېږي، ســل ځانکدنــه پــرې تېربــږي، دا ټــول ستاســو يــو شــمير افراطــي او سخت دريځه اشخاصو له لاسه.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { دا دريم مړی دی }

خـــدای ج دې وبښـــي، د روژې مبارکـــه مياشـــت وه، د کابـــل ښـــار دده افغانـــانو، ســـيمه کـــې د ســـړک پـــه څنـــډه روان وم، کـــه تللـــي ياســـت، يـــا مـــو پـــام کـــړی وي؟ نمـــوړې ســـيمه کـــې دايـــم ډېـــره ګڼـــه ګوڼـــه وي. خـــو پـــه هـــر حـــال، چـــې کيســـه اوږده نشـــي، لنـــډ بـــه يـــې وايـــم، زېرزمينيـــو تـــه نارســـيده تـــر پنجـــره هـــاخوا پيـــاده رو کې، ناري شوې:

- هاای مسلمانا کافر است، روزه راخود!

- آاا مردوم روزه راخورد...

چې ورومې کتل يو سړي کونډۍ ګيرې واله سړي هاخوا د دواخانې د دروازې په زينه کې ناست يو زيړ رنګي ځوان ته د لاس په اشاره سره، پرله پسې همدا نارې وهي، د نموړي ځوان په لاس کې د مدني اوبو بوتل و سر يې پرې وربسته کولو، که څه هم ما د اوبو په څښلو ونه ليدلو، خو داسې ښکارېده چې اوبه يې څښلې اوس د بوتل سر بسته کوي، همدې وخت کې يو ډبل ځوان چې دسمال يې تر سر تاو و، لاس يې ورواچولو د ابو بوتل يې په څپړ ترې ووهلو، بوتل هاخوا والوتلو، له دېخوا يو بل ځوان وار پرې وکړو، په دې يوه ډډې کې يې په لغت ووهلو له زينې نه يې راخطا کړو، په دې سره له شاوخوا وارونه پرې زيات شول، بلاخيره ټول ښار پرې راټول شو، دوکاندار، کراچۍ واله و، ډرېور هر سړي منډې راوهلې برخه يې پکې اخيسته، په هلک يې سمه د عرسات ورځ جوړه کړه، له تاسو يې څه پټه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



جذبه يې هم راوپاروله، زړه کې راتېره شوه: سړيه! په دې مبارکه روژه کې چې د هرې نیکۍ ثواب يو په لسه حسابيږي او ستا تر سترګو لاندې څه سپېڅلی او بې خطره جهاد روان دی، چې نن ګناهونه نه ټکوهي، برخه نه پکې اخلې، نو داسې وګڼه چې حورې او غلامان دې په ځان نه لوريږي، همدا و، چې پیچکش مې له جیب نه راویستلو، ورټوپ مې کړل، لنډه دا چې، اته، نهه دقیقې مو په هلک کې ښه سم کار وکړو، خنګه چې مخکې مې ووېل ګڼه ګوڼه بېخي زياته وه، هر چا زور وروهلو ترڅو يو سوک يا لغته يې وررسېږي غازي شي، له دې کبله ځینې ضعیفه او سپین ګیري هم تر پښو لاندې شول، اګر چې ضعیفه څه زه خپله د خلکو زور راباندې راغلو پښه مې بنده شوه، ولوېدم، شهادت کې مې هېڅ نه و پاتې هسې يو قسم مې ځان ترې راویستلو، خو په هر حال بلاخیره پولس راورسېدل، برقي ډنډې ورسره وې، په وهلو او ټېلوهلو يې خلک هاخوا دېخوا کړل، چې کتل مو دهلک نه داسې څه شی جوړ شوي و، فکر به دې هم نه و کړی چې دا به انسان و، لاس په يوه، پښې په بله، په وينو سرې ريتې ويتې جامې يې، په ټوټې ټوټې او وينو سرو اندامونو کې تاو راتاو وې، د خلکو ترې لرې کېدو سره سم يو چاغ تکړه سپینږيرې ځان پرې ورخطا کړو، له درد او ژړا نه شنه تبې وه، فقط په ستوني او سینه کې يو قسم پخېدلو، نور يې له خولې غږ نه راوتلو، پولسو واپس ترې راپوته کړو، سړي لويه ساه واخیسته، په همدې ډک ستوني ژړا او فریاد کې يې کړل: زوی مې دی، د ګردو تکلیف يې لرلو، د ډاکترانو د هدايت سره سم هر نیم ساعت کې دوه، درې غوړپه اوبه يې بايد هرو مرو څښلې وی، پرې جبري کړې يې وې. اوس مې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زينه کې کېښولو زه دواخانې ته ننوتلم دوا مې راخيسته چې تر شاه مې راوکتل سلګونه وحشيان پرې راتېول و، د محشر ورځ يې پرې جوړه کړې وه. په دې سره پوليسو د مجريمو کسانو په نيولو لاس پورې کړو، ټول يې چېرې نيولی شوی، بسته ښار و، صرف څلور پنځه کسان يې ونيول، نور نيم هسې وتښول، نيم داسې، ما هم ځان د پولې باغ عمومي په طرف راشيوه کړو، الله ج دې مغفرت وکړي، دا ښه و، چې ډېر لاس مې ورونه رسېدو، کنه ما خو کوشش کولو چې د پيچکش نوکه يې دې سترګو کې ورواچوم، اما د بيرو بار له وجه مې وس ونشو، يوازې يو، دوه ډېر کلک، کلک پيچکشه مې په دې سينه کې ووهلو د پيچکش نوکه تر ببخه ببخه پکې ننوتله. که څه هم دا دريم مړی دی چې داسې په سهوې سره يې قتل کې برخه رانه اخيستل کېږي، خو په دې هلک مې ډېر فکر خراب شو، اصلاً ده ته هم نه، بلکې پلار ته مې يې ډېر زړه وسو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { زړګی دې ښکته پورته نکړې }

جیــب کــې مــې د مبایــل کړنګــار شــو، زنــګ د ورېمــې و، مخکــې تــر دې چــې بلــې وو ایــم، ښــه پــه کــړس کــړس د خنــدا غــږ یــې راغلــو، شــیبه ورتــه غــوږ شــوم، وروسته مې غږ پرې وکړو:

- لکه چې لیونۍ شوې پخیر!

د یوې بلې نرمې خندا په کولو سره یې کړل:

- نه، ولې به لیونۍ کېږم، دومره خوشې دې؟!

- بیــا دې نــو حتمــاً (ګــل لالا) درتــه ویلــي چــې عمــران تــه زنــګ وکــړه، پــرې پــاتې پیسې نه ترې اخلم واده به مو وکړم، ځکه داسې خوشحاله یې!

نجلــۍ یــو ځــل بیــا یــوه خولــه ښــه پــه کــړس وخنــدل همــدې خنــدا کــې یــې راغبرګــه کړه:

- ګــوره کــوره یــادوه، خولــه بــه دې خــوږه وي، څــه اوبــو راوړې یــم، چــې خوشــې بــه مــې درکــړي؟ ۲۲ کالــه یــې خــوري راســره ایســتلې، ډوډۍ یــې راتــه راوړې، جامې یې راته کړې، ډاکتر ته یې بولې یم!

- نه وېل کېږي، ماوېل که مسلمان شوی وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره مې ښه ورونه لګېده، په تونده يې کړل:

- ښا، زما ګل لالا کافر دی امممم!؟

- ورکه شه ټوکه مې درسره وکړه!

- دا د تــا ټوکــه ده اممـــم؟! کاشــکې عقــل خرڅېــدلی يــو مــن مــې درتــه اخيستلو، چې نور دې د ټوکې او بې عقلۍ فرق کولی شوی!

- يــو مــن بــه دې ځــان تــه هــم اخيســتی و، اتــي دې چــې چاتــه تلفــون کــولی، لمــړی بــه دې ســلام اچولــو، د صــحت پوښــتنه بــه يــې دې کولــه. لکــه غلمينــه انــا مخکې له مخکې به نه ورششنيدلې!

په دې سره مې نجلۍ بيا لږ راموسکۍ کړه، وېل يې:

- غلمينه انا څوک ده!؟

- ورکــه شــه، غلمينــه انــا پرېــږده، دلتــه ډېــر ښــه انــار دي، کــه زړه دې ورتــه کېږي؟ چې يو کارتن درولېږم!؟

-انااار، چېرته يې!؟

- کندهار کې!

- افففف رښتيا ووايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



– بـل وخـت مـې دروغ درتـه ویلـي؟ تـه صـبر خـو چـې راویـې ګټـو، اتـي خـو مـو د نــامزادۍ هـــم کلمـــې ور شـــنې کـــړې، دا دی، دوې میاشـــتې وروســـته اوه کالـــه پوره کېږي!

– ددې کنـــدهار نیکمـــرغ نـــه خـــو هابلـــه ورځ راغلـــې یـــوه دې پکـــې دوې نشـــوه، وېـــل دې کارونـــه نـــه و، اوس بیـــا ولـــې ولاړې، لکـــه چـــې کرایـــې دربانـــدې ډېـــرې دي!؟

– نـــه، کنـــدهار کـــې نـــه پـــاتې کېـــږم، هـــرات کـــې مـــې کـــار پیـــداکړی، ببګـــا تـــه حرکت کوم پخیر، دعا کوه!

– هـــرات هـــم د همـــدې بدبختـــه وطـــن یـــوه برخـــه ده، نـــه بـــه کـــار وي، نـــه هـــېڅ هســـې به دې کرایې مصرف شي، که زما منې مه ځه!

– بیا نو لکه چې راتښتې له خیره!

پـــه دې ســـره نجلـــۍ یـــو ځـــل بیـــا دلمـــړي ځـــل پـــه شـــان ښـــه دزړه دخلاصـــه وخنـــدل، د خندا په وروستیو کې یې کړل:

– بـــوووووو دا خوبونـــه دې ابـــو تـــه وایـــه، پـــوه شـــوې؟ ځـــه خـــدای ج دې تـــر نکـــه تیر کړه!

– ښه درته وایم، چې ته هم نه راتښتې، کار هم ونکړم بیا نو څه وکړم!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د څه شي کار دې پيدا کړی؟

- يـــوه فابريکـــه ده، زړې اوســـپنې ويلـــې کـــوي، د اطـــاقونو د چـــت لپـــاره اوســـنيز ګاډر ترې جوړوي!

- اووووو هغـــه تـــه ورنشـــې ډېـــر خطرنـــاک کـــار يـــې دی، زمـــوږ يـــو همســـايه د بخملـــې خالـــه زوی، کابـــل کـــې همداســـې يـــوې کارخانـــه تـــه ورغلـــو، يـــوه مياشـــت يـــې پکـــې ونـــه وتلـــه، د لاس کـــوتې يـــې ماشـــين نيـــولې وې، تـــر غـــوټې کـــړې يـــې دي، بيچـــاره اوس هـــم پـــه يـــوه لاس معيـــوب دی، مـــور تـــه يـــې کيســـه کـــړې وه، چـــې هـــره ورځ د دوو، دريـــو نفـــرو لاس يـــا پښـــې پکـــې قطعـــه کېـــدل، ډېـــر کاريګر په کې وسوځېدل، ان هډوکي يې ايرې شول!

- نـــه انشـــاءالله زه احتيـــات کـــوم، معاشـــونه يـــې ښـــه دي صـــرف چـــې شـــپږ اوه مياشـــتې کـــار پکـــې وکـــړم، کـــه د الله ج رضـــاء وه، بيـــا دومـــره کېـــږي، چـــې د ګـــل لالا پـــاتې حســـاب دې پـــرې خـــلاص شـــي او هـــم د دواړو د واده يـــو متوســـط محفل پرې برابر شي!

- زه خـــو وايـــم مـــه ځـــه، هســـې بـــه ســـرګردانه شـــې، تـــه راشـــه توکـــل پـــه خـــدای ج يـــو ځـــل بيـــا مـــې ګـــل لالا تـــه ووايـــه، چـــې دا پـــاتې روپـــۍ قـــرض درتـــه پرېـــږدي، کلـــه چـــې د وطـــن حالـــت لـــږ ښـــه شـــو، کارونـــه پيـــدا شـــول، بيـــا بـــه يـــې درکـــړم، دا ځـــل بـــه زه هـــم ورتـــه ووايـــم، کنـــه پـــه خـــدای ج داســـې شـــرمېږم، د خپـــل واده پـــه اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمـولي خبـره هـم نشـم کـولی، دا خـو پرېـږده چـې ګـل لالا تـه مـې مخـامخ وواېـم، چـې دا پـاتې پیسـې یـو څـه وخـت عمـران تـه پرېـږده، ترڅـو واده یـې وکـړي، بیـا بـه یـې کـرار کـرار درخلاصـه وي، موسـکا کـې یـې پسـې زیاتـه کـړه: خو خیر نن به ستا لپاره دا نوم هم وکړم!

د نـوم کولـو لفـظ یـې څـه جالبـه غونـدې راتـه ښـکاره شـوه، زه یـې هـم لـږ موسکی کړم، خو په هر حال ځواب کې مې یې ورغبرګه کړه:

– نـه مـړې! هـا مخکنـی ځـواب مـې یـې چـې پـه یـاد وي، ولاکـه بیـا ورتـه وواېـم، چـې اوه کالـه نـور هـم ووځـي، پسـې اوږده مـې کـړه: دومـره بـې غیرتـه هـم نـه یـم، هـو رښـتیا تـه صـبر پـه دې اړه دې یـوه ټوکـه رایـاد کـړه وایـي: کـومې نجلـۍ د موسـی خـان پـه نـوم یـوه کلیوالـل هلـک سـره کـوزده کـړې و، نمـوړی هلـک چرسـي و، بیـا بـه یـې نـو کـه یـوه پیداکولـه کـه دوې پـه خپلـو چرسـو بـه یـې ورکـولې، لکـه زمـا او سـتا د کـوزدې یـې شـپږ، اوه کالـه وتلـي و، د واده لپـاره یـې یـوه روپـۍ نـه لرلـه، بـل ورځ پـه کـوم واده کـې د دریـا سـره پـه ټپیـو کـې، دکلـي نـورو نجینـو د موسـی خـان د چرسـو او مفلسـۍ پیغـور ورکـړی و، نجلـۍ پـه زړا شـوې وه، پـه دې مجلـس کـې دموسـی خـان خـور هـم ناسـت ده، د موسـی خـان خـور چـې دکلیوالـو نجینـو پیغـور او د ورینـدارې ژړا لیـدلې، دتسلې په پار یې له دې خوا ټپۍ وراچولې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړګی دې ښکته پورته نکړې

موسی به کونه ورکوي تابه ساتینه!☺

ټپـې تـه دواړو یـوه شـیبه وخنـدل، پسـې زیاتـه مـې کـړه، مقصـد د موسـی خـان دخـور خبـره زړګـی دې ښـکته پورتـه نـه کـړې، څنګـه مـې چـې مخکـې درتـه ووېـل، دومـره بـې غیرتـه هـم نـه یـم، زه غـواړم چـې واده مـې پـه حلالـو پیسـو وکـړم، ځکـه دا دټـول عمـر سـودا ده، هسـې نـه بیـا مـو راتلـونکی خـراب شـي، کنـه منـه داسـې غلـه ملګـري لـرم، چـې یـوه شـپه ورسـره ووتلـم، ولا د پنځـو وادونو پیسې خو درته راپیدا کړم!

– امممممم! ته د غلو سره هم ملګری کوي؟

– نـه، غلـه نـه دي، قسـم ده، هـر یـوه یـې تـر مـا ډېـر تعلـیم کـړی، خـو کـار نشـته، تر مورږ لویې لویې ستونزې لري، حالاتو مجبور کړي!

– ښـا ، نـه غـلا دې ورکـه شـي، خـو ماوېـل کارونـه نشـته، پـه اوه کـالونو کـې دې، ایلـه دری لکـه روپـۍ ورخلاصـې کـړې، دا دوه لکـه نـوري ترڅـو ورخلاصـوې پنځـه کالـه خـو نـور هـم اخلـي، خبـرو کـې یـې د نرمـې خنـدا پـه یـو ځـای کولـو سـره زیاتـه کـړه: پـه خـدای ج زه اوس داسـې شـوې یـم، لکـه د اتیـا کالو بوډۍ هیڅ د ځوانۍ او پیغلتوب مستي نه ده راکې پاتې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا کې مې ورغبرګه کړه:

– د مستۍ غم مه کوه، زما يې چلونه زده دي، داسې به دې مسته کړم، که ژوند و لکه هوسۍ همداسې ټوپونه به وهې:

ويې خندل:

– څنګه چلونه!؟

– درته وښايم؟

– هو، خو ګوره، که بې حيا خبره دې وکړه، داسې به دې د خولې خوند درجوړ کړم!

– ښا، ځه نو بيا دې وي!

– امممم زه پوه شم چې ته غواړې څه ووايې، خو ښه و چې ودې نه ويل کنه!!! خبره يې همدا د ګوانښ په نقطه پرېښوده، نور يې څه ونه ويل.

خندا سره مې ورغبرکه کړه:

– لمونځ قضاء کېږي، ځه فعلاً دې په خدای ج سپارم، ماښام ته انشاءالله که ژوند و، بيا زنګ درته وهم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خــدای پامــانۍ پــه کولــو ســره مــې تمــاس همدالتــه ورقطعــه کــړو، تــر ســرک هــاخوا جومــات کــې لــه لمانځــه کولــو وروســته، کــرار کــرار د هــرات د ســه صــد چهــار (۳۰۴) مــوټرو اډې تــه ورغلــم، لمــړی مــوټر ډک و، یــوازې شــاته ســیټ کــې د دوو نفــرو ځــای پکــې پــاتې و، لــه دې تیــر شــوم، د دوهــم مــوټر د ډریــور تــر شــا د شیشــې طــرف تــه د یــوې چــوکۍ ټکــټ مــې وکــړو، واپــس راښــکته شــوم تــر څــو مــوټر ډکیــدو تــر څنــګ یــې یــوه هوټــل کــې ورتــه منتظــر شــوم، د شــپې آتــه بجې وې، کلینر را ناري کړې:

- بیا بخیر حرکت است!

مــوټر کــې کیناســتو، د ډریــور د حکــم ســره ســم مــو، د دعــا لپــاره لاســونه پورتــه کــړل، خلاصــه ټولــه شــپه مــو پــه ســفر تیــره شــوه، د ســهار آذانونــو تــه کــم وخــت پــاتې و، هــرات تــه ورســیدو لــه مــوټر نــه د راښــکته کیــدو پــه محــال مــې مبایــل راویســتلو، ترڅــو ســاعت څــو دی؟ چــې کتــل مــې ورېمــې لــس، پــنځلس زنګونــه وهلــي و، نیــت مــې وکــړو، چــې زنــګ ورتــه ووهــم، بیــا مــې ویــل اوس بــه ډیــره کلکــه ویــده وي، لــه خــوب نــه بــه یــې وباســم، مبایــل مــې واپــس جیــب تــه کړلــو، جیــب کــې یــې لا تکــرور نــه و نیــولی؛ چــې زنــګ ورتــه راغلــو، واپــس مــې راویستلو ورېمه وه، د اوکې سره سم یې په تونده ویل:

- زنګ ولې نه پورته کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مـوټر کـې وم نـه يـم پـرې خبـر شـوی، اوس مـې زنـګ درتـه وهلـو خـو ماوېـل ويده به يې، زه راورسيدم همدا اوس له موټر نه راښکته شوم!

- په دې شپه کې اوس چيرته ځې؟

- دلتـه هوټـل شـته، تنهـا زه نـه يـم، ډېـر مسـافر دي، ځـه ارامـه ويـده شـه، سـهار بيا زنګ درته کوم، اتې مې همدلته پسې ورقطعه کړو، نجلۍ غوسه وه.

سـهار لـه لمانځـه وروسـته مـې د فـابريکې پوښـتنه وکـړه، لـه ښـاره لـرې يـوه دښـته کـې وه، د چـای خوړلـو پـه محـال مـې ورمـې تـه زنـګ وکـړو، تـر سـلام او حال احوال اخيستلو وروسته مې ورياده کړه:

- فابريکـه لـه ښـاره لـرې پـه کومـه دښـته کـې ده، وېـل کېـږي هلتـه مبايـل هـم کـار نـه کـوي، مقصـده چورتـه مـه وهـه، د جمعـې جمعـې پـه ورځ انشـاءالله ښـار تـه راښـکته کېـږم، احوالـل دې اخلـم، پـه همـدې سـره مـو د شـبکې د سـتونزې لـه کبلـه تمـاس قطعـه شـو، خبـرې مـو خلاصـې وې، اتـي زه هـم پسـې ونـه ګرځېـدم بيـا مـې زنـګ ونـه وهلـو، تـر چـای څښـلو وروسـته مـې د فـابريکې پـه لـور حرکـت وکـړو، ډېـره لار وه، سـرک هـم خـراب و، ډرېـور د مـوټر سـره احتيـات کولـو، لنـډه دا چـې شـاوخوا پـه يولسـو بجـو فـاريکې تـه ورسـيدم، د کـوم کـس سـره مـې چـې رابطـه کـړې وه، هغـه مـې پيـداکړو، نمـوړی د فـابريکې د بـرق رسـونې مسـول و، شـپه مـې ورسـره وکـړه، سـبا يـې دکارمنـدانو مشـر تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفـــي کـــړم، ســـم د لاســـه یـــې د فـــابریکې دکـــارکوونکو خـــاص یـــونیفرم راکـــړو، ســـلګونه کـــارګر او مـــوټر پـــه کـــار مصـــروف و، بـــېلا بېلـــې دنـــدې یـــې مـــخ تـــه وړلـــې، کـــارونو تـــه پـــه کتـــو د کارمنـــدانو معاشـــونو هـــم فـــرق لرلـــو، تـــر ټولـــو ښـــه معاشـــونه د هغـــو کســـانو و، چـــې ویلـــې شـــوې اوســـپنه بـــه یـــې د اور لـــه بټیـــو نـــه راایســـتله، د ګـــاډرو قالبونـــه بـــه یـــې تـــرې ډکـــول، پـــه دوهـــم قـــدم کـــې د هغـــو کارمنـــدانو معاشـــونه ښـــه و، چـــې د اري لـــه خـــولې نـــه بـــه یـــې اوســـپنې راجګـــولې د اور بټیـــو تـــه بـــه یـــې وراچـــوې، دریـــم ګـــام کـــې د اره کشـــانو معـــاش ښـــه و، همداســـې پایـــه پـــه پایـــه معاشـــونه ټیټېـــدل، خلاصـــه مـــا هـــم د ۲۵ زره افغـــانۍ میاشـــتني معـــاش پـــه مقابـــل کـــې د هغـــو کارمنـــدانو ســـره شـــروع وکـــړه، چـــې د اري لـــه خـــولې نـــه یـــې اره شـــوې اوســـپنې راوړلـــې، د اور بټیـــو تـــه یـــې ورغورځـــولې، کـــه څـــه هـــم لمړیـــو کـــې ورســـره نابلـــده وم، داســـې درانـــه کارونـــه مـــې نـــه ؤ کـــړي، لـــږ راتـــه مشـــکیله وه، خـــو کـــرار کـــرار ورســـره بلـــد شـــوم، ان تـــر دې چـــې یـــوه میاشـــت وروســـته مـــې د رســـمي کـــار ســـربیره دوه، درې ســـاعته اضـــافه کـــاري هـــم کولـــه، چـــې پـــه دې ســـره میاشـــتانه تـــر ۳۵/۳۰ زره افغـــانۍ راتـــه جـــوړې دې، خوشـــحاله وم، کـــه څـــه هـــم زور بـــاره و، امـــا بیـــا هـــم ښـــه پـــه طبعیـــت مـــې کـــار کولـــو، د جمعـــې، جمعـــې پـــه ورځ بـــه ښـــار تـــه ښـــکته کېـــدم، وږمـــې تـــه مـــې زنـــګ وهلـــو، ددې د حـــال احوالـــ اخیســـتلو عـــلاوه، د خپـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



صـحت او کـار پـه اړه بـه مـې هـم ډاډ ورکولـو، حتـا تـر هغـو پيسـو چـې ماتـه بـه جـوړې دي، څـه زيـاتې بـه مـې ورتـه ښـودلې، ترڅـو خوشـحاله اوسـي، بلاخيـره لـه پنځـه مياشـتې کـار کولـو وروسـته، د شـپږمې مياشـتې پـه لمړيـو کـې غالبـاً پـه دريمـه نيټـه يـو ځـل بيـا د جمعـې ورځ وه، د تـل پـه څيـر ښـار تـه ښـکته شـوم، حمـام مـې وکـړو، اتـي کـرار کـرار راغلـم د ليلـې پـارک د شـنه چمـن پـه مـنځ کـې مـې د اوږې دسـمال رالانـدې کـړو، لـه پاسـه پـرې کيناسـتم، سـم دلاسـه مـې ورېمـې تـه زنـګ وکـړو، تـر اوليـه سـلام کـلام وروسـته مـې بيـا هـم هيلـه ورکـړه، چـې ګويـا صـرف دوې مياشـتې نـور کـار وکـړم، د ګـل لالا د پيسـو دخلاصـېدو عـلاوه دې، د دواړو يـو سـپک د واده محفـل هـم پـرې جـوړېږي، اتـي پـه ډېـرو ليوني خوشحاله دې!

نجلۍ په موسکې انداز کړل:

- ښـا خـداى ج دې دا دوې مياشـتې نـور هـم خيـر درپـيښ کـړي، بيـا يـې فابريکـه کـې د شـپې د ځـاى او خـواړو پوښـتنه وکـړه، ترڅـو مـې ځـواب ورکولو، کړل يې:

- ولې ارګمي کوې خوب درځي؟

د لمړۍ پوښتنې ځواب يې پاتې شو، د دوهمې په ځواب کې مې يې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نــه، خــوب نــه راځــي د کــار ســره بلــد شــوی یــم، کومــه ورځ چــې بېکــاره شــم ټــول وجود مې مړ، مړ درد کوي، شخ پخ وم!

- اووو کاشـــکې رالنـــډوی، پـــه خـــدای ج داســـې چـــاپي مـــې زده ده، ددې شپږو میاشتو شخي مې دې په نیم ساعت کې درنه ایستله!

- کاشـــکې درلنـــډ وی، چـــاپي کـــړی بـــه دې هـــم وم او حیـــا دې وي.............. مقصد دلته مې یوه وړکې ټوکه بله هم ورسره ملګرې کړه!

د ټوکې سره مې نجلۍ حساسیت وکړو سمه دمه په جنګ شوه:

- خــدای ج دې حــال تــر دې بتــره کــړه، بــې شــرفه، بــې حیــا ، بــس کــړه چــې هــا بلــه ورځ مې څه درته ونه وېل، ته بله ورځ.....

خبره کې یې ورولویدم:

- ورکه شه، ډېره مه ټرېږه، خوله مې غلطه شوه!

خندا او غوسه یې سره ګډه شول کړل یې:

- ښا بیچاره! چې مور ته دې کومه ورځ خوله ورغلطه نشي!

نظــر هغــه ټــوکې تــه دا خبــره یــې واقعــاً جالبــه وه، هــر څــو مــې ځــان کــابو کولــو، خــو نشــوه لــږ رانــه وخنــدل شــول، زمــا د خنــدا پــه اورېــدو نجلــۍ ســم کــړس وهــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتــي لــه مــا نــه هــم آتــڼ شــوه، یــوه لحظــه مــو ښــه ســره وخنــدل، وروســته مــې ورغبرګه کړه:

– باور وکړه، که دعقل نوم وي درکې، فقط د ښکرو کمی دې دی!

– امممــم! حقیقــت تــریخ وي، چــې داســې بــې واکــه خولــه دې ده، رښــتیا وایــم کومه ورځ دې مور ته ورغلطه نشي، ورته ونه وایې چې...

بیا مو هم لږ سره وخندل زر مې ځان کابو کړو:

– ورکــه شــه، مبایــل کــې مــې چــارج کــم دی، چــې قطــع نــه شــي، پــارک تــه مخــامخ دوکــانو کــې ډېــر ښــه د چرمــو افغــاني کــالي ښــکاري، کــه خوښــېږي دې، چــې درتللم یو جوړ درته واخلم؟!

– هــو! خوښــېږي مــې، خــو دلتــه هــم پیــداکېږي، تــه دې اوس پیســې مــه ښــوروه، خیره بیا به یې واخلو!

– اووووو لیــونۍ! پــه دې نــه کمېــږي، چــې شــپږ اوه میاشــتې کــار کــوم، لــس ورځــې نــور یــې هــم نــه صــحیح، هغــه د چــا خبــره، ســل پــه لالــي ولاړې دا دوې یــې د بنګړو!

نجلۍ وخندل کړل یې:

– داسې نه وایې چې په لالي ولاړې، وایې په لالي پورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افففــف! تــه هــم پــه خبــر کــې خبــره جــوړه وې، دواړه یــوه معنــا لــري، پســې زیاتــه مــې کــړه، هــر جــوړ کــالي دې چــې ښــه دربانــدې جــوړ وي، انــدازه یــې واخله بیا یې ماته ووایه، چې په همغو اندازه یې واخلم!

- وایم درته چې، مه یې اخله بیا یې دلته اخلو!

- نــه دا ډېــر ښــکلي دي، منــه چــې یــو جــوړ مــې نــه وي درتــه اخیســتي، یــو ځــای کــې مــې ډېــر ښایســته زنانــه یــې ساعتونه ولیــدل یــو لــه هغــو نــه هــم درتــه اخلــم، پــه اخیــره ورځ د هــرات ښــار کــې ګــرځم، کیدشــي دې مــارکیټونو کــې نــور هــم ښــه، ښــه شــیان وي، کــه مــې کــوم بــل څــه خــوښ شــول هــم دروړم یــې، خــو خــو خو...

- خو خو څه؟

- خــو، خــو یعنــي تــه بــه هــم نــور لــږ راهوښــیارېږې، اوســنۍ ټــولې نجینــې خپلــو نــامزادانو تــه، مینــه آغــا، نــور چشــم، جیګــر او دې تــه ورتــه نــورو ښــکلو نــامونو غــږ کــوي، مقصــد لــه دې وروســته، تــه هــم بایــد یــو څــه اخــلاق خوشــې کــړه، زمــا خــو شــیرآغا نــوم خوښــېږي، بیــا هــم کــه ســتا حافظــه کــې کــوم بــل ښــه نــوم وي هــم صحیح دی!

نجلۍ لمړی یوه خوله ښه وخندل، د ځان له کنترولو سره سم یې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بـــووووووو! بیخـــي دې اشـــتیا نشـــته، بـــې غمـــه اوســـه، پـــه خـــدای ج چـــې ټـــول هـــرات راتـــه راوړې، کـــه خـــو مـــې پـــه دې شـــان هوښـــیاره کـــړې، زه بـــه څنګـــه ښـــه ښکارم شیرآغا!!!!

نـــور خبـــره تـــرې ولاړه یـــو ځـــل بیـــا خنـــدا واک تـــرې واخیســـت، ســـاه مـــې نیـــولې وه، د خندا په وروستیو څپو کې مې یې ورغبرګه کړه:

- ولـــې خانـــدې؟ د نګینـــې بـــابو خبـــره مـــرګ دې بوځـــه، خـــو ښـــه درتـــه وایـــم، ولا دومـــره ښـــه بـــه ښـــکارې! قســـم ده، ان پـــه ګـــل لالا او مورجانـــه بـــه دې خلـــک آفرینونه وایي!

د خندا په ساتلو سره یې کړل:

- هـــېڅ یـــې دې نـــه وایـــي، ګـــل لالا او مـــور جانـــه مـــې د چـــا افرینونـــو تـــه اړتیـــا نـــه لري!

- د فارســـي زبـــانو خبـــره: ازمـــن فقـــط ګفـــتن اســـت، نـــور دې خوښـــه، مقصـــد خپلـــه بـــه ښـــه ښـــکارې، شـــیراغا ســـتړی مشـــې، شـــیراغا لـــړ رانـــژدې شـــه؟ شـــیراغا هســـې مې کړه، شیراغا داسې مې کړه!

نجلۍ یو ناڅاپه تونده شوه کړل یې:

- له دې هسې او داسې نه دې مطلب څه دی امممم!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس مې مبايل کې چارج کم دي، دا به بيا که ژوند و، د واده په اوله شپه درته تشريح کړم، هغه هم پس له دريو بجو!

نجلۍ مې بيا لږ را موسکۍ کړه، کړل يې:

- چې د واده اوله شپه پسې مړ نشې بيچارګيه! بيا داسې خوشې دي، زه به تر دريو بجو تاته وينښه يم، چې ته صبر د خان زوی هسې او داسې راته تشريح کړي، پس له دريو ځنګه، ولې وختي؟

- لمړی د ږيرې نورې مهمې کيسې دي، د هسې او داسې تشريح ته ايله درې بجې نوبت ورسيږي!

- ښا، تا لکه چې ښې د ادم خان او دورخانۍ نقلونه راته ساتلي، د څه شي مهمې کيسې؟

- نه ورکه شه، ادم خان غريب په هغو شپه چا ته ورياد شوی؟ هغه د سمو کيسو شپه ده!

- امممم! زه پوهيږم چې ته غواړې څه ووايې، خو که له څړيو دې پښې ويستلې، چې بيا ونه وايې، زه نه وم خبرا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



– نــه مــړې، اصــلاً تــه خپلــه غــوارې لــه ځېيــو مــې پښــې وباســې، خاصــې کيســې رانــه واورې، خونــد تــرې واخلــې، خــو بنــده يــې بولــه، دا ارمــان بــه دې ګــور تــه يوسې، زه دومره بې ادبه نه يم!

په دې سره مې يو ځل بيا ښه مزداره وخندوله، پسې کړل يې!

– وی‌ی‌ی قربــان ځــومره ښــه ســړی يــې مــا خــو اوس وپيژنــدلې چــې تــه دومــره بــا ادبه يې!

موســکی شــوم، مخکنــۍ ځينــې شــوخې خبــرې يــې يــاد تــه راوســتلې، ولــې بيــا مې هم له خپلې خبرې نه د دفا په پار ورغبرګه کړه:

– هلکــان ټــول باادبــه دي، خــو نجينــې يــې نــه پرېــږدي، غــږوي يــې، پســې غــږوي يې، ترڅو هغه څه ترې واوري چې ددوئ مطلب وي او خوند ترې اخلي!

– هــو! د واده پــه اولــه شــپه د مهمــو کيســو يادونــه هــم مــا وکــړه کنــه، زه بــې ادبــه يم؟

– مهمــو کيســو کــې خــو شــک نشــته او نــه هــم دا د بــې ادبــۍ پــه معنــا ده، صــرف ســتا فکــر منفــي دی، هــر څــه کــې بــې ادبــي درتــه ښــکاري او يــا هــم هغــه متــل دی چــې وايــي: د وږي نظــر پــه دســترخوان وي، قصــداً يــې د بــه ادبــۍ خواتــه کاږې، خوښېږي دې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خندا سره ګډ يې کړل:

- امممـمـم! هـرات کـې سـم چالاکـه شـوی يـې چـې تاتـه څـه شـی درکـوي؟ پـه رڼـو سـترګو کـې دې د خپلـو بـامو واورې، زمـا پـه بـامو راواچـولې، تـه مهربـاني وکـړه، چـې بـې ادبـي نـه ده، بيـا نـو دا د واده پـه اولـه شـپه د مهمـو کيسـو يادونه څه معنا لري؟

- مـا خـو درتـه ووېـل چـې تـه پـه هـر څـه کـې د بـې ادبـۍ پـه لټـه يـې، همغـه مخکنـۍ خبـره ده، چـې د ورېي نظـر پـه دسـترخوان وي، کنـي د دواده د اولـې شـپې د مهمـو کيسـو لـه جملـې، مـثلاً زه پـوهېږم چـې سـتا لمـونځ او اودس نـه دي زده، لمـړی بايـد لمـونځ، اودس دروښـايم، بيـا د يـوې بلـې ډېـرې مهمـې کيسې نوبت رارسېږي، همداسې به پسې ورځو!

نجلۍ د مخکې په شان يوې خولې خندا وروسته کړل:

- بـوووووو داسـې ووايـه، چـې زه يـې درنـه زده کـوم، مـا شـکر پـه درې کلنـۍ کې اودس او لمونځ زده کړي، له همغو وخت نه پرې ولاړه يم!

- د چا نه دې زده کړی!؟

- د ګل لالا نه مې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماوېـل چـې نــه دې دي زده! پخــوا مکتبونــه نــه و، ســپينږيري ټــول بــې ســواد دي، نــه يــې شــوي کــولی ترڅــو لــه کتابونــه يــې مســتقيماً صــحيح لمــونځ زده کـړی وای، همغــه د پـلار او نيکونــو نــه يــې سلســله پــه سلســله رانقــل کـړی، تـر دوی پــورې پــه داســې حالــل را رســېدلی چــې د هــر ســپينږيري لمــونځ ۸۵ فيصده مشکيل لري، ښا له هغوئ نه به نو تا څه شی زده کړي وي؟

خبرې مې خوند ورنه کړو، په شخه يې کړل:

- الااااا جــاررررر کاشــکې دا دوه ټکيــه مکتــب دې لــړ مخکــې وېلــی وای، تــه راځــه همــدا اوس بــه يــې زه هــم درتــه تيــر کــړم، تــه يــې هــم تيــر کــړه چــې د چــا صحيح دی؟

- نه اوس خوند نکړي!

پــه دې ســره نجلــۍ بيــا هــم ښــه پــه کــړس وخنــدل، چــې ګويــا خپلــه دې نــه دی زده پــه دې بهانــه ځــان رانــه خلاصــوې، لا يــې خولــه لــه خنــدا نــه وه راټولــه بدبختانــه مبايــل مــې چــارچ خــلاص کــړو، د لــړزې پــه کولــو ســره همدلتــه پســې ورقطــع شــو، زړه مــې بــد شــو، ولــې چــې ســاعت تــه مــې وکتــل يــولس بجــې وې، تقريبــاً يــونيم ســاعت ســره غږېــدلي و، خــو وخــت بيخــي تېــز تېــر شــوی و، مــا داســې انګيرلــه لکــه لــس، پــنځلس دقيقــې چــې غږېــدلي و، همــدې ســره مــې زړه کــې راتيــره شــوه: دا نجينــې هــم الله ج عجيبــه مينــه نــاکې او خــوږې پيــداکړې، هــېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســړی نــه تــرې خســته کېږي، څــومره يــې چــې غــږوې، خونــد کــړي، څــومره يــې چــې خنــدوې خونــد کــړي، حتــا غوســه، ژړا، ګوتخنډنــه يــې بېــل کيــف لــري، همــدې وخــت کــې يــو فاميــل راغلــو دېــګ بخــار او د چــايو ترمــوز د يــوې نجلــۍ لاس کــې و، نــورې ښــځې، ماشــومان لــه اخيــره پســې و، زه تــر يــوه ونــه لانــدې ناســت وم، ډېــره ښــه ســيره يــې لرلــه، خــو نــور مــې دکيناســتو وخــت نــه لرلــو، راجــګ شــوم، ځــای مــې دوی تــه ورخوشــې کــړو، کــرار کــرار د مــوټرو تــم ځــای تــه راغلــم، د يــوې کــرولا يــو نفــر ســواري کمــه و، همــداې کــې کيناســم، شــاوخوا يــوه بجــه وه، فــابريکې تــه ورســېدم، طعــام خــورۍ تــه ننــوتلم ډوډۍ مــې وخــوړه، لنــډه دا چــې ورځ تيــره شــوه، ســبا ســهار مــې لبــاس کــار واغوســتلو، دپخــوا پــه شــان خپــل کــار تــه حاضــر شــوم، درې څلــور ورځــې مــې پرتــه لــه کــوم مشــکيل نــه کــار وکــړو، پنځمــه ورځ چــې د همــدې اونــۍ دچارشــنبې ورځ وه، د نــورو ورځــو پــه څېــر خپــل کــار تــه حاضــر شــوم، د اره کشــۍ لــه خــولې نــه مــې ټوټــه شــوې اوســپنې راپورتــه کــولې، د فــابريکې لخــوا پــه راکــړل شــو، مخصوصــو کراچيــو کــې مــې بــارولې هــاخوا د اور بټيــو تــه مــې ورغورځــولې، پــه دې ورځ يــې هغــه د روســانو نــه دپــاتې شــويو ټانګونونــه، يــو لــوی شــين ټانــګ اره کــړی و، کــه څــه هــم حجــم بــه يــې د نــورو مــوټرو د اوســپنو لــه ټوټــو ســره يــو شــی و، خــو وزن يــې نســبت نــورو اوســپنو تــه درې چنــده زيــات و، ډېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســخت یــې ســترې کــړم، څــو ځــل مــې اره کشــانو تــه هــم ووېــل، ترڅــو لــږ یــې وړې، وړې ټــوټې کــړي، خــو دا کــار ددوي پــه اختیــار کــې نــه و، اره لــه ســرکار نــه پــه همــدې انــدازه ورتــه برابــره شــوې وه، خلاصــه تــر یــولس نیمــو بجــو مــې کــار وکــړو، څــه هــوا ګرمــه وه، څــه کــار درونــد و، خولــو کــې لونــد خوشــت وم، پــه همــدې وخــت کــې چــې اتــي د غرمــې د ډوډۍ او زمــوږ د یــونیم ســاعته دمــې وخــت رانــژدې و، وروســتۍ شــیبې وې، یــوه پنــډه اوســپنه وه، لاس مــې تــر لانــدې کــړل، وس مــې ونشــو درنــه وه، دوهــم ځــل مــې څــه زیــات لاس تــرې ورلانــدې کــړل، پــوره زور مــې ورســره وکــړو، دا ځــل هــم مــزې لــږ وښــورېده، خــو دا چــې د ارې لــه دې یــوې منځنــۍ خــولې نــه د اوســپنو جګــول، پــه هــر صــورت یــوازې زمــا مکلفیــت و، هــرو مــرو مــې بایــد پورتــه کــړې وای، چــون د همــدې دنــدې د ادا کولــو ټتــر مــې وهلــی و، معــاش مــې یــې اخیســتلو، د دریــم ځــل لپــاره مــې ســمه پښــه ورتــه وخرلــه، چــې زور مــې ورســره وکــړو تــر یــوې انــدازې مــې راپورتــه کــړه، خــو دپورتــه کېــدو ســره ســم مــې د نامــه تــر غــوټۍ لانــدې د سـپاخه پــه ســاحه کــې داســې یــوه دردناکــه څړیکــه شــوه، لکــه چــا چــې خنجــر را اچــولی وي، پــورې ورې رانــه وتلــی وي، اوســپنه واپــس رانــه ولوېــده، زه هــم پســې ور ړنــګ شــوم، څــو لحظــې مــې تــر ســترګو ســره او شــنه ســپرغي، تاویــدل راتاوېــدل، بلاخیــره اســمان مــې هــم پــه ورانــدې رنــګ بــدل کــړو، لکــه د اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـکروټه تـک سـور ښـکاريدو ، اتـي پـه ځـان نـه يـم خبـر شـوی، مگـر ماخوسـتن و ، چـې سـترگې مـې رارنـې کـړې، د هـرات ښـار پـه مرکـزي روغتـون کـې د بسـتر پـه چپرکـټ پـروت وم، د فـابريکې يـو کارمنـد (عصـمت) مـې تـر څنـگ پـه چـوکۍ ناسـت و ، فکـر مـې وکـړو ، پـوه شـوم هـر مشـکيل چـې دي، د همغـې اوسـپنې لـه پورتـه کولـو راجـوړ شـوي، ومـې غوښـتل لـه عصـمت نـه پوښـتنه وکـړم، چـې څـه راشـوي؟ دده پـه لـور د ورکړيـدو پـه پـار مـې معـاملي ټکـان وخوړلـو ، د سـپاخه پـه سـاحې کـې مـې بيـا داسـې يـوه خطرناکـه څړيکـه تيـره شـوه، ورسـره چيغـه مـې کـړل پـه سـترگو مـې تـوره شـپه شـوه، نـژدې و ، چـې بيـا بـې حالـه شـم، عصـمت مـې زر پـه سـينه لاس کېښـودل، څـو دقيقـې همداسـې ارام پـروت وم، درد کـرار کـرار ارام شـو ، خولـه مـې وچـه وه، لـه عصـمت نـه مـې اوبـه وغوښـتې، خپلـه مـو ترمـوز، گـيلاس، مـيلاس څـه شـی نـه لـرل، هـاخوا د يـو بـل نـاروغ لـه ترمـوز نـه يـې نـيم گـلاس چـای راتـه راوړو ، تـر يخيـدو وروسـته مـې همداسـې پـه پروتـو يـو ، دوه غوړپـه تـرې وڅښـلو ، بيـا مـې پوښتنه ترې وکړه، ډاکتران څه وايي، څه راشوي!؟

- د معايناتو نتيجه دې تر اوسه نه ده راوتلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنـــډه دا چـــې ســـبا مـــازديګر يـــوې نرســـې د المـــارۍ لـــه پاســـه معاينـــات راتـــه کېښـــودل، د دوهمـــې شـــپې تـــر تېرېـــدو وروســـته ســـهار پـــه نهـــه بجـــو ډاکتـــران راغلل زما د معايناتو تر کتلو پس يې عصمت ته کړل:

- نـــاروغ دې بايـــد زر تـــر زره پاکســـتان تـــه ورســـوې دلتـــه يـــې اعـــلاج نـــه کېـــږي، ډېـــر ســـخت خفـــه شـــوم، خـــو لـــه پيښـــې تښـــته نشـــته، عصـــمت مـــې ورولېږلـــو، لـــه فـــابريکې نـــه يـــې زمـــا حســـاب راواخيســـتلو، د فـــابريکې اداري صـــرف دومـــره مرســـته وکـــړه، چـــې عصـــمت يـــې د پـــايواز پـــه صـــفت راســـره ولېږلـــو، معـــاش يـــې حوالـــه و، څـــه ســـر مـــو خـــوړوم، پـــه دريـــم ســـهار مـــې د ډيورنـــډ تـــر فرضـــي کښـــې يـــو کـــرولا مـــوټر دربـــس کـــړو، چـــوکۍ مـــو پکـــې چپـــه کـــړې وې، اوږد پکـــې پـــروت وم، کـــه څـــه هـــم پـــه دې وخـــت کـــې لـــږ راکيناســـتی هـــم شـــوم، خـــو پـــه هـــر حـــال د ډيورنـــډ تـــر کرښـــې هـــاخوا مـــو يـــو بـــل د پاکســـتان مـــوټر دربـــس کـــړو، بلاخيـــره ماسښـــين پـــاو بانـــدې درې بجـــې يـــې د کـــوټې ښـــار پـــه ســـطحه د يـــو مجهـــز خصوصـــي روغتـــون مخکـــې ښـــکته کـــړو، چـــې خبـــره اوږه نکـــړم پـــس لـــه درې ورځې بستر او معايناتو تر تکميلېدو وروسته ډاکتر کړل:

- نـــن هـــم دلتـــه پـــاتې شـــه، دواه درتـــه لـــيکم، دا درد او پړســـوب بـــه دې ښـــه شـــي، امـــا پـــه تاســـف ســـره اساســـي عـــلاج دې نـــه کېـــږي زور بـــاري دې کـــړې، خپلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنســي قــوه او يــا هــم مــردي دې د تــل لپــاره لــه لاســه ورکــړي، د عصــر طبابــت يې له درملني عاجز دی، ولوکه هر څېره ولاړ شي.

ففففــف دا خبــره نــه وه، د عزرايـــل ع ګــورز و، پــري ووهلــم، يــوه خــدای ج مــې وضــعيت ليــدو، خــو رښــتيا يــې ويلــي چــې انســان تــر تيــږه کلــک دی، لا هــم ناســت وم ســاه مــې اخيســته، حيــران حيــران مــې د اطــاق چــت او دېوالــو تــه کتــل، زړه کــې مــې ويــل کاشــکې د اور پــه هغــو ســرو بټيــو کــې ورلوېــدلی وای، مګــر دا کيســه نــه وای راشــوې، لکــه نشــه مــې چــې کــړې وي، تــر ډېــره مــې داســې حساســه ولــو لکــه چيرکــټ مــې چــې روان وي، پــه عينــي حالــ کــې مــې د راتلــونکي لپــاره د خپلــو هــدفونو، هيلــو او اميــدونو يــوه، يــوه جنــازه تــر ســترګو تېرېــده، لنــډه دا چــې، ورځ د خفګــان پــه انتهــا کــې تيــره شــوه، ماښــام ورېمــې زنــګ ووهلــو، البتــه لــه يــادولو دې پــاتې نــه وي، کلــه چــې د ډيورنــډ تــر کرښــه راواوښــتلو، لمــړی مــو يــو پاکســتانی ســيمکارت واخيســتلو د فــابريکې ســره مــو تمــاس پــري نيولــو، د ملګــرو غوښــتنه وه، همغــه ورځ مــا پــه لنــډو کــې د ورېمــې ســره هــم څــو خبــرې پــري کــړې وې، خــو د خپلــې نــاروغۍ او پاکســتان تــه د راتلــو مــې نــه و ورتــه ويلــي، شــماره لــه همغــو ورځــې نــه ورســره پــاتې و، کلــه مــې چــې پخــوانۍ شــمارې ډېــرې شــپې کــار نــه و، کــړی دې نمبــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـه یـې زنـګ ووهلـم، د اوکـې سـره پیوسـت مـې غـږ پـرې وکـړو بلـې! نجلـۍ غـوږ نیولی و، غږ یې ونه کړو، بیا مې کړل: بلې وږمې آورې؟!

ویــې پیژنــدم، تــر لمــړي ســلام کــلام وروســته یــې د ورخطــایۍ پــه انــداز ســره کړل:

- چیرته یې؟

- فابریکه کې!

- تـا خـو وېـل چـې پـه فابریکـه کـې یـوه شـبکه هـم کـار نـه کـوي، اوس یـې ځنګـه وکړو او دا غږ دې ولې بدل دی؟ رښتیا ووایه څه کیسه ده؟

- هېڅ خبره نشته، ځه زه بیا زنګ درته وهم، اوس کار کې یم!

- نــه، څــه خبــره خــو حتمــاً شــته، د تیــرې جمعــې پــه ورځ دې هــم زنــګ ونکــړو، تــه او خــدای (ج) تــه او رســول (ص) کــه بــه هــېڅ رانــه پټــوې، رښــتیا، رښــتیا راته ووایه، څه شوي؟!

- د خــدای ج او رســول ص تــر نامــه قربــان شــم، چــې رښــتیا رابانــدې وایــې، بیــا نــو د الله ج رضــاء شــوې، اتــې مــې ټکــي پــه ټکــي د خپلــې نــاروغۍ، پاکســتان تــه د راتلــو او ډاکتــر د وروســتي ځــواب ورتــه ووېــل، پســې زیاتــه مــې کــړه: زمــا لخــوا نــور کیســه درخلاصــه شــوه، زه چــې پــه هــر لــوري ولاړم، ولاړم، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانســتان پــه نــوم بــدبختې خــاورې او د ظــالم کــور تــه بیــا پــه ژونــد نــه درځــم، ممکــن ستاســره مــې هــم همــدا وروســتۍ خبــرې شــي، کومــه کــم او زیاتــه کــه رانــه شــوې وي، ډېــره ډېــره بښــنه غــواړم، د هــر چاســره دې چــې دې چــې د راتلــونکي ژونــد جــوړول زړه غــواړي، پــه خــدای ج مــې ســپارلې یــې، زمــا دعــا دې درپســې وي، له الله ج نه د خوښیو او حسرتونو ډک ژوند درته غواړم!

نجلۍ د چیغو له ژړا سره په جړ غږ کړل:

- دعاګانې دې پرېږده فقط لنډ وایه، چې نن په زهرو ځان نه مړوې نو کله؟

دا چـــې زمـــا هـــم پـــه خپـــل مظلومیـــت د افســـوز زوررو چیغـــو ســـتونی ډک کـــړی و، د نور څه ویلو تاب مې نه لرلو، فقط تماس مې پسې ورقطع کړو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { پوهېږم چې خر دی }

ناګاهانـــه غـــرز شـــو؛ د دکړکیـــو شیشـــې پـــه شـــتاب وشـــرنګېدې نـــژدې وې راماـــتې شـــي، ور فـــوراً لـــه شـــاته دېوالـــل ســـره ولړېـــدو، چـــت کـــې غچـــا شـــوه، خـــړ ګـــرد پـــه غـــولي راپرېوتـــو، د بســـم الله ســـره ســـم مـــې راتـــرف کـــړل، لـــه کـــوټې راووتلـــم، لا پـــوه نـــه وم چـــې څـــه دي؟ حـــویلۍ کـــې مـــې پـــه خـــورا حیرانـــۍ هـــاخوا دېخـــوا ورخطـــا، ورخطـــا ســـترګې واړولـــې، چـــې کتـــل مـــې مـــوږ لـــه کورنـــه، څـــو کورنـــه هـــاخوا تـــور دودونـــه او دوړې هـــوا تـــه پورتـــه شـــوې پـــه عینـــي حالـــل کـــې دښـــځو او ماشـــومانو د چیغـــو غـــږ هـــم ورســـره جـــګ شـــو، زر واپـــس دهلېـــزه تـــه ننـــوتلم څپلـــۍ مـــې راپښـــو کـــړې، ورمنـــډه مـــې کـــړل، چـــې ومـــې لیـــدل، د الـــف کاکـــا پـــه دروازه کـــې یـــې نوځـــوان زوی پـــه وینـــو ســـور پـــور پـــه داســـې حالـــل کـــې چـــې نیمـــه تنـــه یـــې نـــه وه، تـــر موټرســـیکل لانـــدې پـــروت و، ددې ســـربېره هـــاخوا مالـــل ځـــای کـــې خـــر هـــم اګـــر چـــې لا ژونـــدی و؛ خـــو ســـترګې یـــې ســـپینې تښـــې وې، لغتې یې وهلې مرګ حال و.

راټولـــو کلیوالـــو لمـــړی موټرســـیکل پورتـــه کـــړو، وروســـته یـــې تـــرې لانـــدې دشـــاپور نیمـــه جســـد تـــر دروازه دننـــه پـــه ســـپاچه د کمپلـــې لـــه پاســـه کېښـــودو، لـــه جســـد کېښـــودو وروســـته جنـــت ګـــل ددک مـــخ راوړولـــو کـــړل یـــې: هلکـــانو! وګـــورئ شـــا او خـــوا چـــې غوښـــې بـــاد دي کمپلـــې تـــه یـــې راټـــولې یـــې کـــړئ، د امـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطــابق پــه غوښـــو ټولــو مــو پیــل وکــړو، لا مــو ټــولې نــه وې ټــولې کــړې چــې، الــف کاکــا د حنیــف دغــو د کــلا لــه کــونج ســره راواوښــتو کــه څــه هــم لــرې و، لمـړی سـم نـه پېژنـدل کېـدو، خـو چـې رالنـډ شـو الـف کاکـا و. پـه بـاغ کـې یـې د غـــرز غـــرې آورېـــدلی و، او همدســـې لـــه کـــور نـــه یـــې پورتـــه شـــوي، وهمنـــاک تـــور دودونـــه او دوړې لیـــدلې وې، لکـــه دســـترې مرغـــۍ وازه خولـــه یـــې نیـــولې وه، لویـه لویـه سـاه یـې اخېسـته، دپګـړۍ نـیم ولونـه یـې پـه سـر، نـیم یـې غـاړه کـې پراتــه و، یــو لاس یــې پــه تشــي نیــولی، بــل یــې پــه زنګانــه تکیــه کــوو، کوفــه کـــوف راوختلـــو ، لـــه ډېـــرې ســـترړیا، وېـــرې او ورخطـــایۍ یـــې د څـــه وېلـــو وس نـــه و، صـــرف زمـــورږ مـــنځ کـــې دتېرېـــدو پـــه حـــال یـــې لاس خوځولـــو، ګـــواکي چـــې څـــه شـــوي؟ څـــوک مـــړه دي؟ د الـــف کاکـــا ددې حـــال پـــه لېـــدو ســـره پـــه ولاړو کســـانو کـــې داســـې څـــوک پیدانشـــول څـــو خپـــل خفګـــان کنتـــرول او تســـلې ورکـــړي. کاکـــا یـــې د زوی بـــاد بـــاد غوښـــو او وینـــو تـــه حیـــران حیـــران وکتـــل، ورنـــدې تېـــر شـــو، تـــر دروازه ننوتلـــو پـــه ســـپاچه یـــې د شـــاپور پـــه نیمـــه جســـد ســـترګې ولګېـــدې، دجســـد ســـره ولاړ معلـــم صـــیب متـــین پـــرې راوړنـــدې شـــو الـــف کاکـــا یـــې تـــر مـــټ ونیـــوه، زر زر یـــې ورتـــه ووېـــل: نـــور دکـــور غـــړي دې جـــوړ او روغ دي، پېښـــه لـــه دروازې بهــر رامــنځ تــه شــوې، لــه بدمرغــه یــوازې شــاپور بېچــاره چــې پــه همــدې وخــت کــې راســېدلی و، لا لــه موټرســیکل نــه، نــه و، ښــکته چــې پېښــه رامــنځ تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـوه پکـې شـهيد شـوی. نـور هـاخوا مالـ ځـای کـې غـوا او خوسـی دې هـم جـوړ دي يوازې خره ته پارچې ورغلې مړ دی!

الـف کاکـا دمعلـم صـيب دخبـرو پـه اورېـدو سـره يـو ځـل بيـا پـه ولاړه سـاه نمنـاکې خـړې چـوغۍ چـوغۍ سـترګې دشـاپور پـه وينـو سـره ټـوټې ټـوټې نيمـه جسـد تـه ور واړولـې؛ جسـد تـه تـر کتلـو وروسـته واپـس راتـاو شـو لـه دروازې راووتلـو د مالـ ځـای پـه لـور ورکـوړ شـو، د اوږده غزېـدلي مـړه خـره تـر څنـګ کېناسـتو جـوړه لاسـونه يـې د خـره پـه اننګـي کېښـودل، غټـې غټـې سـلګۍ يـې کولې ځاځکی ځاځکی اوښکې يې د پوزې له سره پرې ور څڅېدلې.

ډاکتـر سـلطان غـږ وکـړو: سـړی راونيسـئ عصـبي تـوازن يـې لـه لاسـه ورکـړی، نـه پـوهېږي، چـې خـر کـوم شـو، زوی مـې کـوم شـو؟ سـليم؛ مسـعود او څـو نـورو ځوانـانو ور منـډه کـړل الـف کاکـا يـې تـر مټـو ونيـو راپورتـه يـې کـړو، د راپورتـه کېـدو سـره سـم الـف کاکـا ځـان وځنـډلو پـه قهـرجن شـان يـې دخلکـو لاسـونه لـه ځانـه ټېلـه کـړل، بيـا يـې پـه غريـو نيـولي، زنـدۍ آواز د بنـدو بنـدو خبـرو پـه کولـو سـره ووېـل: پـرې مېـږدئ پـوهېږم چـې خـر دی، پـه همـدې خـره مـې زړه درد کـوي، زه نـه ژاړم لـه ماسـره همکـاري، وفـا، خواخـوږي مـې يـې ژړوي، همـدا خـر و، چـې زنـدګي مـې پـرې راټولـه وه، لاس مـې پـرې سـپک و، دمـه مـې پـرې جـوړه وه، نـن بـه مـې دا ډېـره غټـه نمـک حرامـي او جفـا وي چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغـه چـا پـه ځـای چـې پـرې خـوار شـوای یـم، د درانـدو بـارونو سـربېره مـې، زه بـه يـې هـم پـه خپلـه شـاه لـه يـو ځـای نـه بـل ځـای تـه رسـولم، رارسـولم ايـا تاسـو مناسـب ګڼـئ؟ چـې اوس ددې نـه لاړ شـم، پـه هغـه چـا وژاړم چـې يـوه ورځ مـې ديــوې روپــۍ خيــر تــرې ونــه ليــدو، لا مــې د اوږو بــار و، د تنهــاکو لاســو مزدوري به مې يې دڅنو په غوړو تلله؟

لـه دې خبـرې وروسـته ډلـه خلکـو تـه پـه کتـو يـوه لحظـه دځـواب پـه اميـد چـپ ولاړ و.

دخلکـو لـه خـوا هېڅـا ځـواب ورمعلـوم نشـو، الـف کاکـا واپـس مـخ واړو، پـه يـو بـل قـدم وړانـدې تلـو سـره پـه خـره د شـاه لخـوا راتـاو شـو دمـلا دتيـر سـره يـې دپښــو پــه ســر کېناســتو، لمــړی يــې دواړه لاس بيــا يــې د دواړو لاســو تــرمنځ خپــل تنـدی دخـره پـه ګېـډه کېښـوه، پـه دې وخـت کـې زمـا مبايـل تـه دمشـعل زنــګ راغلــو مشــعل تــه د الــف کاکــا پــه دروازه کــې دلګېــدلي هــوان پــه کيســه، کيسـه کولـو کـې لـه صـحنې راووتلـم، خـدايزده اخېـر بـه خلکـو څـه ورسـره کـړي وي؟.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## { ته تکړه يې ماشاءالله }

ځنګـه چـې وايــې: لعـل پـه ايـرو کـې نـه پټېـږي، رښــتيا هــم همداسـې ده، چـا بـه ليــدلې وه، چانــه، خــو د شــغلي د ښــکلا انګېــزه تــر لــرې او نــژدې د هــر چـا تــر غــوږو رسـېدلې وه، همــدا و، چــې ډېــرى ځوانــانو د خپلــو ريبــارانو پــه ورلېږلــو ســره، خپلــه بخــت ازموينــه پــرې کــړې وه، مګــر نــاهيلي خــالي کچکــول تــرې راســتانه شــوي و، خــو هغــه چــې وايــي هوښــياره مرغــۍ پــه دوه لومــو کــې نښــلي، پــه دې هــم همداســې کيســه وشــوه، د مــارګير ميربــاب زوى جــان بــاب، البتــه لــه يــادولو دې پــاتې نــه وي، خپلــه مــارګير ميربــاب ډېــر ښــه ســړى و، خــو ښــځه يــې چنګــړزادې ډېــره ســپکه او لوچکــه ښــځه وه، زوى يــې جــان بــاب هــم خپلــې مورتــه شــوى و، فارســي زبــان يــو متــل کــوي چــې: "صــد پــدر خطــا، يــک مــادر خطــا" وقعــاً همداســې ده نمــوړى مادرخطــا و، هــر کــار يــې پــه چــل ول، دوکــه او خيانــت ولاړ و، د شــغلي پــه وړانــدې يــې هــم همداســې لــه لويــه دوکــې کــار واخيســتلو، د ايــران لــه شــنو مزدوريــو يــې ځــان راواچولــو پــه دولــس زره افغــانۍ يــې کابــل کــې د يــوه خصوصــي پوهنتــون د طــب د پــوهنځۍ دلمــړي سمســتر فــيس تحويــل کــړو، نــور نرغونــدې د معــالجوي طــب د پــوهنځۍ د محصــيل پــه صــفت لمــړي صــنف کــې کېناســتو، زده کــړې يــې پيــل کــړې، د څــه شــپو ورځــو تــر تېرېــدو وروســته، يــې ګلالــي د حــاجي طــاوس کاکــا لــور شــغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه ریبــاران ولېــږل، کــوم چــې نمــوړې پــه خپــل حســن دبــاور او غــرور لــه زوره مــور، پــلار او کــورنۍ تــه توصــیه کــړې وه: هرکلــه مــې چــې ریشــتې تــه ځــوک راتلــل پــه دروازه کــې پوښــتنه تــرې کــوئ، لــه ډاکتــر پرتــه بــل کــه د هــر مســلک او هــرې روتبــې هلــک ریبــاران و، لــه همغــه ځــای نــه یــې شــړې، مــا قســم کــړې چــې روغتیــا پــال ډاکتــر نــه وي بــل ســړی بــه راتــه ونــه وایــي چــې: یــو ګــلاس اوبــه راکړه!

خلاصــه ځنګــه مــې چــې وړانــدې یادونــه کــړې، شــغلي تــه بــه هســې هــم د تلوونکــو، او راتلوونکــو خواســتګارانو ګڼــه ګوڼــه وه، خــو لــه تاســو یــې ځــه پټــه، زمــا پــه شــملو د ډېرې کاکــه کاکــه ځوانــانو خواســګاران چــې اکثریــت بــه د هلــک مــور او پــلار و، پــه ډېــره بــې ابرویــۍ ســره یــې لــه دروزې شــړل، پــه همــدې لــړ کــې د پورتــه یــاد شــوي دوهفتیــي ډاکتــر جــان بــاب ریبــارانو هــم دروازه ور وټکولــه، نجلــۍ د خبــر تــر لاســه کولــو ســره، نجلــۍ هــاخوا دېخــوا د پوښــتنو پلټنــو پــه کولــو، ځــان اطمنــاني کــړو، چــې ربښــتیا هــم هلــک د طــب د پــوهنځۍ محصــل دی، پــه غالــب ګومــان یــې ببلــه شــکه ســبا بلــه ورځ بــه پــه ډاکتــرۍ ووځــي، ســپینه چپنــه بــه یــې پــه تــن وي، یــو ځــای بــه پــه دولتــي روغتــون او بــل ځــای بــه پــه شخصــي معاینــه خانــه کــې ناروغــان تــداوي کــوي، بنــډل بنــډل پیســې بــه اخلــي ددې نازونــه بــه پــرې وړي، یعنــې ټــاکلی شــرط او هیلــه یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــوره و، نــور يــې لــه چــون او چــرا پرتــه د ډاکتــر ريبــارانو تــه لبيــک ووېــل، لنــډه دا چــې دخپلــې نــامزادۍ ګــل يــې پــه لاس ورکــړو، ډاکتــر صــاحب چــې دخپلــو ريبــارانو لاس کــې د نمــوړې ښــاپيرزادې او پــه خپــل حســن مغــرورې نجلــۍ لــه خــوا د خپلــې نــامزادۍ ورتــه رااســتول شــوی ګــل ولېــدو، ســم دســتي يــې د الله اکبــر پــه نــارې ســره، لانــدې تــه ســاتلی پســه د ريبــارانو مــخ تــه راچپــه کــړو، چــاړه يــې پــرې کــش کــړه. څــه ســر مــو خــوږوم، يــاران دوســتان يــې راټــول کــړل، يــوه هفتــه يــې مســت آتڼونــه، نڅاګــانې وکــړې، لــه کــور نــه يــې د ســاز او ســرود يــو درز ختلــو، هفتــه وروســته کيســه کــرار کــرار ســړه شــوه يــاران دوســتان پــه خپلــو کورونــو شــول، ډاکتــر صــاحب هــم دخپــل مطلــب تــر لاســه کولــو وروســته د پــلان مطــابق واپــس د ايــران پنــډوکی وتــړو، کــړل يــې: د دوه مياشــتو لپــاره مــې رخصــت راخيســتی و، يــوه ځــاه مــې نيمــايي کــې پرېښــې، نــور نــو روان شــو، پوهنتــون مهنتــون ولاړو، کلــه چــې د حــاجي طــاوس خــان کاکــا نــازولې او ډاکتــر پســې اوبــه اوبــه لــورکۍ، دخپــل نــوي نــامزاد ډاکتــر صــاحب لــه ســفر نــه خبره شوه؛ ای هی نن په سر خاورې نه بادوې نو کله؟

لــه تاســو دې بيــا هــم پټــه نــه وي، د نومــوړې ډاکتــر ســره تــر نــامزادۍ لــه مخــه بــار بــار مــا د مســينجر لــه طريقــه زمــا ســره د ژونــد د ملګرتيــا جوړولــو هيلــه تــرې کــړې وه، پــه بــدل کــې مــې يــې د ډېــرو نــازونو او شــرطونو د منلــو ټټــر ورتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلـی و، مګـر ويـې نـه منلـه، دوهـم قـدم کـې مـې يـې مـور لـه دروازې ډېـره بـې خونـد راځـواب کـړې وه، نـو طبعـاً زړه مـې سـم ډک و، لـه همـدې طلايـي موقـع نـه پـه اسـتفاده، مـې يـې سـم دلاسـه يـو ځـل بيـا مسـېنجر پـانې تـه ورودنګـل، پکې ور وه مې ليکل:

- آغلــې شــغله جانــه دوه، درې مياشــتې وروســته مــې يــو وار بيــا ســلامونه او احترامــات قبــول کــړه! پــس لــه ســلامه، خبــر شــوم چــې ډاکتــر صــاحب دې ګوريخــت کــړې هاهاهــا صــبر جميــل درتــه غــواړم، خــو پــه غــم دې ځــان شــريک نه ګڼم هاهاها....دوهم مسيج کې مې ورولیکل:

- نــه مــې درتــه وېــل؟ چــې ګــوره پــه نــوم پســې مــه ځــه ولاکــه دې ســل ډاکتــران نــازولې رانــه وســاتی شــي! خــو ځــه ښــه شــو چــې د ډاکتــر ارمــان دې پــوره شــو هاهاها...

دريم کې مې ورولیکل:

- ماشــاءالله تــه تکــړه يــې قســم ده، کــه زه ســتا پــه ځــای وی، منــه وختــي بــه مــې د موږکو دوا نشجان کړې وه، هاهاها.... پای

ليکوال: محمدنعيم وردګ!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**